د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ټولنیزو علومو مرکز

# آریانا

## مجلۀ علمی - تحقیقی

په دې ګڼه کې:

- د مصنوعي ځیرکتیا...
- د افغانستان د سیاسي...
- په غزنوي دوره کې...
- بررسی تأثیر واحد تفتیش...
- په افغانستان کې د کورنۍ...

...



۳

- دوره پنجم
- ربع: سوم
- سال: ۱۴۰۴ هـ.ش.
- شماره مسلسل: ۴۵۸
- سال تأسیس: ۱۳۲۱ هـ.ش
- کابل - افغانستان

مجلۀ علمی - تحقیقی آریانا

شماره ۳، سال ۱۴۰۴ هـ.ش

# ARYANA

## Quarterly Journal

Establishment 1942
Academic Publication of
Afghanistan Science Academy
Serial No: 458

Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ټولنیزو علومو مرکز

# آریانا

مجلهٔ علمی- تحقیقی

اقتصاد، تاریخ و اتنوگرافی، حقوق و علوم سیاسی، روانشناسی و تعلیم و تربیه، ژورنالیزم، فلسفه و جامعه شناسی

مؤسس احمد علی کهزاد

سال تأسیس ۱۳۲۱ هـ . ش.

شماره مسلسل ۴۵۸

دوره پنجم

شماره ۳ سال ۱۴۰۴ هـ ش

**یادښتونه**

- مقاله دې په رسمي ډول له ځانګړي ادرس څخه د نوم، تخلص، علمـي رتبـې، د تیلفون شمېرې او ایمېل ادرس په ذکـر کولـو سره د علومـو اکـاډمۍ اداري تـه را واستول شي.
- را استول شوې مقاله بایـد علمـي، څېړنیـزه، بکـر او دعلمـي منـل شـوو معیـارونو مطابق وي.
- مقاله باید مخکې په بل ځای کې چاپ شوې نه وي.
- د مقالې سرلیک باید لنډ او له محتوا سره مطابقت ولري.
- مقاله باید د لنډیز لرونکې وي، ۸۰ څخه تر ۲۰۰ کلمـو وي او د اصـلي پوښـتنې ځواب ویوونکې وي چې مقاله هغې ته ځواب ویوونکې ده. همدارنګه لنـډیز بایـد د یونسکو له ژبو څخه په یوې ژباړل شوی وي.
- مقاله باید د سریزې، مبرمیت، هدف، د څېړنې د پوښتنې، د څېړنـې د تګـلارې، لاس ته راغلو پایلو او د منابعو د لړلیک لرونکې وي او هم پـه مـتن کـې منبـع تـه اشاره شوې وي.
- مقاله باید پرته د ټایپي تېروتنـو، د ژبـې د اصـولو د ټولـو نکـاتو پـه مراعتولـو او د موضـوعاتو پـه منطقـي تسلسـل سره د A٤ پـه یـو مخیـزې پـاڼې او د Word پـه پروګرام کې برابره شي.
- د مقالې حجم باید حد اقل ۷ او حـد اکـثر ۱۵ معیـاري پـاڼې وي، پـه ۱۳ فونـټ کې دې ټایپ شي، د سطرونو ترمنځ دې فاصله Single وي او کاپي دې د هارډ او سافټ په بڼه را واستول شي.
- د مجلې کتنپلاوی د رد، منلو او د مقالو د سمونو صلاحیت د علومو د اکـاډمۍ د نشراتو د لایحې په نظر کې نیولو سره لري.
- ارایه شوي تحلیلونه او نظرونه د څېړونکي او لیکـونکي پـورې اړه لـري او الزامـاً د اداري موقف پورې اړه نه لري.
- د نشر شوو مضامینو او مقالو د کاپي حق خوندي دی، یـواځې د مأخـذ پـه توګـه ترې په نشراتو کې ګټه اخیستل کېدلی شي.
- سپارل شوې مقاله بېرته نه مستردېږي.

- **یادداشت**

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به اداره اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالهٔ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدهٔ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نشده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصهٔ حد اقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، و گویای پرسشی اصلی باشد که مقاله در پی پاسخ دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان-های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان، تسلسل منطقی موضوعات در صفحهٔ یک رویه کاغذ A٤ در برنامهٔ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵صفحه معیاری بوده، با فونت ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را با در نظر داشت لایحهٔ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل ها و اندیشه های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می تواند.
- مقالهٔ وارده دوباره مسترد نمی گردد.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**ناشر:** ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان

**مدیر مسؤول:** عبدالباقی شهاب

**مهتمم:** عبدالباقی شهاب

**هیأت تحریر:**

- سرمحقق شیرعلی تزری
- سرمحقق عبدالجبار عابد
- څېړنوال محمد داود ناظم
- معاون سرمحقق غلام نبی حنیفی
- څېړندوی شیر حسن کمالزی

**دیزاین:** عبدالباقی شهاب

**محل چاپ:** مطبعه ستاره همت. کابل - افغانستان

**آدرس:** اکادمی علوم افغانستان، طره باز خان واټ،

کوچه شاه بوبوجان، شهرنو، کابل

**شمارهٔ تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)

**ایمیل ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** info@asa.gov.af

**ایمیل مدیریت مجله:** aryanajournal۷۷۷@gmail.com

**اشتراک سالانه:**

کابل: ۳۲۰ افغانی

ولایات: ۴۸۰ افغانی

- قیمت یک شماره در کابل: ۸۰ افغانی
- برای استادان و دانشمندان اکادمی علوم: ۷۰ افغانی
- برای محصلین و شاگردان مکاتب: ٤٠ افغانی
- برای سایر ادارات: ۸۰ افغانی

# د موضوعاتو لړليک


| شمېره | سرليک | ليکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱. | د مصنوعي ځيرکتيا... | څېړندوی عبدالقهار عزيزي | ۱ |
| ۲. | د افغانستان د سياسي... | څېړندوی وجيه الله ظهير | ۲٦ |
| ۳. | په غزنوي دوره کې... | څېړندوی ولي الله ارين او پوهنيار حکمت الله سايل | ٤۹ |
| ٤. | بررسی تأثير واحد تفتيش... | شيراحمد جوينده | ۷۲ |
| ٥. | په افغانستان کې د کورني... | څېړندوی شجاع الله امان | ۹۷ |
| ٦. | د شايعاتو په مخنيوي کې... | پوهنيار يحيی يعقوبي | ۱۱۸ |

څېړندوی عبدالقهار عزیزي

# د مصنوعي ځیرکتیا او د حقوقو متقابلې اړیکې

## پاتې برخه

### ۲- د خطر/بې پروایۍ ماډل

د مسؤولیت راجع کولو دا ماډل په انګلو-امریکایي حقوقو کې یو عمومي مکلفیت رامنځته کوي ترڅو له اټکل څخه د لوړ زیان د مخنیوي لەپاره اړینه پاملرنه وشي. دا ماډل د ارادې او تقصیر په ثبوت باندې ډېره نه لګوي، پر ځای یې دا ارزوي چې آیا یو عامل د خطرونو کمولو لەپاره اړین اقدامات کړي که څنګه. نو مسؤولیت هغه وخت راپیدا کیږي چې یو عامل د مناسبې پاملرنې په ترسره کولو بریالی نه شي او زیان رامنځته کړي، آن که د خطرونو په اړه له وړاندې څخه معلومات هم ونه لري. دا اصل د احتمالي مکلفیت ساحه تعریفوي او مسؤولیت یوازې هغه وخت راجع کېږي چې زیان په مناسب ډول اټکل شي. په پایله کې، دا ماډل د افرادو د ازادۍ او ټولنیز خوندیتوب ترمنځ د انډول په لټه کې دی ترڅو ډاډ حاصل کړي چې بې پروایي نه ده شوې.

په مصنوعي ځیرکتیا کې د دغه ماډل په تطبیق سره، حقوقي مسؤولیت د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبالو ماشینونو د جوړوونکو یا فعالوونکو پورې تړي. دلته دا څېړل کېږي چې آیا دوی د مصنوعي ځیرکتیا د سیسټمونو په واسطه رامنځته شوی زیان په مناسب ډول اټکل کړی که

ځنګه. د مثال په توګه، په ۲۰۱۸ز. کال په متحده ایالاتو کې د اوبر شرکت خپل‌چاري موټر ټکر وکړ. نوموړي موټر یو پلی کس ناسم تشخیص کړ او د هغه بایسکل یې موټر وګڼلو او بالاخره د مرګوني ټکر لامل شو. که څه هم جوړونکو دا مشخصه غلطي کېدای شوای نه وه اټکل کړې، مګر د ډریوري عادي شرایطو لاندې د غلطیو انواع یې اټکل کولی شول. لکه څرنګه چې یونګ له لیو څخه په نقل قول وایي: «د دغو ټکنالوجیو ایجادوونکي باید د هغې بې پروایي په تړاو مسؤول وګڼل شي چې د رامنځته کېدونکي زیان او غلطیو مخه یې نیول کېدای شوه.» (Yeung, Karen, ۲۰۱۹, p۵۹) د وخت په تېرېدو سره، د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونو د اټکل وړتیا لوړېږي، د خوندي فعالیت توقعات یې ډېرېږي او په دې سره دا توجیه لا ډیرېږي چې ایجادوونکي یې د بې پروایي په سبب مسؤول وګڼل شي. په هر حال، بیا هم اساسي پوښتنه پر ځای پاتې کېږي- چې آیا د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه دې باید د انساني چلوونکو د معیارونو له مخې د قضاوت تابع وګرځي یا دا چې د مطلق مکلفیت تابع دې شي؟ دا هغه پوښتنه ده چې په اروپایي حقوقو کې د تولیدي مکلفیت له ماډلونو سره مشابهت لري.

په دې حقوقي نظام کې د غفلت د نظریې په اساس انسان ته مسؤولیت راجع کېږي نه ماشین ته، ځکه انسان کولی شول چې د جوړولو پرمهال د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونو ته له حده ډېره پاملرنه وکړي او د زیان ټول اړخونه یې په پام کې ونیسي. د دې تیوري په اساس هم هغه کس چې مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه یې ایجاد کړي دي او هم هغه کس چې د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه پرمخ وړي، مسؤولیت ورته راجع کېدای شي.

په افغانستان کې د نافذه اصولو له مخې، یوازې د مصنوعي ځیرکتیا د سیستم سنبالوونکي یا څښتن ته د غفلت پر بنسټ مسؤولیت راجع کولی شو. ځکه نوموړی د یاد سیستم د کنټرول، چلولو او کارولو واک لري. د مجلة الاحکام العدلیه ۸۵ ماده کې فقهي قاعده د ګټې او تاوان ترمنځ اړیکو په اړه

وايي: « الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ.» (مجلة الاحكام العدلية: ۸۵ ماده) د دې فقهي قاعدې له مخې، ګټه په تاوان کېږي. يعنې که يو کس ته دې پيسې په مضاربت ورکړې، نو چې کله د ګټې تمه کوې، د تاوان په صورت کې به يې تاوان هم منې، يا د چا څاروی/موټر د خپل کار لپاره بوځې، وانښه او اوبه/تېل يې هم پر تا دي. دغه راز، د مجلة الاحكام د بلې مادې له مخې: «الْغُرْمُ بِالْغُنْمِ.» (مجلة الاحكام العدلية: ۸۷يمه ماده) يعنې ګټه له تاوان سره تړلې ده. په دې معنی، که څوک له يوې وسيلې يا مال څخه ګټه اخلي، د هغې له امله د پېښېدونکي تاوان مسؤوليت هم بايد پر غاړه واخلي. نو د پورته دواړو قواعدو له مخې ويلی شو چې که د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجي د يو چا له خوا کارول کېږي او زيان ورپيښ شي، نو د غفلت له مخې همدغه کس مسؤول ګڼل کېدای شي.

د پورته فقهي قواعدو سره ورته، په اروپايي هېوادونو کې د «تبعي مسؤوليت»[1] اصل دود شوی دی. د دغه اصل له مخې، يو کس د بل د اعمالو مسؤول دی، حتی که نوموړي کس هيڅ خطا هم نه وي کړي. د بېلګې په توګه، کارفرما کېدای شي چې د کارکوونکي له خوا د ترسره شوي زيان مسؤول وبلل شي، البته که دا عمل د دندې پرمهال رامنځته شوی وي.

په اروپا کې د غيرقراردادي مسؤوليت يا د تقصيري مسؤوليت[2] اوسني اصول د بل د اعمالو د مسؤول ګڼلو په تړاو سره وېشل شوي دي. ځينې د تابع عمل له کوم قيد او شرط پرته متبوع ته منسوبوي، يوازې همدومره کفايت کوي چې د تابع عمل د متبوع د هدايت مطابق و او وايي چې د متبوع د ګټې لپاره يې کار کاوه. ځينې بيا متبوع د تقصيري مسؤوليت له مخې په استثنايي حالاتو کې مسؤول بولي لکه هغه مهال چې تابع خطرناک وي يا دندې ته مناسب کس نه وي، يا هم ممکن متبوع يا کارفرما د ياد تابع د

---

[1] Vicarious liability
[2] Tort law

ګمارنې او څارنې په برخه کې تقصیر کړی وي. ځینې نور حقوقي سیستمونه شته چې له دواړو حالاتو استفاده کوي. ( European Commission, ۲۰۱۹, ۲٤p) دا ماډل د مطلق مسؤولیت له ډول سره یو څه نږدېوالی لري او په همدې خاطر ځینو هېوادونو کې یو شان ګڼل کېږي. مګر په مطلق مسؤولیت کې شخص د تقصیر له اثبات پرته د خپل عمل پړ ګڼل کېږي او دلته د بل شخص د عمل په وړاندې مسؤول ګڼل کېږي.

دلته د بحث مهم ټکی دا دی چې که یو انسان د خپل ترسره کړي عمل په تړاو مسؤول نه ګڼل کېږي، متبوع ته یې مسؤولیت راجع کېږي، نو ماشین چې هیڅ اراده او حس نه لري، څرنګه یې مسؤولیت مالک یا متبوع ته راجع نه کړل شي؟ ځکه عین کار چې انسان یې ترسره کوي، ماشین یې له هغه په ښه بڼه ترسره کولی شي او ترڅنګ یې انسان اراده  او عواطف هم  لري مګر مسؤولیت ورته نه راجع کېږي، نو فلهذا د مسؤولیت د تشې د مخنیوي لهپاره اړینه ده چې د مصنوعي ځیرکتیا د ماشین د مالک یا متبوع ته مسؤولیت راجع کړل شي.

په همدې ډول، د زیان رسېدو په صورت کې، د غفلت په سبب د مصنوعي ځیرکتیا د ټکنالوجۍ پرمخ وړونکی مسؤول ګڼلی شو. مګر د تولیدوونکي او جوړوونکي مسؤولیت، دا چې افغانستان پر هغوی واک نه لري او اصولي اسناد هم په دې اړه څه نه وایي، نو نه شو کولی چې د بېاحتیاطۍ یا غفلت په سبب جوړوونکي یا تولیدونکي ته مکلفیت او مسؤولیت راجع کړو، خو څښتن یا فعلي کاروونکي  یې په داخل کې د مسؤولیت له مخې قانوناً مکلف ګڼل کېدای شي. مګر بیا هم ستونزه شته او د خطاء د معیار تشخیص او دغه راز سنجول یې ستونزمن بریښي.

**۳- د مطلق مکلفیت ماډل**

د مطلق مکلفیت ماډل یا د «شدید حقوقي مکلفیت» ماډل په انګلو-امریکایي حقوقو کې په هغو قضیو باندې پلی کېږي چې د حقوقي مسؤولیت انتساب د

تقصیر له ثبوت پرته ترسره کېږي. د دې ماډل له مخې، له حقوقو څخه د سرغړونو مسؤولیت هغو کسانو ته متوجه دی چې د زیان لامل شوی، البته له ارادې او له حقوقي معیارونو سره د مطابقت له څېړلو پرته.

لکه څرنګه چې یونګ د کین (Cane) د تشخیص په اساس وایي، دا ډول مسؤولیت منسوبول په درې ډوله دی: «د مطلق مکلفیت درې ډولونه له یو بل سره تړلي دي: له حق سره تړلی مکلفیت، چې په قوانینو کې له تسجیل شویو حقوقو څخه هر ډول سرغړونه مسؤولیت زېږوي (لکه د بل په حق تېری) که نتیجه ولري او که نه؛ دوهم له نتیجې سره تړلی مکلفیت، چې له تقصیر څېړلو پرته هر ډول رامنځته شوی زیان مسؤولیت لري او دا معمولاً د تولیدي مکلفیت په قضیو کې پېښېږي؛ دریم له فعالیت سره تړلی مکلفیت، چې دلته مکلفیت په ځانګړو تنظیم شوو فعالیتونو کې له دخالت سره تړلی دی لکه د خطرناکو څیزونو کارول، داسې حالت کې له حق څخه تېری او نتیجه مهمه نه ده، بلکې که یو کس خطرناک څیز وکاروي، (لکه د ټوپک یا بلې وسیلې کارول د خطرناکو ژوو ساتل یا ورته نور)، دا ډول فعالیت د مسؤولیت باعث ګرځي پرته له دې چې نتیجه ولري او که نه». ( Yeung, Karen, ۲۰۱۹, p٦١) متضرر شخص ته د مطلق مکلفیت یا مسؤولیت ګټه څرګنده ده، ځکه د تخلف او د زیان ترمنځ د سببیت اړیکې  له اثبات خو لا پرېږده چې د مدعی علیه د ارتکابي عمل اثبات هم د ده په غاړه نه دی. ( European Commission, ۲۰۱۹, ۲٤p)

په ۲۰۱۸ز. کال کې د متحده ایالاتو د بې ډریوره موټر د ټکر په پېښه کې، دغه بې ډریوره موټر یو بایسکل چلوونکی کس له موټر سره اشتباه کړی و او غلطي د انساني ډریور له مداخلې څخه ډېر وروسته اصلاح کړه. دا قضیه له نتیجې سره د تړلي مطلق مسؤولیت په اړه پوښتنې راپیدا کوي، په ځانګړي ډول په دې اړه چې آیا نوموړی موټر له حقوقي پلوه ناقص دی که څنګه. که دا تقصیر په پام وړ عمل کې ناکامي وګڼل شي، نو سیستم خو بیا ناقص نه

ګڼل کېږي. په هر حال، که يو توليد د ټاکل شوي هدف لەپاره د مناسبوالي له لحاظه و ارزول شي، نو د پلي تلونکي يا بايسکل چلوونکي په تشخيص او د پېښې په مخنيوي کې ناکامي به خامخا تقصير ګڼل کېږي ( Yeung, Karen, ۲۰۱۹, p٦١). په همدې ډول د خطرناکو ژوو د ساتلو او خطرناکو څيزونو د کارولو له مربوطه مکلفيت سره ورته، اوبر[۳] ته مطلق مکلفيت راجع کولی شو، ځکه پرمخ وړونکي يې له داخلي خطرونو سره د مصنوعي ځيرکتيا سيستم د ځای پرځای کولو مسؤول دي. دا له هغو حقوقي اصولو سره هم مطابقت لري چې د لوړ خطر لرونکو ټکنالوجيو جوړونکو او ګټه اخيستونکو ته د راتلونکو احتمالي زيانونو مسؤوليت راجع کېږي.

د مطلق مکلفيت نظريې په اساس، که د مصنوعي ځيرکتيا په ټکنالوجۍ سنبال سيستم زيان رامنځته کړي، نو پرمخ وړونکی يې، پرته له دې چې تقصير ولري يا نه، مسؤول ګڼل کېږي. دا نظريه د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې ګټوره تماميږي ځکه د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجي د اټکل وړ نه ده او اټکل وړتيا نه لرونکو چارو لەپاره مناسبه تيوري ګڼل کېږي. مونږ کولی شو چې په افغانستان کې د مطلق يا شديد مکلفيت د تيورۍ په اساس په قوانينو کې تعديلات راولو او تقصير ته له کتو پرته مکلفيت په اساس د مصنوعي ځيرکتيا د ټکنالوجۍ سنبالوونکی او پرمخ وړونکی يا څښتن، د زيان رسولو مسؤول وګڼو. په دې سره د مسؤوليت تشه هواريږي او ترڅنګ يې دا چې څښتن يا پرمخ وړونکی هم په افغانستان کې دی، نو په اسانه وربانديې قانون تطبيقيږي.

### ۴. د جبري بيمې ماډل

د جبري بيمې ماډل، د مسؤوليت انتساب، د پرمختلليو ډيجيټلي ټکنالوجيو په واسطه د رامنځته شوي زيان د قربانيانو لەپاره د مالي خسارې په جبران باندې تمرکز لري. لکه څرنګه چې يونګ وايي: «دا تګلاره يا ماډل د مکلفيت

---

[۳] Uber

له‌پاره د مشخصو لوریو د په نښه کولو پر ځای «له تقصیر پرته» بیموي طرحې یا بسپنې له لارې د قرباني کس ملاتړ ته لومړیتوب ورکوي او ټولو زیانمنو ته د تقصیر له اثبات پرته د جبران لارې چارې برابروي.» (Yeung, Karen, ۲۰۱۹, p٦۲) دا سیستم د ټکنالوجیکي صنعتي کمپنیو د شریکې ونډې یا د دغو ټکنالوجیو د ډیزاین او تطبیق په چارو کې دخیلو کمپنیو باندې د جبرې بیمې مکلفیت وضع کوي او تنظیم یې یوې خپلواکې یا دولتي ادارې ته سپاري. دا ماډل د قربانیانو هغه خسارې هم جبرانوي چې په دقیق ډول یې د زیان د جبران مسؤول شرکت تشخیص نه شي یا دا چې اړوند کمپنۍ منحل شوې وي. د دې ماډل موخه د یوې داسې خوندي شبکې ایجادول دي چې ډاډ ترلاسه شي قربانیان د خسارو له جبران څخه نه پاتې کېږي او په ورته وخت کې په خپل‌چارو سیستمونو باندې د ټولنو تکیه مخ په ډېرېدو ده.

د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې د جبري بیمې ماډل د مکلفیت د عادي یا دودیزو لارو چارو د ناکامۍ په صورت کې د مسؤولیت د انتساب عملي حل لاره وړاندې کوي او په ځانګړي ډول د خپل‌چارو ځیرکو سیستمونو له‌پاره ډېره ګټوره ده. په دې سیستم کې په مصنوعي ټکنالوجۍ باندې د خلکو تکیه لا پسې ډېرېږي او «د مالکانو یا جوړوونکو د مړینې یا حقوقي شخصیت بایللو وروسته هم د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه خپل فعالیت ته دوام ورکولی شي» (Yeung, Karen, ۲۰۱۹, p٦۲) چې دې کار سره د مسؤولیت انتساب لا پسې پېچلی وي. د مصنوعي ځیرکتیا د ټکنالوجۍ ایجادوونکو شرکتونو باندې  د بیمې ډلییز صندوق یا د مکلفیت د جبري بیمې شرط یو شرکت ته د مسؤولیت انتساب پر ځای، په اغېزمن ډول د ټولو شرکتونو ترمنځ مسؤولیت وېشل کېږي. دا ماډل د قربانیانو له پاره په هغه حالت کې هم د خسارې جبران تضمینوي چې د زیان سرچینه معلومه نه وي یا مسؤول اړخ له منځه تللی وي. مګر له هغه ځایه چې بیمه د اسلام له نظره څه حکم لري، د دې مقالې د بحث موضوع نه ده، په دې برخه فقهي متخصصینو خپل نظریات

ورکړي دي، په یاد احکامو پوهېدو او د فقهي دریځ معلوملو لهپاره دې هلته مراجعه وشي.

د دې سربېره، یوه یادونه اړینه ده چې د مصنوعي ځیرکتیا ماشینونو ته په حقوقي شخصیت قایلېدل هم د بحث وړ موضوع ده ترڅو د خسارې د جبران بهیر لا پسې ساده شي. دا یوه نوښتي لاره ده چې د مصنوعي ځیرکتیا له لوري پر مخ وړنکو سناریوګانو کې مکلفیت تنظیمونې او ټینګار یې د انسان له تقصیر څخه د سیستم د خطراتو مدیریت لوري ته اوړي.

د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبالو سیستمونو ته د حقوقي شخصیت منل، د حقوقي شخصیت د تیورۍ په اساس دي. د دې نظریې له مخې، لکه څرنګه چې شرکتونه او مؤسسات د حقوقي شخصیت لرونکي دي، د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه هم باید د ورته حقوقي شخصیت لرونکي وي ترڅو مسؤولیت ورته په اسانه راجع کړل شي. په افغانستان کې په دې برخه کې قانوني خلاوې شته او اصولي اسناد په ټوله کې د مصنوعي ځیرکتیا په اړه احکام نه لري، پاتې خو لا هغه ته په حقوقي شخصیت قایلېدل. نو دې برخه کې د اصولي اسنادو تعدیل ته اړتیا ده. خو په ورته وخت کې د حقوقي شخصیت موضوع په نړیواله کچه هم لاینحل پاتې ده او په دې اړه اجماع نه ده رامنځته شوې.

**ب: د خپلچاریتوب ننګونه**

یوه مهمه ځانګړنه چې مصنوعي ځیرکتیا له نورو ټکنالوجیو څخه جلا کوي، د خپلچاریتوب ځانګړنه ده. ځیني سیستمونه له وړاندې فعال دي لکه د موټر خپلچارتوب. خپلچارتوب یعنې د انسان له مداخلې پرته له چاپیریال څخه زده‌کړه او د هغه په اساس فعالیت کول. دا ټکنالوجۍ مخ پر وده روانه ده او انساني ځواک ته اړتیا مخ په کمېدو ده. مصنوعي ځیرکتیا به په حقوقو کې د پام وړ تغییرات رامنځته کړي، ځکه حقوقي سیستمونه د خپلچارو ماشینونو د مخ په ډېرېدونکې هر اړخیزوالي او هر ځای شتونوالي سره د مبارزې په

حالت کې دي. مصنوعي ځیرکتیا د کارونو خپل‌چاریتوب سره له دې چې ګټه لري، مګر د حقوقو پر وړاندې یو لړ ستونزې ایجادوي چې دا ستونزې او ننګونې په لاندې ډول ځېړل کېږي.

**۱- د اټکل وړ نه وي**

د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبال سیستمونه په ځینو حالاتو کې د اټکل وړ نه وي. دا چاره د حقوقي چوکاټ د ایجاد پر وړاندې ستونزې رامنځته کوي. «مصنوعي ځیرکتیا په خپل‌چاري او داسې ډول کار کوي چې د اصلي پروګرام کوونکو له لوري یې هم اټکل نشي کېدای. دا د دې لامل کېږي چې په راتلونکي کې د مکلفیت یا د مسؤولیت د راجع کولو تشې رامنځته کړي.» (Scherer, M. U. ۲۰۱٦: ۳۵۹ p) د مصنوعي ځیرکتیا پروګرام کووونکي د پروګرام پر مهال یو ډول وړاندوینه کوي، مګر وروسته بیا دا وړاندوینه یا هم غلطه او یا هم اپوټه خیژي. د بېلګې په توګه، C-Path چې د سرطان مرض د پتالوجیکي ماشین د زده کړې یو پروګرام، دی. پتالوجیستانو لومړي سر کې فکر کړی و چې د سرطاني حجرو شاوخوا حمایوي انساجو (stroma) د اجزاوو پېژندل به د اصلي ټوموري حجرو له پېژندلو سره یو ځای کېدای شي د سرطان په تشخیص کې مرستندوی واقع شي. مګر د څېړنې په ترځ کې د «C-Path» ماشین وموندله چې د حمایوي انساجو مشخصاتو ته په کتو دا د سرطاني حجرو د تشخیص په پرتله د سینې سرطان په برخه کې غوره تشخیص کوونکې آله ده چې دا نتیجه عامه ذهنیت او د طبي نظریاتو اپوټه حیرانوونکې وه.» (Scherer, M. U. ۲۰۱٦: ۳٦۳- ۳٦٤ pp) دا ډول له اټکل څخه لیرېوالی، د حقوقو پر وړاندې ستونزه پېښولی شي. ځکه د وړاندوینې مطابق ورته اصول او مقررات جوړېږي، دا چې د هغو اصولو او مقرراتو د اټکلونو اپوټه، په بل ډول وړاندوینه وشي، نو ستونزې زېږولی شي.

نو که حقوقي سیستمونه وغواړي چې د مصنوعي ځیرکتیا د ځینو سیستمونو د زده کړې تجارب مرور کړي او له هغه ځایه چې دا سیستمونه د

اټکل وړ نه دي نو دا به هم نامناسبه وي چې د سیسټمونو له لوري رامنځته کېدونکو خسارو په اړه دې د هغوی ډیزاینران مسؤول وګڼل شي، قربانیان به د خسارې له جبران پرته په تش میدان پاتې شي. نو فلهذا د اټکل نه وړتیا به د حقوقي بهیر پر وړاندې یوه ننګونه راپېښه کړي.

**۲- عدم کنټرول**

د مصنوعي ځیرکتیا د خپلچاریتوب خاصیت، نه یوازې د اټکل نه وړتیا ستونزه ایجادوي، بلکې د کنټرول له لاسه ورکولو ستونزه هم رامنځته کوي. انسانان نشي کولی چې د پام وړ خپلواک پروګرام شوي ماشینونه کنټرول کړي. دې سره جوخت، کله د ځینو چارو له کبله د یادو ماشینونو کنټرول له لاسه ووځي لکه د ناسم عمل (malfunction)، د امنیتي مقرراتو د نقض او د ناسم پروګرام کولو له لارې. دا وروستی یې ډېر جدي دی، ځکه یو کس چې کله د مصنوعي ځیرکتیا د کوم ماشین پروګرام کوي، هلته یې ځینې فیچرونه ناسم داخل کړل، نو کنټرول له لاسه ووځي. کله چې له لاسه ووت، بیا بېرته ترلاسه کول یې ستونزمن دي. کنټرول له لاسه ورکول دوه ډوله دی: یو ځایي کنټرول بایلل، بل عمومي کنټرول بایلل. په لومړي هغه کې د مسؤول کس له لاسه د مصنوعي ځیرکتیا کنټرول له لاسه ووځي، خو یوه ډله نور کسان پرې واک لري. په دوهم هغه کې بیا د مصنوعي ځیرکتیا ماشین د هیڅ انسان په واک کې نه وي. لومړی کنټرول ځایي او دوهم بیا د پراخې کچې دی. خو لومړی هغه یې ستونزې زیاتې زېږولی شي، ځکه انسانان په نښه کولی شي.

خو د انسان په کنټرول سربېره، انسان ورسره اړیکه یا ورځخه خبر وي هم یو اپشن کېدای شي. داسې چې له ډیزاین کوونکو نیولي تر جوړونکي، پروګرام کوونکي او کاروونکي په ګډون ټول په کې دخیل کړل شي. داسې به د مسؤولیت انتساب اسانه وي او کس به معلوم شي چې څوک یې مسؤول دی. مګر دا هم ستونزمنه ده، ځکه د دغو ځلورګونو کسانو ترمنځ د کره او دقیق مسؤول تشخیص او پېژندل اسانه نه دي. «یعنې د انساني ضرر او زیان

په صورت کې څرګنده نه ده چې څوک دې مسؤولیت ومني، ډیزاین کوونکی، جوړوونکی، پروګرام کوونکی او که کاروونکی.» ( Karen Yeung, ۲۰۱۹, ٦٥ (p

یو شمېر عامه اداري، چې مصنوعي ځیرکتیا کاروي؛ له یو لړ ستونزو سره مخ کېږي. لومړنۍ هغه یې د کنټرول ده چې څنګه به کنټرول شي او دغه راز د اپلیکیشن د کار څرنګوالی دی. که څه هم په ځینو حالاتو کې د انسان لهپاره هم یو شمېر اداري چارې سختې وي او کله داسې هم کېږي چې د مصنوعي ځیرکتیا ماشینونه یې له انسانانو څخه په غوره ډول ترسره کوي. ځکه د انسانانو کارونه کله د تبعیض ښکار کېږي او همداسې د مصنوعي ځیرکتیا د ماشینونو هغه هم. په هر حال، که د مصنوعي ځیرکتیا سیستم په سم ډول پلی شي، نو د دې امکان شته چې عامه دولتي چارې په ښه ډول مدیریت کړي. خو دا سم ډول پلي کول یې په غوره اداري اصولو پورې تړلي دي، څومره چې د یوې اداري اصول مناسب وي، په هماغه اندازه دا ماشینونه هم سم کارونه ترسره کوي.

**ج- د خصوصي حریم او محرمیت ننګونه**

بله ستونزه د خصوصي حریم د ډېټا ده. په عامه اداره کې د مصنوعي ځیرکتیا کاروونکو ماشینونو لهپاره د دې حد ټاکل چې د ولس څومره او کوم ډول ډېټا دې باید راټوله شي، یوه ستونزه ګڼل کېږي. ځکه دلته د دولت له لوري د ډېټا راټولولو او خصوصي حریم یا محرمیت ترمنځ د توازن ساتل یوه پېچلې موضوع ده. دغه راز، د راټولولو ترڅنګ بله موضوع د یادې ډېټا کارول دي. دا هم یوه پېچلې موضوع ده. ځکه دولت ته د خصوصي افرادو د ډېټا له راټولولو وروسته د هغو د استعمال حد ټاکل اړین دي. د مثال په توګه، آیا دولت باید خلکو سره اړیکه ونیسي او ورته ووایي چې ډاکټر ته د مشخصو سیستمونو له لارې ولاړ شئ، یا دې هغو خلکو ته جوایز ورکړي چې چټک موټر نه چلوي. دا هغه برخې دي چې معلومات راټولولو او بیا کارولو ته اړتیا لري.

په داسې حال کې چې په اروپايي هېوادونو او نړيواله کچه يو لړ داسې اسناد رامنځته شوي دي چې د مصنوعي ځيرکتيا اړوند ستونزو په هواري کې يو څه گټور تمام شوي دي، خو بيا ټولې ستونزې او اندېښنې لا نه دي هوارې شوي.

يو مهم سند د اروپايي ټولنې د ډېټا ساتنې عمومي مقرراتو په نوم دی. دا قانون د مصنوعي ځيرکتيا لهپاره يو عمومي چوکاټ گڼل کېږي. خو په ټوليز ډول، د مصنوعي ځيرکتيا هر اپليکيشن بايد د اداري برخې له هر مشخص قانون سره په مطابقت کې ايجاد شي او چارې يې هم په همدې ترتيب مخکې لاړې شي. د بېلگې په توگه د اروپايي ټولنې د ډېټا ساتنې عمومي مقرراتو[٤] په ۲۲مه ماده کې راځي: «(۱) شخص دا حق لري چې يوازې د اټوماټيک کولو پر بنسټ پرېکړې تابع ونه گرځي... ۲)- » (د اروپايي ټولنې د ډېټا ساتنې عمومي مقررات: ۲۲مه ماده) دا ماده د ځينو بهيرونو د اټوماټيک کولو حالات په نظر کې نيسي چې که انسان مداخله ونهکړي نو کمپيوټر د خپلواکې پرېکړې صلاحيت نه لري. په ځينو نورو حالاتو کې د يو لړ چارو د ترسره کولو لهپاره اټوماټيک بهير ته د اړولو اجازه شته، چې د همدې مادې استثناءات دي لکه د قرارداد لهپاره ضروري پرېکړې، د قانون له خوا د اجازې د ورکولو او د شخص د خوښې په صورت کې کمپيوټر کولی شي چې خپلچارې پرېکړه وکړي. د دې سربېره، په مربوطه قانون کې بايد د اداري حقوقو يا عامه اداري نورې برخې هم تحليل شي، لکه له ونډه والو سره خبرې اترې او د فيصلو مکلفيت ته ورته موضوع گانې.

**د- مصنوعي ځيرکتيا او عامه اداره**

لکه د ژوند د نورو برخو په څېر، مصنوعي ځيرکتيا عمومي يا حکومتي چارواکو لهپاره هم گټې او تاوانونه لري. ولس غواړي چې دولتي يا حکومتي خدمات دې ساده، ارزانه او چټک وي. دا اصول د ښې اداري او حکومتولۍ

---

[٤] GDPR

په ملي او نړيوالو دواړه ډوله حقوقي اسنادو کې تسجيل شوي دي. د دغو اسنادو د غوښتنو پوره کولو او ورسره د مطابقت لهپاره يوه لاره د چارو اتوماتيک‌کول يا خپل‌چاريتوب دی. په دې سره د عامه ادارو چارې اتوماټ کېږي او ژر ترسره کېږي. د دې سربېره، په خپل‌چاريتوب سره اداري چارې چټکې، لا ډېرې اغېزمنې، په اسانه د لاسرسي وړ ګرځي او له کوره ترسره کېږي. تر ټولو مهمه يې دا چې د اداري فساد او له قدرت څخه ناوړه استفاده ورکې په کلي ډول له منځه ځي.

خو خپل‌چاريتوب به د څه شي په مرسته ترسره شي؟ دې پوښتنې ته ساده ځواب، مصنوعي ځيرکتيا ده. د مصنوعي ځيرکتيا په مرسته ټول اداري بهيرونه خپل‌چاري کېږي او د انسان مداخله ورکې کمه يا هيڅ ته رسيږي. د مصنوعي ځيرکتيا پر مټ بېلابېل ډوله ډېټا ترلاسه او په چټکۍ سره ورته رسېدنه کېږي. نو مصنوعي ځيرکتيا، د سختو او پېچلو کارونو د خپل‌چاريتوب وړتيا لري. دغه راز، مصنوعي ځيرکتيا د دې وړتيا لري چې د يوې غوره ادارې حقوقي او ټولنيز شرايط پوره کړي. د مثال په توګه، د مصنوعي ځيرکتيا يو اپليکشين د ماشومانو د پاملرنې ضرورتونه ارزوي. له ځينو څېړنو څخه جوته شوې ده چې دا اپليکيشن د انسانانو په واسطه له کېدونکې ارزونې څخه څو برابر معتبر دی.

په ورته وخت کې، په عامه اداره کې د مصنوعي ځيرکتيا سيسټمونو استعمالول سره له دې چې ګټه لري، پر وړاندې يې ځينې خنډونه هم شته. د مثال په توګه، په لويو ډېټاسيټونو[٥] کې د متقابلو اړيکو د رابرسېره  کولو خپل‌چاري، چې يوه ګټه ده، ځينې وختونه په تاوان بدليږي. همدارنګه، ځينې وختونه د اټکل وړ نه وي او کره دلايل نشي وړاندې کولی. نو ضرور نه ده چې متقابلې اړيکې دې د اصولي اړيکو په توګه تعبير شي. مثلاً، مصنوعي ځيرکتيا په پرېکړه کې د تبعيض په اړه مبالغه کوي. يعنې که د مصنوعي

[٥] datasets

ځيرکتيا مخکې سيسټمونو کې غلطۍ وي، دا به د مصنوعي ځيرکتيا سيسټمونو ته هم را انتقال شي. په داسې حالت کې د مصنوعي ځيرکتيا سيسټم يادې غلطۍ تکراروي او حتی ځيني وختونه يې لاپسې غټوي. له همدې کبله، تر ټولو قوي ماډلونه، پېچلتيا لا پسې ډېروي او په پايله کې د تبعيض او غلطيو خطرات بې تشخيصه پاتې کېږي. په همدې ډول، د مصنوعي ځيرکتيا په پرېکړو کې د شفافيت نه شتون، د دغو چارو مناسبوالی ترپوښتنې لاندې راولي چې د اداري حقوقو او عامه ادارې له نظره ډېر اهميت لري. يعنې د پرېکړو د شفافيت او عادلانه والي په اړه يې تضمين نه شي کېدای.

**هـ- مصنوعي ځيرکتيا او ځواب وينه**

د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې د ستونزو په دوام په دغو سيسټمونو کې د انسان لږ يا هيڅ نه ګډون دی. په دې معنی چې د انسان نه شتون ورکې د مسؤوليت نه منلو ته لاره هواروي. يعنې کله چې انساني ځواک په مصنوعي ځيرکتيا کې د عامه ادارې په برخه کې مداخله ونه کړي، يادو چارو کې د زيان په صورت کې مسؤول پيدا کول ستونزمن ګرځي. که د عامه ادارې په برخه کې مسؤوليت د بېلګې په توګه راواخلو، د مصنوعي ځيرکتيا يو اپليکيشن د سيلاب او خوړ راوتلو په اړه ناسم خبرداری خپور کړی دی چې په ترڅ کې يو شمېر خلک مړه او کورونه يې تباه شوي دي. په داسې حالت کې د ناسمې خبرتيا خپرولو مسؤوليت چا ته ورګرځي؟ دا هغه پوښتنه ده چې لا تراوسه حل شوې نه ده . د توليدي مسؤوليت په چوکاټ جوړونکو ته مسؤوليت نه راجع کېږي، ځکه هغوی سيسټم جوړ کړی او دا سيسټم له چاپيريال څخه د زده‌کړې په سبب خپل‌چارې پرېکړې کوي. د فعالوونکو او څښتنانو مسؤوليت موضوع عملي کېدل هم ستونزمن دي، ځکه دا سيسټمونه له فعالېدو وروسته خپل‌چاري شوي دي او د هغوی له تشخيص او پرېکړې پرته يې تصميم نيولی دی، نو ځکه ورته مکلفيت نه راجع کېږي.

ځینې ضمني بحثونه شته، خو د مسؤولیت تشه په دریمو هېوادونو کې لا هم پر ځای ده او د تولیدي مسؤولیت د تطبیق امکان بیخي لږ دی. عین ستونزه په افغانستان کې هم شته او د ځواب‌ویلو د برخې ستونزه په خپل ځای پاتې ده چې هېڅ ډول کار ورته نه دی شوی.

**و- د معنوي ملکیت حقوقو په برخه کې د مصنوعي ځیرکتیا ننګونې**

له هغه ځایه چې دا سیستم خپلچاری دی، له چاپیریال سره خپله ځان عیاروي، نو پوښتنه دا پیدا کېږي که د مصنوعي ځیرکتیا سیستم د معنوي ملکیت په برخه کې کشف یا اختراع ترسره کړي، د داسې کشف یا اختراع مالک به څوک ګڼل کېږي؟ له هغه ځایه چې د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه حقوقي شخصیتونه نه بلل کېږي، نو هغوی ته په مستقیم ډول د اختراع یا کشف مالکیت منسوبول هم له امکان څخه لیرې خبره ده. بل لوري ته، که دا امتیاز د مصنوعي ځیرکتیا جوړونکو یا مالکینو ته منسوب کړو، له هغه ځایه چې دوی په داسې یوه اختراع یا کشف کې هیڅ رول نه دی لوبولی، نو په هیڅ کار ورته دومره لوی امتیاز ورکول له اصولي پلوه او د عدالت مقتضیاتو په بناء مناسب عمل نه دی.

دا ستونزه او ننګونه، سره له دې چې د امتیاز منسوبول ستونزمن ګرځوي، د حقوقو له لوري هغه مکلفیتونه او امتیازات چې مخترعینو یا کاشفانو ته په پام کې نیول شوي دي، تطبیق یې له ستونزو سره مخ کوي. یعنې د دغو مکلفیتونو تطبیق او د حقوقو ورکړه به معلقه پاتې وي.

د دې سربېره، د کاپي رایټ یا د معنوي ملکیت له حقوقو څخه د سرغړونې په صورت کې هم یاد سیستم ته مجازات ورکول عملي نه بریښي. د تولیدي مکلفیت په اساس باید ایجادوونکي ته مسؤولیت راجع شي، مګر دا سیستم خپلچاری شوی او په دې ډول ورته مسؤولیت راجع کېدای نه شي. که د کاروونکي مسؤولیت راپورته کړو، کاروونکی طبعاً چې استدلال کوي چې دغه شخص خپله دا کار نه دی ترسره کړی. فلهذا د مسؤولیت راجع‌کولو ستونزه پر

ځای پاتې ده. پورته بحث په هغو ننګونو ور ټول و چې د مصنوعي ځیرکتیا له لوري په حقوقي برخه کې رامنځته شوې دي. د دې سربېره، له ننګونې او فرصت دواړو سره یوه بله نږدې موضوع د بیلګه‌ییز اصولي سیستم ایجاد دی چې په لاندې سرلیکونو کې تر بحث لاندې نیول کېږي.

## ز- په بېلګه‌ییزو حقوقو کې د مصنوعي ځیرکتیا کارول[٦]

د افغانستان قوانین له قضاتو او د عدلي او قضایي برخې متخصصینو او د اړوند مسلک له کارکوونکو او حتی عادي افرادو سره موجود دي. ځینې قوانین په یوه ټولګه کې راټول شوي او ځینې نور بیا په جلا جلا او خپاره ډول د خلکو د لاسرسي وړ دي. دا لاسرسی هم په فزیکي ډول دی او هم د عدلیې وزارت د وېبپاڼې له لارې ممکن دی. که د حقوقي برخې له یو متخصص څخه د مربوطه قانون په اړه پوښتنه وشي، یا له مدافع وکیل څخه وپوښتل شي، نو نوموړی یې درته ځوابوي او د موضوع په اړه درته خپل نظر او حل لاره هم وایي. خو دلته پوښتنه دا ده چې ځینې ماشینونه ممکن داسې وروزل شي چې ټول افغاني قوانین ورکې داخل کړل شي او نه یوازې متن ورکړل شي، د متن اړوند پوهاوی او استدلال هم ور زده کړل شي. په داسې حال کې، که یو حقوقي متخصص له یاد ماشین څخه کومه حقوقي پوښتنه وکړي، بیخي مستدلل ځواب به ترلاسه کړي، حتی که کوم عادي او غیرمسلکي کس هم ورڅخه پوښتنه وکړي، موضوع به ورته تحلیل او د اړتیا په صورت کې یې ژباړه هم ورته وړاندې کولی شي. ځواب به یې جامع هم وي او د مثالونو لرونکی به هم وي. د قوانینو په معلوماتو سنبال د مصنوعي ځیرکتیا دا ماشین به حقوقي استدلال وکړي او د مشخصو وقایعو نتایج به هم وړاندیز کړي چې آن د حقوقي برخې متخصصینو ته به ګټور وي. بالاخره، دا ډول ماشین به د قوانینو د برخې ابهامات او تناقضات هم درته په ګوته کړي چې د قوانینو د خلا ډکولو له‌پاره اساسي نقاط دي. همدا د بېلګه ییز قانون مفهوم تشکیلوي.

[٦] Using AI in Model Law

اوس مهال انسان په دې هڅه کې دی چې چاپ شوي قوانين، ډيجيټل کړي. يعنې په دې وتوانيږي چې عين متن، لکه څنګه چې په کتابي بڼه کې کتلی شي، همدغه ډول يې په کمپيوټر کې هم د سکرين پرمخ وګوري او مطالعه يې کړي، کمپيوټر يې پرمټ استدلا ل وکړي او په اړه يې حقوقي پېچلې مسئلې هوارې کړي. ولې دا طريقه د مصنوعي ځيرکتيا لهپاره صدق نه کوي. په مصنوعي ځيرکتيا کې د قوانينو متون او مفاهيم داسې بڼې ته بدلول دي چې کمپيوټري ماشين يې ولوستلی شي، ورباندې پوه شي، تشخيص يې کړي، درک يې کړي او بالاخره يې په اړه زمونږ پوښتنې په داسې استدلالي بڼه راته ځواب کړي، لکه څنګه چې يې انسان کوي. کمپيوټر د انسان په څېر تفکر نه لري او نه شي کولای وقايع په داسې ډول درک او بيا تحليل کړي. کمپيوټر او د مصنوعي ځيرکتيا نور ماشينونه الګوريتمي فارمولونه کاروي او له دې لارې محاسبه کوي. دا موضوع په لاندې مثال کې ښه واضح کولی شو:

د بېلګې په توګه، خيار عيب په افغاني قوانينو او فقه کې شته. که فرض کړو داسې يوه ماده وي: «مشتري بايد د مبيعې د عيوبو په اړه په دوو کلونو کې بايع ته خبر ورکړي. که مشتري په دوو کلونو کې بايع ته د توکو د عيب په اړه خبر ورنکړ، نو د هغه د ادعا حق ساقطيږي، مګر دا چې په ضمانت خطونو يا ورته نورو اسنادو کې بل ډول وضاحت وي» دا يوه فرضي ماده ده. دا بڼه بايد مصنوعي ځيرکتيا ماشين ته د اړولو لهپاره لومړی الګوريتمي شي او بيا د مصنوعي ځيرکتيا ماشين ته داخله شي. د دې طريقه دا ده چې د «هو» او «نه» په څېر پوښتنې يې په اړه جوړوو. لکه: آيا مشتري بايع ته د توکو د عيب په اړه خبر ورکړی دی؟ هو يا نه. آيا نوموړی خبر داسې وخت ورکړل شوی چې مشتري ته د توکو د رسېدو له نېټې وروسته ترې دوه کلونه تېر شوي و؟ هو يا نه. آيا داسې کوم ضمانت يا ورته سند شته چې د بايع مکلفيت له دوو کلونو څخه زياتوي؟ «هو» يا «نه». د دغو پوښتنو ځوابونه به د حقوقي قضيې

له‌پاره تاسو ته ځواب درکړي. د مثال په توګه، د د دوهمې پوښتنې ځواب «هو» دی یعنې خبر ورکول له دوو کالو تېرېدو وروسته شوی دی. دغه راز، دریمې پوښتنې ځواب «نه» دی، یعنې داسې کوم ضمانت خط نشته چې ښیي د بایع مکلفیت له دوو کلونو څخه غځېږي، نو ځواب به دا وي: «مشتري د خپلې ادعا حق له لاسه ورکړی دی». د مصنوعي ځیرکتیا ماشینونه د حقوقي پوښتنو د ځوابونو په برخه کې په داسې ډول له الګوریتمي محاسبو څخه په ګټه اخیستو، انسانانو ته د استدلال له لارې ځواب ورکوي.

د ماشین د لوستلو وړ قانون (Law-as-Computation) یوه مفکوره ده چې د لیبنیځ (Leibniz) له عقایدو نه سرچینه اخلي. نوموړی باوري و چې د اخلاقو او قانون تر ټولو ستونزمنې پوښتنې هم د یوه مناسب کمپیوټري سیستم له لارې حل کېدای شي. دا خوب ښایي اوس د مصنوعي ځیرکتیا او ماشیني زده‌کړې له پرمختګ سره رښتیا شي.

دا نظریه یو لړ ګټې هم لري، لکه د قاضیانو د ټاکل کېدو په صورت کې د بې‌عدالتۍ مخنیوی، یعنې که قاضیان نا اهل وي، نو بې عدالتي به ډېره وي. همداراز، که د قانون تفسیر د مقننه ځواک له لوري وشي، نو قانون به لا ډېره تقنیني بڼه خپله کړي او د خلکو باور به وربانډې لوړ شي.

خو که د قانون اجراء کول په بشپړ ډول اتوماتیک شي او انسانانو ته په پرېکړه کولو کې واک ورنه‌کړل شي، دا به لویې ستونزې وزېږوي. همداراز، د محاکمې په پړاو کې باید د انسان، قاضي انسان ګډون اړین وي، ځکه ماشینونه د انسان له احساساتو، ارزښتونو او د ژوندانه له تجربو سره بلد نه دي. دا به د خلکو پر اذهانو منفي اغېز وکړي چې ګواکې د دوی خبرې په ریښتیني ډول نه اورېدل کیږي.

په پای کې، دا بدلونونه به په لنډ مهال کې بشپړ نه شي او د دې بهیر پرمختګ به له ډېرو حقوقي پوښتنو سره مل وي، چې قانون پوهان او حقوق

پوهان به وربانديې کلونه بحث کوي. د ماشين د لوستلو وړ قانون نه حتمي او نه هم لازماً غوره دی، بلکې دا يوه موضوع ده چې بايد په پاملرنې سره و ارزول شي او لا ډېر کار ته اړتيا لري.

مصنوعي ځيرکتيا په تقنيني برخه کې هم اغېزمنه ثابتېدای شي. تقنين يا د قوانينو او اصولو رامنځته کول، د انسانانو او خصوصاً د حقوقي متخصصينو کار دی. مصنوعي ځيرکتيا هم دې برخه کې خورا ګټوره ثابتېدای شي. د مصنوعي ځيرکتيا ماشينونه د انټرنټ په مرسته د بېلابېلو حقوقي چوکاټونو ترمنځ اړيکې رامنځته کوي. له مختلفو منابعو څخه استفاده کوي، دا منابع سره توحيدوي او مونږ ته زمونږ د پوښتنې مطابق ځواب، د اصولو په بڼه راکوي.

د دې سربېره، مصنوعي ځيرکتيا له قضاتو سره هم مرسته کوي ترڅو پرېکړه وکړي او عادلانه پرېکړه وکړي. په دې برخه کې قضاتو ته داسې مواد ورکوي چې قضات لا ډېر احتياط وکړي. مصنوعي ځيرکتيا موجوده حقوقي متن را اخلي او زمونږ د پوښتنو په اړه راته کره او دقيقه پايله راکوي. مصنوعي ځيرکتيا بالاخره د دې وړ ګرځي چې انسان ته د حقوقي برخې د متن په تحليل سره کره ځواب ورکړي. دا ځواب به يې لا پسې جامع، مناسب او شفاف وي، خو دا په هغه حالت کې چې د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونه نه يوازې د ايجاد بلکې د تطبيق پرمهال هم په سم ډول وڅارل شي.

**پايله**

زمونږ فکرونه په کيسو او فلمونو کې د روباټونو د شتون له کبله خطاء ايستل شوي دي. نو مونږ انساني وړتيا لکه ځيرکتيا او ادراکي استدلال دغو ماشينونو ته منسوبوو. که څه هم تر نن ورځې پورې داسې سيستم نه دی جوړ شوی چې يادې وړتياوې ولري. په تېرو څو لسيزو کې د مصنوعي ځيرکتيا، ماشين زده کړې او روباټيکي څېړنو په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي، مګر داسې ماشين لا هم نشته چې د انسان په څېر ځيرکتيا ولري يا د

انسان په څېر استدلال وکړی شي. په هر حال، د دې مقالې په ترڅ یو لړ پایلو ته رسیدلي یو چې په لاندې ډول یې لنډیز لیکو.

۱- کوم کس چې د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبال روباټونه کاروي او دا ټکنالوجي نورو ته د زیان د اړولو احتمال هم نه لري چې په خپل سر خلک زیانمن کړي، نو داسې کس د غفلت د تیورۍ په اساس مسؤول کېدای شي او له یاد فعالیت څخه راولاړ شوي زیان په اړه د افغانستان حقوقي سیستم هم احکام ایجادولی شي.

۲- د مصنوعي ځیرکتیا د ټکنالوجۍ چلوونکی دې د هغه د څښتن په نسبت په تخنیکي برخه کې د ډېر واک او کنټرول لرلو په صورت کې مسؤول ګڼل کیدای شي. دا په لومړي پړاو کې د تشخیص وړ ده چې اصلي چلوونکی کس تشخیصیږي. په دې سره هغه اندېښنه ختمیږي چې ګواکې د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبالو سیستمونو ته دې په حقوقي شخصیت قایل شي.

۳- که یو کس د مصنوعي ځیرکتیا داسې ټکنالوجي کاروي چې نورو ته زیات زیان نه متوجه کوي، بیا هم د یادې ټکنالوجۍ د استعمال، ټاکنې، پرمخ وړلو او څارنې په برخه کې د مقرراتو تابع دی او د تقصیر په صورت کې ورته مسؤولیت راجع کېږي چې د افغانستان اصولي سیستم په دې اړه وضاحت نه لري خو دا یوه لاره ده.

۴- که یو شخص د مصنوعي ځیرکتیا داسې ټکنالوجي کاروي چې تر یوې کچې پورې خپل‌چارې وي، د هغه زیان په وړاندې مسؤولیت لري چې د انساني تقصیر په سبب واقع شوی دی.

۵- تولیدوونکي د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبالو وسایلو له خرابوالي څخه د راپیدا شوو خسارو مسؤول دي، حتی که دا زیان د یادو توکو له بازار ته عرضه کولو څخه وروسته هم رامنځته شوی وي. دې کار سره جوړونکي او تولیدونکي لا ډېر احتیاط ته مجبوریږي. دا چاره د تولید او د غفلت د نظریې

په اساس ده، خو افغانستان کې يې تطبيق ستونزمن دی، ځکه له بهر سره د افغانستان دا ډول تعامل تراوسه نه دی موجود.

٦- د قرباني کس د ډيټا له منځه تلل د زيان او د خسارې د ورکړې قابل دی. کله چې دا اصل وګڼل شي، نو د مسؤوليت يوه لاره خامخا پيدا کېږي هغه که د مطلق مکلفيت د نظريې په اساس وي يا د غفلت د نظريې په اساس.

٧- د اسلامي فقهې په اساس، په افغانستان کې د مسؤوليت موضوع يوازې د مصنوعي ځيرکتيا چلوونکو يا څښتنانو ته راجع کېدای شي. ځکه په فقه کې د ضرر په نفې کولو ډېر تمرکز شوی دی او هر څوک چې د مصنوعي ځيرکتيا له کوم سيستم څخه ګټه اخلي، د ګټې اخيستلو له کبله د زيان په صورت کې هم د خسارې جبران ورته راجع کېدای شي.

٨- د مسؤوليت د انتساب لهپاره په انګلو-امريکايي حقوقي سيستم کې څلور ماډلونه يا لارې چارې موجودې دي چې ځينې په افغانستان کې هم کار ورکولی شي. د بېلګې په توګه، د غفلت يا مطلق لاره چې هم يې کاروونکي افغانستان کې دي او هم په اسانه د محاکمې بهير ته حاضرېدای شي.

٩- د معنوي ملکيت په تړاو، د مصنوعي ځيرکتيا د سيسټمونو له لوري اختراع او کشف ترسره کول، د امتياز او حقوقو تصاحب کېدو لامل نه ګرځي او نه هم د کاپي رايټ له حق څخه د سرغړونې  په صورت کې ورباندې مجازات تطبيقېدای شي.

١٠- په افغانستان کې د مصنوعي ځيرکتيا په ټکنالوجۍ سنبالو سيسټمونو له لوري د محرميت او خصوصي حريم د نقض موضوع لا هم په قوانينو کې ځای پر ځای شوې نه ده او دې لهپاره شته اصولي سندونه ځوابويونکي نه دي.

**وړانديزونه**

د څېړنې په ترڅ کې د افغانستان د اصولي اسنادو د تشې ډکولو او د نيمګړتياوو د رفع‌کولو په خاطر د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت، د عدليې وزارت او سترې محکمې ته لاندې وړانديزونه کوم:

۱- د مصنوعي ځيرکتيا د تنظيم يو قانون دې رامنځته شي. د نورو برخو له‌پاره لکه د معنوي ملکيت، جزا او مدني برخه کې د مسؤوليت د ارجاع له‌پاره د مقرراتو ايجاد او د بېلګه‌ييزو اصولي اسنادو ايجاد ته هم اړتيا ليدل کېږي. د دې سربېره، د خصوصي حريم او محرميت موضوعات دې ورسره په يو تقنيني سند کې ځاى شي او يا دې ورته جلا تقنيني سند رامنځته شي.

۲- يوه اداره دې رامنځته شي او د مصنوعي ځيرکتيا د پروګرامونو د خونديتوب تأييد او د هغوى د ځواک محدودولو صلاحيت دې ولري. د رامنځته کېدونکې خسارې جبران دې هم مشخص شي. دغه راز، د جبران د برخې مکلفيت دې په ډېرو اړخونو سره د مسؤوليت په اندازه تقسيم شي. ايجادوونکي، توزيع کوونکي، پلورونکي يا فعالوونکي دې ټول ورکې دخيل وي. اداره دې د دا ډول پروګرامونو فعاليت له وړاندې څخه وګوري او د تأييد يا د نه تأييد صلاحيت دې وکاروي.

۳- له هغه ځايه چې مصنوعي ځيرکتيا د پراخې کچې تخنيکي ساحه ده، تقنيني کارپوهان د دغې ټکنالوجۍ له لوري پېښېدونکي خطرونه نه شي معلومولی. دا کار د مصنوعي ځيرکتيا متخصصين کولی شي او دې برخه کې د دواړو برخو د متخصصينو همغږي اړينه ده.

۴- که ممکنه وي، د مصنوعي ځيرکتيا ماشينونو ته دې په حقوقي شخصيت قايلېدو مخه ونيول شي ځکه دې کار سره له حقيقي افرادو څخه مسؤوليت رفع کېږي او له حقيقي افرادو څخه د مسؤوليت رفع کېدل، له مسؤوليت څخه تېښتې ته لاره هواروي.

۵- د عامه پوهاوي زياتول او حقوقپوهانو روزل ترڅو د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې د حقوقي چوکاټونو ايجاد سره مرسته وکړي.

**مأخذونه**


١ـ الدولة العثمانية. مجلة الأحكام العدلية، المطبعة الرسمية: استانبول ، ١٢٩٣هـ/ق.

٢ـ اطلاعات روز، (بې‌تا) «مصنوعي ځيرکتيا، د انسان رقيب که ملګرى»، پته: https://www.etilaatroz.com/ps/٢٠٢٦٣?tztc=١ [د لاسرسي نېټه: ١۴٠۴/ ثور/ ١۵]

٣- Scherer, Matthew U. "Regulating Artificial Intelligence Systems: Risks, Challenges, Competencies, and Strategies." *Harvard Journal of Law & Technology* ٢٩, no. ٢ (Spring ٢٠١٦). Available at SSRN: https://ssrn.com/abstract=٢٦٠٩٧٧٧ or http://dx.doi.org/١٠,٢١٣٩/ssrn.٢٦٠٩٧٧٧.

٤- European Commission. *Liability for Artificial Intelligence and Other Emerging Digital Technologies*. Brussels: European Commission, ٢٠١٩. Available at: https://op.europa.eu/en/publication-detail/-/publication/١c٥e٣٠be-١١٩٧-١١ea-٨c١f-٠١aa٧٥ed٧١a١/language-en [Accessed ٢٥ December ٢٠٢٤].

٥- McDermid, John. "Autonomous Cars: Five Reasons They Still Aren't on Our Roads." *The Conversation*, ٧ August ٢٠٢٠. Available at: https://theconversation.com/autonomous-cars-five-reasons-they-still-arent-on-our-roads-١٤٣٣١٦ [Accessed ٢٠ January ٢٠٢٥].

٦- Yeung, Karen. *Responsibility and AI*. Council of Europe Study DGI(٢٠١٩)٠٣. Strasbourg: Council of Europe, ٢٠١٩. https://rm.coe.int/responsability-and-ai-en/١٦٨٠٩٧d٩c٥. [Accessed ٥ February ٢٠٢٥].

٧- International Committee of the Red Cross (ICRC). *Autonomous Weapon Systems: Technical, Military, Legal and Humanitarian Aspects. Report of Expert Meeting, Geneva, ٢٦–٢٨ March ٢٠١٤*. Geneva: ICRC, ٢٠١٤. https://www.icrc.org/eng/assets/files/٢٠١٤/expert-meeting-autonomous-weapons-icrc-report-٢٠١٤-٠٥-٠٩.pdf. [Accessed ٣ December ٢٠٢٤].

٨- European Union. *Regulation (EU) ٢٠١٦/٦٧٩ of the European Parliament and of the Council of ٢٧ April ٢٠١٦ on the Protection of Natural Persons with Regard to the Processing of Personal Data and on the Free Movement of Such Data (General Data Protection Regulation). Official Journal of the European Union* L ١١٩ (May ٤, ٢٠١٦): ١–٨٨. https://eur-lex.europa.eu/legal-content/EN/TXT/?uri=CELEX٪٣A٣٢٠١٦R٠٦٧٩. [Accessed: ٤ April ٢٠٢٥]

٩- Atik, Jaffery. *AI and Law*, Module ٣, Part III: Fraud Detection. Video lecture. Coursera. Available at: https://www.coursera.org/learn/ai-law/lecture/oFwse/part-iii-fraud-detection. [Accessed ٩ March ٢٠٢٥]

١٠- Wahlberg, Lena. *AI and Law*, Module ٢: AI and Legal Responsibility. Video lecture. Coursera. Available at:

https://www.coursera.org/learn/ai-law/lecture/cPHYG/ai-and-legal-responsibility. [Accessed ١ March ٢٠٢٥]

١١- European Commission, *Liability for Artificial Intelligence and other emerging digital technologies,* ٢٠١٩. Available at: https://op.europa.eu/en/publication-detail/-/publication/١c٥e٣٠be-١١٩٧-١١ea-٨c١f-٠١aa٧٥ed٧١a١/language-en

١٢- Regulation EU ٢٠٢٤/ ١٦٨٩ of the European Parliament and of the Council, official Journal of the European Union, ١٣ June ٢٠٢٤. Available at: http://data.europa.eu/eli/reg/٢٠٢٤/١٦٨٩/oj [accessed: ٢٠٢٥/٣/٢٨]

١٣- Karen Yeung (Rapporteur), “Responsibility and AI”, Council of Europe Study DGI (٢٠١٩) ٠٥, Prepared by the Expert Committee on human rights dimensions of automated data processing and different forms of artificial intelligence (MSI-AUT)

څېړندوی وجیه الله ظهیر

# د افغانستان د سیاسي قضایایو په حل کې د اسلامي همکارۍ سازمان اغېز (۱۹٦۹ - ۲۰۲۱ز)

# The Role of the Organization of Islamic Cooperation in Resolving Afghanistan's Political Issues (۲۰۲۱–۱۹٦۹)

***Researcher Wajihullah Zaheer***

**Abstract**

The Organization of Islamic Cooperation (OIC) is one of the major international institutions and is considered the second largest intergovernmental organization after the United Nations, with ٥٧ Islamic countries from four continents as its members. The organization was established on September ٢٢, ١٩٦٩ with the purpose of safeguarding the interests of the Islamic Ummah, promoting cooperation, and strengthening international peace. Afghanistan, as an Islamic country, is one of the founding and active members of the OIC; however, its political issues have continuously faced profound crises over the past four decades.

Therefore, it was necessary to examine the role and influence of the OIC in resolving Afghanistan's political

issues. The findings of this research indicate that, depending on circumstances and changing conditions, the OIC has sometimes played a moderate and at other times a weak role in Afghanistan. Nevertheless, it has never fully concentrated its special attention on Afghanistan’s political matters. This lack of focused engagement has contributed to prolonging Afghanistan’s crisis and extending the ongoing turmoil for decades.

This study systematically and analytically examines all measures, initiatives, resolutions, and stances adopted by the OIC concerning the resolution of Afghanistan’s political issues within the framework of the introduction, conclusion, recommendations, and relevant discussions.

**لنډيز**

د اسلامي همکارۍ سازمان د نړیوالو بنسټونو له ډلې هغه ستر سازمان دی چې د نړۍ له څلورو وچو څخه ۵۷ اسلامي هېوادونه پکې غړیتوب لري. یاد سازمان د ۱۹٦۹ز کال د سپټمبر په ۲۲مه د اسلامي امت د ګډو ګټو د ساتنې او نړیوالې سولې د ټینګښت په موخه رامنځته شو، او افغانستان د دې سازمان له بنسټګرو او فعالو غړو څخه شمېرل کېږي، چې نږدې د څلورو لسیزو سیاسي بحرانونو یې د نړیوالو سازمانونو ځانګړې پاملرنه غوښتې ده. له همدې امله د دې څېړنې اړتیا په دې کې ده چې د افغانستان د سیاسي قضیو په حل کې د اسلامي همکارۍ سازمان رښتینی اغېز وارزوو او دا وڅېړو چې سازمان د رامنځته کېدو له مهالوېش سره سم د کومو موخو د تحقق لپاره څومره عملي اقدامات کړي دي؟

موندنې ښيي چې اسلامي همکارۍ سازمان، سره له دې چې د اسلامي نړۍ د ګډو ګټو او نړیوالې سولې د ملاتړ لپاره جوړ شوی، د افغانستان په سیاسي قضیو کې یې رول کله نسبي او کله ډېر کمزوری پاتې شوی دی. دغه سازمان د افغانستان روانو سیاسي بحرانونو ته بشپړه او دوامداره ځانګړې

پاملرنه نه ده کړې، چې د افغان جګړې او ناورین اوږدیدو ته یې لاره هواره کړې ده.

په دې څېړنه کې د اسلامي همکارۍ سازمان ټول عمده دریځونه، پرېکړې، اقدامات او کمزورۍ په سریزې، پایلې، تحلیل او وړاندیزونو کې په تفصیل سره څېړل شوي دي.

**سریزه**

د بشري ټولنې د معاصر پرمختګ او نړیوال تړاو له امله، انسانان نور نشي کولای یوازې د خپل هېواد په جغرافیه کې محدود پاتې شي. د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي اړتیاوو د پوره کولو لپاره د ملتونو ترمنځ دوه اړخیزې او څو اړخیزې اړیکې د نړیوال نظام یوه مهمه اړتیا ګرځېدلې ده. له همدې امله نړۍ د یو ګډ کلي بڼه غوره کړې او د نړیوالو چارو د تنظیم لپاره بېلابېل بین‌المللي سازمانونه رامنځته شوي دي.

په همدې لړ کې اسلامي همکارۍ سازمان د اسلامي هېوادونو تر ټولوستره ټولنه ده چې د اسلامي نړۍ د ګډو ګټو، نړیوال عدالت او سولې د ټینګښت لپاره فعالیت کوي. د افغانستان قضیه چې نږدې نیمه پېړۍ اوږدې سیاسي شخړې، یرغلونه، کورنۍ جګړې او نړیوال رقابتونه په کې دخیل وو، د دغو سازمانونو ځانګړې پاملرنې ته اړتیا درلوده.

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې د اسلامي همکارۍ سازمان د افغانستان د سیاسي قضایاوو په حل کې اغېز په معقول، تحلیلي او علمي توګه وڅېړل شي او د موندنو پایلې د لوستونکو مخې ته په ډاګه وړاندې شي. مقاله د یو شمېر مهمو سرلیکونو پر بنسټ جوړه شوې ده چې پکې د اسلامي همکارۍ سازمان پېژندنه، د افغانستان په قضایاوو کې د شوروي او امریکا یرغلونه، کورنۍ جګړې، د اسلامي امارت د بیاځلي راتګ موضوع، او په دې ټولو بهیرونو کې د اسلامي همکارۍ سازمان دریځ او رول شامل دي او هم په څېړنه کې له معتبرو منابعو څخه استفاده شوې ده.

**د څېړنې مبرمیت**

افغانستان  د یو اسلامي هېواد په توګه د اسلامي همکارۍ سازمان له بنسټګرو او فعالو غړو څخه شمېرل کېږي او شاوخوا  د څلورو لسیزو شخړې او ناورینونه یې زیاتره سیاسي ماهیت لري. یاد سازمان باید د افغانستان د سیاسي بحرانونو په حل او فصل کې اغېزمن حضور او رول درلودلای، خو له بده مرغه چې تر دې دمه یې هم خپل مسؤولیت په لازم ډول نه دی ترسره کړی. له همدې امله اړیتا وه چې د افغانستان د سیاسي قضایایو په حل کې د اسلامي همکارۍ سازمان واقعي اغېز، محدودیتونه او فرصتونه په علمي ډول تر څېړنې لاندې ونیول شي.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې موخه دا ده چې د افغانستان د سیاسي قضایاوو په حل کې د اسلامي همکارۍ سازمان واقعي اغېز، اقدامات او د فعالیت سطحه وڅېړل شي او دا په ډاګه شي چې یاد سازمان د افغانستان د سیاسي بحرانونو د کمولو، مدیریت او حل لپاره تر کومه ځایه رول لوبولی دی.

**د څېړنې اصلي فرضیه**

د اسلامي همکارۍ سازمان د افغانستان د سیاسي قضایاوو په حل کې اغېز لرلی، خو دغه اغېز د سیاسي شرایطو، نړیوالو فشارونو او د سازمان د محدودو اجرایي ظرفیتونو له امله محدود پاتې شوی دی.

**د څېړنې فرعي فرضیې**

۱- اسلامي همکارۍ سازمان د افغانستان په سیاسي کړکېچونو کې څو ځل دریځونه او پرېکړې اعلان کړي، خو دغه پرېکړو محدود عملي اغېز لرلی دی.

۲- د سازمان اغېز د غړو هېوادونو د سیاسي اختلافاتو، نړیوالو قدرتونو د نفوذ او داخلي جوړښتي کمزوریو له امله کمزوری شوی دی.

۳ - که څه هم اسلامي سازمان د افغانستان د سولې، ثبات او بشري وضعیت په اړه ملاتړ څرګند کړی، خو دغه ملاتړ د بحران د اساسي حل لپاره کافي نه دی پاتې شوی.

**د څېړنې اصلي پوښتنه**

اسلامي همکارۍ سازمان تر کومه بریده د افغانستان د سیاسي قضایاوو په حل کې اغېزناک رول لوبولی دی؟

**د څېړنې فرعي پوښتنې**

۱ - اسلامي همکارۍ سازمان د افغانستان د سیاسي بحرانونو په اړه کومې پرېکړې، دریځونه او عملي ګامونه پورته کړي دي؟

۲ - د افغانستان په جګړه، سولې، بشري وضعیت او سیاسي ثبات کې د اسلامي همکارۍ سازمان د رول د کمزورتیا او محدودیتونو اساسي عوامل کوم دي؟

۳ - تر کومه ځایه د اسلامي همکارۍ سازمان اقدامات د افغانستان د سیاسي ستونزو په مدیریت او حل کې مثبت یا منفي اغېز لرلی دی؟

**د څېړنې مېتود**

په دې څېړنه کې د افغانستان د سیاسي قضایاوو په حل کې د اسلامي همکارۍ سازمان د اغېز د څېړلو لپاره توصیفي، تحلیلي او تشریحي مېتودونه کارول شوي دي.

**د اسلامي همکارۍ سازمان(OIC) پېژندنه**

د شلمې میلادي پېړۍ پر مهال که له یو لوري اسلامي خلافت له منځه تللی و او په ټوله کې مسلمانان د اسلام د دښمنانو له خوا له ظلم او ستم سره مخامخ وو، خو له بل لوري بیا اسلامي حرکتونو، مفکرینو او یو شمېر نخبه ګانو د خلکو پام ځانته اړاوه. په دې اړه دکتور مصباح الله لیکلي، په شلمه میلادي پېړۍ کې د مسلمانانو د یووالي لپاره د نړۍ له هر کونج څخه غږونه پورته شول. وایي، کله چې په سره جګړه کې د اسرائیلو حکومت وزېږېد او بیا

د عربو او اسرائیلو په جګړه ګې د مسلمانونو پاکه خاوره(بیت المقدس) یې غصب او لاسونو ته ولوېده، نو دغه بده پېښه د دې سبب شوه چې د ۱۹٦۹م.کال د اګست په(۲۱) نېټه بیت المقدس د څو تنو اسرائیلي یهودو له خوا وسوځول شي. لیکي، د دغې بدې پېښې په غبرګون کې د اسلامي نړۍ یو شمېر اشخاصو په تېره بیا د ملک فیصل هڅې او کوښښونه د دې سبب شول چې  په همدغه کال د اسلامي همکارۍ سازمان جوړ او رامنځته شي.(۸: ۱۳۹۵/۱/۲۹)

دغه راز کله چې په ۱۹۲۴ز کال د مسلمانانو د غفلت او لټۍ په پایله کې د اسلام د ښمنانو له خوا د اسلامي خلافت ټغر ټول شو، دغه وخت بیا د مسلمانانو ځواک په څو ټوټو ووېشل شو او د دښمنانو له خوا هر ځای د مسلمانانو پر ضد جګړې پیل شوې.، هغه هم په داسې یو کړکیچن حالت کې پرته له دې چې ټولو مسلمانانو د یوې اسلامي ادارې تر سیوري لاندې خپل ځواک را ټول کړی و، نوره یې هېڅ چاره نه درلوده. زیاتوي، دغسې یو حالت کې بیا د ځواک راټولول او د ښمن ته قوت ښودل هم آسانه کار نه و، خو د بیت المقدس د سوځېدلو پېښې دغه چاره یو څه آسانه کړه او له مخې یې د اسلامي هېوادونو له لوري په ۱۹٦۹ز.کال کې د اسلامي همکارۍ سازمان رامنځته شو. (۱: ۷مخ)

د څېړونکي آقایي په قول، د اسلامي همکارۍ سازمان د رامنځته کېدلو کرېډټ تر ډېره بریده د سعودي پاچا ملک فیصل ته ځي، ځکه د هغه هڅې او کوښښونه وو چې د اسلامي هېوادونو پر مټ یې دغه سازمان را منځته کړ. پیل کې اسلامي هېوادونو(کوم کې چې د اسلامي هېوادونو ۲۴ مشرانو ګډون کړی و) د مراکش په پلازمینه(رباط) ښار کې د ۱۹٦۹م.کال د سپتمبر د میاشتې په (۲۲) نېټه غونډه وکړه او د دغه سازمان را منځته کېدل یې اعلان کړل. دغه رنګ په بیت المقدس کې د اور لګېدنې پېښه، د مسلمانانو ترمنځ

یووالی او د عربو او اسرائیلو په شپږ ورځني جنګ(۱۹٦٧م) کې د عربو ماتې، هغه لاملونه وو چې دغه مشران یې سره را ټول کړي وو.(۲: ۱۴۵مخ)

د اسلامي همکارۍ د سازمان د زېږېدو نېټه د مراکش(رباط) له غونډې سرچینه اخلي، په کومې غونډه کې چې د بیت المقدس د سوځېدلو پېښه، د اسرائیلو له لوري د عربانو د ځمکو غصب او د فلسطین(بیت المقدس) د ښار وضعیت د اجنډا درې عمده موارد او برخې وې.(۵: ۳٦١مخ)

همدارنګه د نړۍ د مسلمانو اقلیتونو ساتل او په ځانګړي ډول د اسرائیلو پر وړاندې د مظلومو فلسطینیانو دفاع او ننګه د هغه وخت د اجنډا دوه عمده مسایل وو چې د اسلامي هېوادونو مشران یې را ټول کړي وو، او په قاهرې، جدې او په رباط ښار کې یې سره سفارتي اړیکې ټینګې کړې چې بیا وروسته د همدغو اړیکو له مخې د ۱۹٦۹ز.کال د سپټمبر د میاشتې له ۲۲ مې نېټې څخه تر ۲۵ مې نېټې پورې د اسلامي همکارۍ سازمان را منځته شو، د کوم چې د کوربتوب ویاړ د مراکش پاچا(شاه حسن) په غاړه و. د دغه سازمان په پیل کې د څلورویشتو (۲۴) اسلامي هېوادونو مشرانو ګډون کړی و. دغو مشرانو په لومړي سر کې په عرضي ډول د (رباط) ښار د اسلامي کنفرانس مقر وټاکه او بیا شپږ(٦ ) میاشتې وروسته د (جدې) په ښار کې د یادو اسلامي هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو له لوري لومړنی کنفرانس جوړ شو. دغو وزیرانو پرېکړه وکړه چې د اسلامي سازمان مرکز به سعودي عربستان ته انتقالېږي او په اصولي ډول یې یادونه وکړه چې د فلسطین له آزادۍ څخه وروسته به د سازمان اصلي مقر او مرکز هلته وي، خو په غونډه کې یې د مؤقت وخت لپاره د (جدې) ښار د سازمان مقر وټاکه.(۳: ۳۱۴مخ)

د دغه کنفرانس لومړنۍ غونډه ، دغړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ په ۱۹۷۰ز.کال د سعودي په جدې ښار کې او دوهمه ناسته یې بیا په ۱۹۷۴ز.کال، د پاکستان په لاهور سیمه کې ترسره شوه. دغه اسلامي سازمان د ملګرو ملتونو له سازمان څخه وروسته دویم ستر نړیوال سازمان دی

چې دا مهال د افغانستان په ګډون له څلورو لویو وچو څخه په کې ۵۷ هېوادونه غړیتوب لري. د یاد سازمان لومړی نوم ، د اسلامي کنفرانس سازمان و، خو کله چې د ۲۰۱۱ ز.کال د جون په میاشت کې د دغه سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو (۳۸)غونډه د قزاقستان په پلازمینه کې جوړه شوه، نوم یې د اسلامي همکارۍ سازمان ته واړول شو. (۸: ۲۹/ ۱/ ۱۳۹۵)

**د اسلامي همکارۍ سازمان موخې**

کله چې په شلمه میلادي پېړۍ کې اسلامي خلافت له منځه ولاړ، بیا د دښمنانو له لوري مسلمانان تر ستم لاندې ونیول شول. هغه مسلمانان چې په نورو هېوادونو کې د اقلیت په توګه مېشت وو، له کورونو ووېستل شول او ځمکې یې غصب شوې. په داسې یوه حالت کې د یوه اسلامي سازمان اړتیا وه چې ټول مسلمانان سره یو موټی کړي، پخوانۍ هیلې یې پوره کړي او د اقصی د مسجد غچ له اسرائیلو څخه واخلي، نو همدا لامل و چې دغه سازمان را منځته شو.

دغه سازمان چې د یو لړ موخو په درلودلو سره را منځته شوی، په اړه یې دکتور موسی زاده داسې لیکي، د اسلامي نړۍ د یووالي لپاره هڅې او کوښښونه، د مسلمانانو ستونزو دحلولو لپاره په ګډه د حل یوه معقوله لار، د اسلامي هېوادونو ترمنځ په سیاسي، اقتصادي، ساینسي، کلتوري او سوداګریزو برخو کې وده، د هر ډول نسلي او ژبنیز امتیاز او تعصب له منځه وړل، په اسلامي هېوادونو کې د بېوزلۍ او بېکارۍ له منځه وړل، د فلسطیني دولت د جوړېدو لپاره فلسطینیانو سره مرسته کول، په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانو اقلیتونو له حقوقو دفاع کول، د اسلامي هېوادونو ترمنځ په مسالمت آمیز ډول سره د شخړو حلول، یو له بل سره نظامي همکاري او د پوځ د روزنې لپاره د انتظام برابرول د دې سازمان ټولې هغه موخې وې چې دغه سازمان یې له مخې په پیل کې جوړ شو.(٦: ۲۸۲مخ)

## د اسلامي همکارۍ سازمان غړي هېوادونه

د داکتر داوود په قول، تر دا مهاله د اسلامي همکارۍ سازمان (۵۷) غړي لري او د جغرافیوي وېش له مخې په درېوو عمده برخو(آسیایي، افریقایي او عربي) وېشل شوي دي. مخکې لیکي، آذربایجان، ازبکستان، افغانستان، اندونزیا، ایران، برونئي، بنګلدېش، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان، قرغیزستان، قزاقستان، ترکیه او مالیزیا چې شمېر یې (۱۴) ته رسېږي، آسیایي هېوادونه او، اوګاندا، بنین، بورکینا فاسو، توګو، چاد، سنګال، سیرالئون، کامرون، ګابن، ګینه، بیسایو، مالدیو، مالی، موزامبیک، نیجر، نیجریه او ساحل عاج چې شمېر یې (۱۹) ته رسېږي، د دغه سازمان افریقایي هېوادونه دي. زیاتوي، همدا ډول عربي هېوادونه چې شمېر یې (۲۱) ته رسېږي له اردن، الجزایز، امارات متحده عربي، بحرین، تونس، جیبوتي، سودان، سومالیه، سوریه، عراق، عربستان، عمان، فلسطین، قطر، کویت، مصر، مراکش، موریتانیه، یمن، لبنان او لیبیا څخه عبارت دي. وایي، آلبانیا په ۱۹۹۱ز.کال له اروپا څخه، سورینام په ۱۹۹٦ز. کال او ګویان په ۱۹۹۸ز.کال له امریکا څخه دوه هغه هېوادونه دي چې د اسلامي همکارۍ سازمان سره ملحق شول.(۳: ۳۱۵ – ۳۱٦مخونه)

همدارنګه د دغه سازمان د اساسنامې د اتمې(۸) مادې له مخې ټولو هغو غړو هېوادونو چې د یو بنسټیز شرط په توګه د دغه سازمان اساسنامه لاسلیک کړې وي او دغه راز د سرمشریزو او د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډو کې یې شرکت کړی وي، له هغې وروسته د یاد سازمان غړي ګڼل کېږي.(۵: ۳٦۲مخ)

## د اسلامي همکارۍ سازمان اداري جوړښت

د اسلامي همکارۍ سازمان په دې توانیدلی چې د وخت په تیریدو سره په خپل تشکیل کې د پام وړ زیاتوالی راولي او په یو وخت کې په لسګونو کمېسیونونه په کې د اسلامي نړۍ د سوکالۍ او نیکمرغۍ لپاره کار او هلې

ځلې وکړي. د علومو اکاډمي، د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز د ۱۳۸٦ل.کال فصلنامه کې په دې اړه داسې راغلي دي چې د اسلامي همکارۍ د سازمان کمېسیونونه په ټوله کې په عمومي ډول په (۵) برخو وېشل شوي دي، چې هر کمېسیون بیا ځانته نورې ځانګې یا کمېسیونونه لري.

فصلنانه زیاتوي، د دغه سازمان د اساسي کمېسیونونو شمېر څلورو(۴) ته، دخصوصي کمېسیونونو شمېر یې پنځو(۵) ته، د ځانګړو مؤسسو شمېر یې څلورو(۴) ته، د نورو اړوندو مؤسسو شمېر یې اووه(۷) ته رسېږي، او له سازمان نه بهر مؤسسې چې بې شمېره دي، د اسلامي همکارۍ سازمان د تشکیل په چوکاټ کې ځای لري.(۷: ۳۲مخ)

**۱ - د اسلامي همکارۍ سازمان ارکان**

د څېړونکو په قول، د اسلامي کنفرانس سرمشریزه غونډه، د اسلامي هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس، دار الانشاء(سکرتریت) او دعدالت نړیواله اسلامي محکمه، د اسلامي همکارۍ د سازمان هغه اساسي کمېسیونونه یا ارکان دی چې د دې سازمان مهمې او لوړې اداري ګڼل کېږي، نو لازمه ده چې په اړه یې مختصر بحث وکړ:

**الف – د مشرانو کنفرانس**

د اسلامي هېوادونو د مشرانو کنفرانس چې د دې سازمان تر ټولو لوړ رکن ګڼل کېږي، په درېیوو کلونو کې یو ځل خپله غونډه د یو غړي هېواد په پلازمینه کې ترسره کوي او د سازمان لپاره عمومي تګلاره ټاکي.(۵: ۲۸۳مخ)

**ب – د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس**

د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس د اسلامي همکارۍ د سازمان دویم لوړ کمېسیون یا رکن دی او معمولاً په کال کې یو ځل ناسته کوي او د اړتیا په صورت کې اضطراري او فوق العاده غونډو ته هم اجازه لري. دغه راز، د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس د اسلامي هېوادونو د مشرانو د کنفرانس لپاره یو

کلیدي رول لري او همدغه کنفرانس د مشرانو د کنفرانس لپاره وروستۍ اجنډا هم ترتیبوي.(۳: ۳۱۷مخ)

**ج - دارالانشاء(سکرتریت)**

دریم رکن چې دارالانشاء(سکرتریت) دی، دسازمان اجراییوي ارګان ګڼل کېږي او هغه چارې ترسره کوي چې د سازمان د مشرانو او بهرنیو چارو د وزیرانو د کنفرانسونو له خوا ورته سپارل کېږي. د دارالانشاء د رییس ټاکنه چې د رایو په اکثریت پورې اړه لري، د بهرنیو چارو د وزیرانو د کنفرانس له خوا د څلورو(۴)کلونو لپاره ټاکل کېږي او دوه مرستیالان لري.(۳: ۳۱٦مخ)

د دغه مهم ارګان اداره د ټاکل شوي رییس په غاړه ده، کوم چې د څلورو کلونو لپاره ټاکل شوی او د تمدید دوره یې هم یو ځل ده. همدا ډول، د دارالانشاء د رییس مرستیالان په سیاسي، اقتصادي، مالي او اداري برخو کې له خپل رییس سره مرسته کوی او هم ټاکل شوی رییس صلاحیت او مسؤولیت لري چې د سازمان له ټولو ارګانونو او اداراتو په مستقیم ډول نظارت او څارنه وکړي او هم توصیه لیکونه او قطعنامې صادرې کړي.(۵: ۳٦۴مخ)

**د – د عدالت نړیواله محکمه**

د عدالت نړیواله محکمه چې د اسلامي همکارۍ د سازمان یو مهم قضایي ارګان او رکن دی، د اسلامي هېوادونو د مشرانو کنفرانس یې په خپلې پنځمې ناسته کې د جوړېدو پرېکړه وکړه، چې یاد قضایي ارګان له هماغه وخت څخه تر دې دمه، د سازمان له قانون سره سم خپله دنده پر مخ وړي. دکتور موسی زاده یې په اړه لیکي، دغه رکن د مشرانو د کنفرانس له پنځمې ناستې مخکې شتون نه درلود او په ۱۹۸۷ز.کال د مشرانو د کنفرانس په شپږمه ناسته کې د اسلامي همکارۍ د سازمان د څلورم رکن په توګه ومنل شو. زیاتوي، دغه نړیواله محکمه اووه(۷) قاضیان لري، کوم چې د اسلامي کنفرانس د بهرنیو چارو د وزیرانو له لوري د څلورو(۴) کلونو لپاره ټاکل کېږي.(٦ :۲۸۳مخ)

دلته ویلی شم چې د عدل نړیواله محکمه چې د یاد سازمان څلورم رکن دی، بودجه یې د غړو هېوادونو له خوا ورته منظور شوه او د پرېکړو صلاحیت هم ورکړل شو، نو له بده مرغه دې محکمې تر دې دمه هېڅ څه نه دي کړي او تش د کاغذ پر مخ یې نوم پاتې دی او هېڅ مسؤولیت یې لکه د نورو رکنونو په څېر د اسلامي هېوادونو په ځانګړي ډول د افغانستان د سیاسي قضایاو په حل کې نه دی ترسره کړی. دې اسلامي محکمې ته د خپل مسؤولیت له مخې په کار وه چې په ټوله کې یې د اسلامي هېوادونو په اړه خپل غږ پورته کړای و او د هغو مظلومو هېوادونو ننګه یې کړې وه چې په حق کې یې له کلونو را هیسې ظلم او ستم روان دی، لکه افغانستان، فلسطین، عراق، سوریه او داسې نور، خو دوی پرې ځان غلی کړی او هېڅ د مسؤولیت احساس نه کوي چې له شک پرته په دې برخه کې مسؤول دي.

**افغانستان؛ او اسلامي همکارۍ سازمان(OIC)**

د اسلامي همکارۍ (۵۳) کلن سازمان که څه هم په اوس وخت کې له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی او د یو کمزوري سازمان حیثیت یې خپل کړی، خو د اسلامي نړۍ بیا په ځانګړي ډول د افغانستان د سیاسي قضایاوو په حل کې یې په ظاهري ډول په پیل کې څه نا څه هڅې کړي.

د دکتور مصباح په قول، افغانستان یو له هغو لومړنیو هېوادونو څخه و، چې د اسلامي همکارۍ سازمان بنسټ یې کېښود او د عربو او اسرائیلو په جګړه کې یې د عربو په ملاتړ اعلامیې صادرې کړي. وایي، کله چې بیا شورویانو پر افغانستان یرغل راووړ، نو د اسلامي همکارۍ سازمان اړیکې له افغانانو سره هغه مهال ډېرې نږدې شوې. زیاتوي، دغه سازمان د پخواني شوروي پرضد له اعلامیو وراخوا له افغان مجاهدینو او کډوالو سره په مختلفو برخو کې پراخې مرستې هم وکړې.(۸: ۱۳۹۵/۱/۲۹)

دلته یوه خبره دیادولو وړ بولم هغه دا چې افغانستان تل د اسلامي سازمان فعال او مهم غړی پاتې شوی، خو کله چې شوروي پر افغانستان یرغل

راوړ، د ۱۹۸۱ – ۱۹۹۲ م.کلونو پر مهال یې عضویت په دغه سازمان کې د تعلیق په حال کې شو، خو کله چې د شوریانو اشغال پای ته ورسېد، په (۱۹۹۲م) کال یې بیا ځل په یاد سازمان کې عضویت ترلاسه کړ او فعال غړی شو.(۱۲: ۱۳۹۸/۱/۲۰)

همدارنګه ویلی شو چې یاد سازمان له پیل نه د خپلو سرمشریزه غونډو په پرېکړو کې په ټوله کې د اسلامي نړۍ او بیا په ځانګړي ډول د افغانستان مسایل او ستونزې له پامه نه دي غورځولي او د حل په موخه یې څه ناڅه کمزوري ګامونه پورته کړي. د بېلګې په توګه ښېرونکی لعلستاني ځینو ته په دې ډول اشاره کوي، د اسلامي همکارۍ سازمان په خپلې دوهمې سرمشریزه غونډه کې چې د ۱۹۷۴ز.کال د فبرورۍ د میاشتې په ۲۲ نېټه د پاکستان د لاهور په ښار کې دایره شوې وه، د نورو مسایلو ترڅنګ یې د افغانستان د قضیې په سیاسي حل هم ټینګار وکړ.

دغه راز د یاد سازمان د مشرانو په څلورمه غونډه کې چې د مراکش د (کاسابلانکا) په ښار کې د ۱۹۸٦ز.کال د جنورۍ په میاشت کې په لاره اچول شوې وه، په پرېکړو کې یې یوه پرېکړه د افغانستان په تړاو وه، چې له افغانستان څخه دې روسي پوځونه ژر تر ژره ووځي.

همدا ډول د یاد سازمان اتمه سرمشریزه غونډه هم د یادولو وړ ده، کومه چې د ۱۹۹۷ز.کال د ډسمبر په میاشت کې د ایران په تهران ښار کې جوړه شوې وه. په دې غونډه کې هم د نورو پرېکړو ترڅنګ د افغانستان ستونزو ته د لومړیتوب حق ورکړل شو.(۴: ۱٦۳مخ)

په ټوله کې ویلای شو چې د اسلامي همکارۍ سازمان هر درې کاله وروسته د سر مشرانو غونډې(کنفرانس) تر سره کړي او وخت ناوخت یې د افغانستان د سیاسي قضایاوو د حل په موخه په پېښو کې دخیلو لورو(طرفونو) ته د سوله ییزې تګلارې سپارښتنې کړي.(۸: ۱۳۹۵/۱/۲۹)

دغه رنګ پر افغانستان د شوروي د یرغل پېښه بیا هغه سیاسي قضیه ده چې د افغانستان په تاریخ کې ځانګړی ځای لري او د اسلامي همکارۍ سازمان یې هم په اړه چوپ نه دی پاتې شوی، نو؛ لازمه ګڼم چې د یادې پېښې په تړاو د یاد سازمان پر فعالیتونو دلته یو څه بحث وکړو:

**الف - پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد یرغل؛ او اسلامي سازمان**

د معاصر تاریخ د روایاتو له مخې، روسانو غوښتل چې دخپلې امپراطورۍ لمن پراخه کړي او د هند تودو اوبو ته ځان ورسوي. د همدغې موخې لپاره یې بیا پر افغانستان مستقیم یرغل او تجاوز وکړ، تر څو د دې هیواد له لاندې کولو څخه وروسته په پاکستان یرغل ور وړي او وروسته ځان د هند ګرمو اوبو ته ورسوي، خو له نېکمرغه؛ افغان مسلمان غیور ملت یې پر وړاندې وسلواله مبارزه(جهاد) وکړ، او دغه کرغېړن او خوانخوار دښمن یې له شرمونکې ماتې سره مخ کړ.

کله چې پخواني شوروي پر افغانستان یرغل وکړ، نو دغه عمل یې د اسلامي همکارۍ سازمان له لوري په کلکه وغندل شو او په اړه یې ځینې کنفرانسونه، لکه د اسلام آباد، طایف، بغداد او نایجریا کنفرانسونه جوړ شول. په دې اړه لعلستانی لیکي، کله چې شوروي پر افغانستان یرغل وکړ، نو د پاکستان په وړاندیز د اسلامي همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو بهرني وزیران، د دې هېواد په پلازمېنه (اسلام اباد) کې سره راټول شول، تر څو د شوروي د یرغل په اړه په افغانستان باندې بحث وکړي. په یاده غونډه کې پر افغانستان د شوروي یرغل وغندل شو او د شوروي له مشرانو څخه په جدي ډول وغوښتل شول چې خپل ځواکونه دې له افغانستان څخه بې له کوم قید او شرط څخه پرته وباسي او روان اشغال ته دې خاتمه ورکړي.

همدارنګه په یادې ناسته کې یوه کمېټه د ایران، پاکستان او د اسلامي همکارۍ سازمان د سرمنشي په ګډون جوړه شوه، چې نوموړې کمېټې بیا خپله ځانګړې مشورتې ناسته د ۱۹۸۰ز. کال د جون په میاشت کې په

(ژنيف) ښار کې دايره کړه او په کې يې د مقاومت له رهبرانو(مجاهدينو) وغوښتل چې په نوموړې ناسته کې برخه واخلي او خپل نظريات او وړانديزونه مطرح کړي.

دغه راز په ناسته کې د کمېټې اعضاوو وويل چې د افغانستان سياسي بحران د اسلامي همکارۍ سازمان د پام وړ نقطه ده او افغان مجاهدينو سره دې همکاري صورت ونيسي.(۴: ۱٦۴مخ)

همدا ډول د ۱۹۸۰ز.کال د فبرورۍ په (۲۴) نېټه د اسلامي سازمان بل کنفرانس د سعودي عربستان د طايف په ښار کې جوړ شو. د دې کنفرانس اعضاوو هم پر افغانستان د شوروي يرغل تر بحث لاندې ونيوه او د ايران، پاکستان، تونس او گينيا د بهرنيو چارو وزيران يې په دې وگمارل، تر څو د اسلامي کنفرانس د سازمان له سر منشي سره يوځای د افغانستان د قضيې د حل لپاره يوه مناسبه د حل لار پيدا کړي، چې وروسته بيا د سعودي عربستان خپلې سياسي اړيکې د روس له رژيم سره په ۱۹۸۱ز.کال د اپريل د مياشتې په (۱۷) نېټه پرې کړې او د مجاهدينو له تنظيمونو سره يې سياسي اړيکې ټينگې کړې . ليکوال وړاندې ليکي، درېيم کنفرانس په ۱۹۸۱ز. کال د جون د مياشتې په (۵) مه نېټه د عراق په پلازمېنه (بغداد) ښارکې داير شو، چې هغوی هم شورويان يرغلگر وبلل او بيا وروسته په ۱۹۸۲ز. کال د اگست د مياشتې په (۲۲) مه نېټه يو بل کنفرانس په نايجيريا کې جوړ شو. وايي، دې کنفرانس ټولې هغه پرېکړې چې په اسلام آباد، طايف، او بغداد کې د اسلامي سازمان له خوا شوې وې، تاييد کړې او په دې يې بيا تاکيد وکړ، چې شوروي ځواکونه دې روان اشغال پای ته ورسوي او افغان ملت ته دې د دې حق ورکړل شي چې د خپلې خوښې حکومت پرته له کوم بهرني فشار څخه جوړ کړي.(۴: ۱٦۵ - ۱٦۸مخونه)

**ب - پر افغانستان د امریکا یرغل؛ او اسلامي سازمان**

د شورویانو له وتلو وروسته هم د اسلامي همکارۍ سازمان د افغانستان د قضیې(کورنۍ جګړې) د حلولو په موخه ځینې هلې ځلې وکړې؛ خو له بده مرغه ناکامې شوې او کومه پایله یې ور نه کړه.

دغه راز بیا د افغان طالبانو(اسلامي امارت) د لومړي حکومت له ړنګېدو وروسته په افغانستان باندې د امریکایي یرغل پر وخت د اسلامي همکارۍ سازمان کوم خاص څه ونه کړای شول او نه یې هم د دې ستر او ښکاره تېري او یرغل په تړاو غبرګ پورته کړ.

کله چې امریکایي ځواکونه د افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې ځای پر ځای شول، وروسته له هغې یې د مظلومو افغانانو په زورولو او ربړولو پیل وکړ چې بیا همدغه زور او ظلم د نا امنیو د زیاتوالي سبب شو او پر وړاندې یې د افغان مجاهدینو د مبارزې او جهاد لامل وګرځېد.

دکتور مصباح په دې اړه لیکلي، د امریکایي اشغال پر وړاندې د افغان مجاهدینو د جګړې له تودېدو او د ناامنیو د زیاتېدو پر مهال بیا د اسلامي همکارۍ سازمان له یوې اوږدې چوپتیا څخه وروسته غبرګ پورته کړ، چې د افغانستان د قضیې د حل په اړه یې د سوله‌ییزې تګلارې سپارښتنه کوله. وایي، د همدې موخې لپاره یې بیا په ۲۰۱۱ز.کال په کابل کې خپله څانګه هم پرانیسته. زیاتوي، دغه سازمان بیا د امریکایي ځواکونو تر وتلو (۱۴۰۰ل) پورې د افغانستان د قضیې په اړه داسې څرګند، فعال او رغنده رول ونه لوبوه چې موږ ترې د شوروي یرغل په څېر یادونه وکړو(۸: ۱۳۹۵/۱/۲۹)

د امریکایي اشغال په مرحله کې یاد سازمان وخت ناوخت د اوربند، د امنیت، سولې، د تشدد، سیاسي اختلافاتو، او د رواني جګړې د پای ته رسېدو په اړه وخت نا وخت کمزوري غږونه پورته کول، خو کله یې هم دا غبرګ پورته نه کړ چې امریکایي ځواکونه یرغلګر دي، د افغانستان خاوره یې اشغال کړې او باید ژر تر ژره دې پرته له کوم قید او شرط څخه له افغانستانه ووځي. داسې

غږ یې کله هم ونه کړ او په دې مرحله کې یې له شک پرته خپل مسؤولیت په سمه توگه اداء نه کړ.

نو، په ټوله کې ویلای شو چې د امریکایي اشغال پر مهال د اسلامي همکارۍ سازمان خپل هغه مسؤولیت چې د افغانستان د سیاسي قضایاوو په حل کې یې درلود، په سمه توگه نه دی اداء کړی او په دې مرحله کې د افغانستان په زیان او تاوان کې(کوم چې امریکایي ځواکونو ور رسولی)، ټول هغه اسلامي هېوادونه چې د دې سازمان غړیتوب لري او د اسلامیت او عدالت دعوې کوي، شریک او دخیل دي.

**ج - اسلامي امارت؛ او اسلامي سازمان**

ټولو ته ښکاره ده چې د افغانستان جمهوري نظام د محمد اشرف غني په مشرۍ تېر کال(۱۴۰۰ل) د زمري د میاشتې په (۲۴) نېټه د اسلامي امارت له لوري شاوخوا له شل کلنې جگړې او مبارزې وروسته له سقوط سره مخامخ شو، او ځای یې د دویم ځل لپاره د اسلامي امارت حکومت ونیوه. که څه هم د دغه ژور بدلون او تغییر په پایله کې افغانستان له مادي پلوه ډېر زیان ولید، خو له نېکمرغه د دغه بدلون یوه ستره معنوي لاسته راوړنه دا وه چې مظلوم افغانستان په کې له یرغلگرو امریکایي ځواکونو څخه د لوی خدای جل جلاله په مرسته او د افغان رښتینو مجاهدینو د مبارزې په پایله کې خلاص شو، امریکایي یرغلگر له هېواده په ټیټو سترگو ووېستل شول او افغان ملت یې پر سبب له سترې خپلواکۍ څخه برخمن شو. هغه خپلواکي چې د ټولو رښتینو افغانانو ستر آرمان او هدف و.

دا چې دلته بحث د افغانستان د سیاسي قضایاوو په حل کې د اسلامي همکارۍ د سازمان پر اغېز دی، نو د مقدمې په توگه ویلای شم چې یاد سازمان تر دې دمه په نړیواله کچه خپلې (۱۷) سرمشریزې غونډې کړې دي. لومړۍ غونډه یې په ۱۹٦۹ز.کال په بیت المقدس کې د اورلگېدنې له امله په مراکش کې تر سره کړې او وروستۍ ناسته یې تېر کال د ۲۰۲۱ز.کال د

ډسمبر د مياشتې په (۱۹) نېټه په افغانستان کې د وروستيو تغييراتو(د اسلامي امارت دويم ځل راتګ) په اړه د پاکستان په پلازمينه (اسلام آباد) کې ترسره کړه. د سياسي شنونکي رحمت الله فيضان په قول، يادې غونډې ته د غړو هېوادونو د اعضاوو ترڅنګ د افغانستان په استازولۍ د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير(مولوي امير خان متقي) هم رسماً دعوت شوی و، او په ناسته کې يې ګډون کړی و.(۹: ۲۰۲۲/۹/۲۲)

غواړم دلته د موضوع دلا روښانتيا لپاره د کنفرانس له دايرېدو مخکې او بيا د کنفرانس په جريان کې د اسلامي امارت د بهرنيو چارو د وزير د ويناوو نچوړ، غوښتنې او دغه راز د اسلامي همکارۍ د سازمان غوښتنې په مختصر ډول سره وړاندې کړم، کوم نچوړ چې بحث روښانه کوي او را غونډوي:

د خبرګذاري جمهور د سايټ په قول، غونډې ته د ورتګ پرمهال مولوي امير خان متقي وويل: دا لومړی ځل دی چې په اسلام آباد کې د افغانستان په اړه دومره ستره ناسته ترسره کېږي او په دې غونډه کې به د اسلامي همکارۍ سازمان له لوري د افغانستان د سياسي، اقتصادي او بشري مرستو په اړه په تفصيل سره خبرې اترې کېږي. دغه راز په ياد کنفرانس کې به زموږ مشخصې غوښتنې دا وي چې اسلامي هېوادونه په افغانستان کې پانګونه وکړي، افغانستان سره اړيکې ورغوي او د اسلامي همکارۍ د سازمان په چوکاټ کې دې د مرستو يو وجهي(مالي) صندوق جوړ کړي.(۱۱: ۱۴۰۰/۹/۲۷)

دغه راز کله چې د اسلامي همکارۍ د سازمان د بهرنيو چارو د وزيرانو غونډه پيل شوه، مولوي امير خان متقي په خپل نوبت ورته وينا وکړه ، په وينا کې يې وويل: دا چې په تاريخي لحاظ افغانستان د اسلامي همکارۍ سازمان له بنسټګرو څخه دی، اوس هم غواړو چې په ياد سازمان کې د يو فعال غړي په توګه رول ولوبوو او دې ته چمتو يو چې د افغانستان په تړاو د اسلامي

هېوادونو ټولې هغه غوښتنې، اندېښنې او مشورې واورو او ومنو چې له اوسني بحرانه د وتلو سمه او عادلانه لاره په نښه کوي.

زیاته یې کړه، موږ د افغان ولس د مسؤولینو په توګه د بشر حقوق، د ښځو حقوق او په حکومت کې د ټول ولس د بېلا بېلو سیمو د وړ شخصیتونو ګډون خپله دنده ګڼو. ویې ویل، دې کې شک نشته چې له نیکمرغه د افغانستان د اسلامي امارت په راتګ سره دري څلويښت کلن جنګ پای ته رسېدلی، تلفات صفر شوي، زندانونه له سیاسي بندیانو تش شوي، دولتي ادارې په کم وخت کې فعالې شوي، د پخواني رژیم پنځه لکه مامورین دندو ته دوام ورکوي، ټول قومونه په حکومت کې ځان ویني، د فساد او زورواکیو مخه نیول شوې، امنیت او د هېواد د ټولې جغرافیې ارضي تمامیت خوندي شوی، نو؛ د یوه حاکم نظام په توګه اسلامي امارت حق لري چې نړۍ ورسره تعامل وکړي او په رامنځته شوي ثبات کې ورسره همکاري وکړي. همدارنګه په خاوره کې یې سیمه ییزې پروژې پیل کړي، بندیزونه پرې لرې کړي، (۱۰) ملیارده پانګه یې آزاده کړي، بشري مرستې ورسره وکړي او همدارنګه د اسلامي همکارۍ سازمان هغه غړي چې په کابل کې یې خپل فعالیتونه ځنډولي خپل سفارتونه بېرته پرانیزي ، چې دې سره به یې د افغانستان حکومت د یو دوست هېواد په توګه هرکلی وکړي. (۱۰: ۱۴۰۰/۹/۲۸)

د اسلامي همکارۍ د سازمان دغې ناسته کې چې د شلو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو، دلسو هېوادونو مرستیال وزیرانو او دیو شمېر نورو هېوادونو استازو ګډون کړی و، په پای کې یې یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې پکې له نړیوالې ټولنې څخه له افغانستان سره د بېړنیو مرستو غوښتنه شوې وه.

په اعلامیه کې راغلي چې یاد سازمان به د افغانستان لپاره ځانګړی استازی ټاکي او هم به له دغه هېواد سره د بشري مرستو لپاره یو مالي صندوق(کوم چې تر دې دمه نه ده جوړ شوی) جوړوي.

دغه راز په اعلاميه کې د افغانستان له سرپرست حکومت څخه غوښتنه شوې چې د حکومت په نورو برخو کې د «ټولشموليت» اصل ته پام وکړي او ښځو ته دې هم برابر حقونه او د ژوند په ټولو برخو کې د فعاليت اجازه ورکړي. په اعلاميه کې دا هم راغلي چې په افغانستان کې له بشري ناورينه د مخنيوي لپاره بايد د دغه هېواد کنګل شوې شتمنۍ ژر تر ژره خوشې(کومه چې تر دې دمه نه ده شوې) شي. دغه راز په يادې ناسته کې د اسلامي همکارۍ سازمان له سکرتر جنرال نه غوښتنه شوې چې د نړيوالو ديني عالمانو يوې ډلې ته دنده وسپاري چې له افغان چارواکو سره پر مهمو مسايلو خبرې وکړي.(۱۰: ۱۴۰۰/۹/۲۸)

که پورته بحث ته نظر وکړو، له شک پرته د اسلامي همکارۍ سازمان اغېز او رول د افغانستان په سياسي قضاياوو کې د په خوا په پرتله روښانه او څرګند دی. که ياد سازمان په رښتينې معنا له زړه وغواړي ډېر څه د افغانستان په سياسي، اقتصادي او ټولنيزو برخو کې په پوره ځواک سره کولای شي. خو دا چې تر دې دمه يې په عملي توګه څه نه دي کړي، دا بيا هغه څه دي چې د دې سازمان د جوړېدو لاملونه، سپېڅلې موخې تر سوال لاندې راولي. هغه موخې چې د اسلامي سازمان له لوري د اسلامي شريعت له مخې منځته راغلي او اسلام هم پرې صريح حکم کوي.

**پايله**

د څېړنې له مخې، اسلامي همکارۍ سازمان د ۱۹٦۹ز کال د سپټمبر په ۲۲مه د اسلامي امت د ګډو ګټو، روحيې او د نړيوالې سولې د ملاتړ په موخه رامنځته شو. دغه سازمان د ۵۷ اسلامي هېوادونو په ګډون کېښودل شو او له ملګرو ملتونو وروسته يې د نړۍ په کچه د اسلامي نړۍ د ګډو اهدافو د تحقق لپاره ځانګړې مقام ترلاسه کړ.

سره له دې، د افغانستان د سياسي قضاياوو په حل کې ياد سازمان مسؤلانه، دوامداره او رغنده رول نه دی لوبولی. د کمزورتيا اصلي عوامل يې

عبارت دي له: د استعماري او غربي هېوادونو لاسوهنه او د نړیوالو سیاسي فشارونو شتون، په اسلامي نړۍ کې د سالم او متحد قیادت نشتوالی او داخلي اختلافات، اقتصادي فساد او د منظم پلان نه شتون، د اسلامي هېوادونو طبیعي زېرمو باندې د بهرنیو ځواکونو نفوذ، د دیني پوهې نیمګړتیا او د اسلامي ارزښتونو د عملي کولو کمزوري، سني او شیعه شخړې، داخلي سیاسي تنازعات، د مشرۍ پر سر سیالۍ او د غړو هېوادونو ترمنځ ناعادلانه سیاستونه، او په اسلامي هېوادونو کې د مؤثر تعلیمي نصاب او علمي بنسټونو نشتوالی چې د سازمان د اوږدمهاله ستراتیژۍ په عملي کولو کې خنډونه رامنځته کوي.

څېړنه څرګندوي چې اسلامي همکارۍ سازمان، سره له دې چې د اسلامي نړۍ د ګډو اهدافو لپاره جوړ شوی، د افغانستان د سیاسي بحرانونو په حل کې یې اغېز محدود پاتې شوی دی.

د بریالیتوب لپاره یې اړینه ده چې دغه سازمان د خپلو کمزوریو اصلي لاملونو ته جدي پاملرنه وکړي، د اجرایي ظرفیتونو د لوړولو لپاره کوټلي اقدامات ترسره کړي، د غړو هېوادونو ترمنځ همغږي ټینګه کړي، او د نړیوالو فشارونو پر وړاندې اغېزناک سیاسي دریځ غوره کړي. په دې توګه بیا کولای شي نه یوازې د افغانستان د سیاسي ستونزو په مدیریت کې مؤثره ونډه ولوبوي، بلکې د اسلامي نړۍ د متحدو موخو د تحقق او د نړیوالې سولې د ټینګښت لپاره هم فعال رول ولوبوي.

**وړاندیزونه**

۱ ـ دا چې د اسلامي همکارۍ سازمان د نړۍ بېلابېلو اسلامي هېوادونو څخه تشکیل شوی او افغانستان هم یو له اسلامي هېوادونو څخه دی او د یاد سازمان فعال غړی دی، نو؛ اسلامي امارت ته په کار دي چې په خپل ټول توان سره په مختلفو(سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو) برخو کې د یاد

سازمان حمایت او ملاتړ ترلاسه کړي او له دې لارې افغانستان د پرمختګ پر لوري سوق کړي.
۲ ـ دا چې لا تر دې دمه نړۍ، اسلامي امارت په رسمیت نه دی پېژندلی او پوره اړتیا ده چې نړۍ یې په رسمیت وپېژني، نو؛ اسلامي امارت ته په کار دي چې د اسلامي همکارۍ سازمان هغه غوښتنې عملي کړي، کومې چې یې د پاکستان هېواد د(اسلام آباد) په کنفرانس کې د ۲۰۲۱ز.کال د ډسمبر د میاشتې په (۱۹)نېټه ترې کړي، څکه چې دغه چاره په ټوله کې کولای شي چې د اسلامي امارت په رسمیت پېژندلو کې ګټوره تمامه شي او د افغانستان ستونزې پرې تر یو بریده حل شي.

**مأخذونه**

١ – احمدزی، زاهدي. د اسلامي امت په خلاف نوي صلیبي پلانونه، لومړی چاپ، پیغام نشراتي مرکز: پېښور، ١٣٨٦.
٢ – آقایي، سید داود. سازمانهای بین المللی. چاپ اول، انتشارات سنجش:تهران، ١٣٨١.
٣ – آقایي، سید داود. سازمانهای بین المللی. چاپ یازدهم، انتشارات سرای عدالت: تهران، ١٣٩٣.
٤ – لعلستانی. جنگ قدرت(وقایع سه دهه اخیر افغانستان). چاپ اول، انتشارات سعید: کابل، ١٣٨۴.
۵ – محمد غفوری. سازمانهای بین المللی. چاپ اول،انتشارات سمت: تهران، ١٣٨٦.
٦ – موسی زاده، رضا. سازمانهای بین المللی. چاپ ششم، نشر میزان: ایران، ١٣٨۴.
٧ – فصلنامه مرکز مطالعات منطقه یی افغانستان، دویم کال، درېیمه ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ١٣٨٦هـ ش.

٨ - مرکز مطالعات استرتیژیک و منطقوي.(١٣٩۵)، د اسلامي همکارۍ سازمان او افغانستان.https://www.google.com/url?sa=t&source=we

٩ - نن ټکی اسیا. (٢٠٢٢ز) د اسلامي همکاریو سازمان کې د اسلامي امارت ډيپلوماسۍ ته کتنه.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rc

١٠ - باختر آژانس.(١۴٠٠ل) په اسلام آباد کې د افغانستان په اړه د اسلامي همکاریو سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر مولوي امیر خان متقي د وینا متن.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&

١١ - خبر گزاری جمهور(١۴٠٠ل) متقي د اسلامي همکارۍ سازمان په غونډه کې د ګډون لپاره اسلام آباد ته ولاړ.
https://www.google.com/url?sa=t&source=webs/news/١٤٥٧٧٢

١٢ - هشت صبح(١٣٩٨ل)اهمیت سازمان اسلامی برای افغانستان.
https://hashtesubh.com/the-importance-of-the-oic-for-afghansitan/

څېړندوی ولي الله ارین او پوهنیار حکمت الله سایل

# په غزنوي دوره کې د غلامانو وضعیت او رول

# The situation and role of slaves during the Ghaznavid period

***Asst. Prof. Waliullah Aryan & Teaching Asst. Hikmatullah Sayel***

**Abstract**

This paper is about the situation of slaves during the Ghaznavid period and their social, military, and administrative roles. During this time, slaves were not only the personal servants of the king (Sultan), but also held important positions in the royal administration, the army, and in the court. Slaves were the basic force of the Ghaznavid state, and the contributions of Turkic slaves were crucial for military successes and the stability of the monarchy.

The purpose of the study is to provide a comprehensive assessment of the status of slaves in Ghaznavid period. This research was carried out using the historical – analytical method. The result shows that slaves of that time attended in wars, security duties, court service, official ceremonies, and the executions of secret royal affairs. Their training and loyalty were vital for the Sultan's political strategy and for the structure of his army.

This study also describes the different types of slaves, their living conditions, the slave dealing, as well as their ranks in royal and military institutions. The findings indicates that in the Ghaznavid period, slaves not only served in the royal court, but also played essential role in strengthening of army, maintaining security, managing administrative affairs, and keeping social order. Their bravery, loyalty, and special training were helped create the power and stability of the Ghaznavid state.

**لنډیز**

دا څېړنه د غزنوي دورې د غلامانو د وضعیت او د هغوی د ټولنیز، نظامي او اداري رول په اړه ترسره شوې ده. په غزنوي دوره کې غلامان یوازې د پاچا شخصي خدمتګاران نه وو، بلکې په سلطنتي ادارو، پوځ او دربار کې یې ځانګړی مقام درلود. غلامان د غزنوي دولت د ځواک بنسټ و، په ځانګړې توګه د ترک غلامانو رول د نظامي بریاوو او د سلطنت د ثبات لپاره خورا مهم و.

د څېړنې موخه د غزنوي دورې د غلامانو د وضعیت هر اړخیزه څېړنه ده او د بشپړولو لپاره یې له تاریخي ـ تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې. څېړنه ښیي چې غلامانو د جګړې، ساتنې، د دربار د چوپړ، رسمي مراسمو او همدارنګه د سلطنتي پټو چارو په پرمخ وړلو کې برخه درلوده. د دوی روزنه او وفاداري د سلطان د سیاست او د پوځ د جوړښت لپاره حیاتي وه.

دا څېړنه د غلامانو ډولونه، د دوی د ژوند شرایط، د پېر او پلور حالت او سربېره پر دې په سلطنتي او پوځي سازمانونو کې د دوی مقامونه په تفصیل سره تشریح کوي. د دې څېړنې موندنې ښیي چې په غزنوي دوره کې غلامانو یوازې د دربار خدمت نه کاوه، بلکې د پوځ، امنیت، اداري چارو او ټولنیز نظم په ټینګښت کې یې هم حیاتي رول درلود. د څېړنې پایله په ډاګه کوي چې د

هغوی زړورتیا، وفاداري او ځانګړې روزنې د غزنوي دولت د ځواک او ثبات اساس جوړ کړ.

**کلیدي لغاتونه:** غلامان، ځانګړي غلامان، سلطنتي ګارد، ترک غلامان، غلام سرایان، سلطنتي غلامان.

**سریزه**

په دې کې شک نه شته چې انسان خدای جل جلاله د مخلوقاتو اشرف او ازاد پیدا کړی دی، خو دا چې وروسته بیا څه پېښېږي هغه جلا خبره ده. د غلامۍ کلمه او دنده د بشر په تاریخ کې خورا زیات لرغونتوب لري. غلامي د اسلام مبارک دین له ظهور څخه وړاندې هم موجوده وه او له اسلام څخه وروسته یې هم دوام موندلی چې بالاخره په دا وروستیو وختونو کې له منځه تللې ده. د غلامانو نیول، لرل او پېر او پلور په لومړیو اسلامي دورو کې هم په پراخه پیمانه موجود وو. په اسلامي ټولنو کې به هغه وخت له یو چا څخه غلام جوړېده چې له کفارو سره په جګړه کې به د مسلمانانو له خوا ونیول شو. سړي به یې غلامان او ښځې به یې وینځې بلل کېدې چې دواړه یې په اسلام کې خپل خپل احکام او اصول لري.

خو په وروسته وختونو کې بیا د غلامانو موضوع تجارتي بڼه غوره کړه. هغه مهال لا نړۍ د پرمختګ چټک ګامونه نه وو پورته کړي، د کار لپاره تر ټولو ستر او ښه ځواک یوازې انسان و. له غلامانو څخه په ټولنه کې په دوو برخو کې استفاده کېدله. لومړی په ملکي چارو یا په شخصي چارو کې، خصوصاً د کرنې په برخه کې کار ترې اخیستل کېده. دوهم دا چې په دولتي کچه د پوځونو د ملاتړ او جګړو په برخو کې ګټه ورڅخه اخسیتل کېده. څومره چې غلامانو ته اړتیا زیاتېده، په هماغه اندازه یې له یوې خوا روزنې او له بلې خوا یې تجارت پراختیا وکړه، آن تر دې چې د غلامانو د پېر او پلور لپاره ځانګړي بازارونه جوړ شوي وو.

د افغانستان په تاریخ کې د غزنوي دولتونو دوره د سیاسي، نظامي او ټولنیزو بدلونونو له پلوه یوه بنسټیزه دوره ګڼل کېږي. د دې دولت بنسټ ایښودونکی الپتګین او د هغه له کورنۍ وروسته سبکتګین او ورپسې سلطان محمود غزنوي وو، دوی نه یوازې د افغانستان په جغرافیه کې د خپلواک دولت بنسټ کېښود او پیاوړی یې کړ، بلکې د اسلامي تمدن په اډانه کې یې د ځواکمن او منظم دولت نمونه هم وړاندې کړه. په دې دولت کې غلامان د هغه مهال د دولت د بنسټیزو جوړښتونو یوه مهمه برخه وه، ځکه دوی یوازې د پاچا شخصي خدمتګاران نه وو، بلکې د پوځ، دربار، اداري او حتی د رسمي مراسمو په تنظیم کې یې ځانګړی رول درلود. غلامان له مختلفو نژادونو لکه ترک، هندي، کشمیري، دیلیمي او نورو څخه تشکیل شوي وو، خو ترک غلامان د خپلې زړورتیا، وفادارۍ او جګړه ییز مهارت له امله د نورو هغو په پرتله د لوړ مقام وړ ګڼل کېدل.

د غزنوي دولت ټولنیز جوړښت له دریو طبقو څخه جوړ شوی و: لوړه طبقه چې امیران او نجیبان په کې شامل وو، منځنۍ طبقه چې ځمکه‌وال، تجاران، کسبګر او هنرمندان په کې شامل وو او وروستۍ یا تر ټولو ټیټه طبقه چې بزګران او غلامان په کې شامل وو. غلامان د ټولنې تر ټولو محرومه طبقه وه، په داسې حال کې چې په دربار کې یې د ځانګړو او منظمو تشکیلاتو له امله د سلطنت په چارو کې غوښن رول درلود.

په دې څېړنه کې د غلامانو ډولونه، د هغوی د روزنې، د ځانګړو غلامانو رول، د غلام سرایانو جوړښت او په دربار کې د غلامانو مقامونه څېړل شوي دي. همدارنګه د غلامانو د پېر او پلور او د جګړې او سولې په وخت کې د دوی وضعیت په تفصیلي بڼه بیان شوی دی. د غلامانو د تاریخ مطالعه د غزنوي دولت د ځواک، د پوځ د جوړښت او د ټولنیزو اړیکو د پوهېدو لپاره له ګټې تشه نه ده.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې اصلي هدف په غزنوي دولتونو کې د غلامانو د وضعیت څېړنه ده. په دې څېړنه کې هڅه شوې ترڅو څرګنده کړي چې غلامانو څه ډول د سلطان د شخصي امنیت د ساتنې ترڅنګ د دولت په پراختیا، د دربار د نظم په ټینګولو او د رسمي مراسمو په ترسره کولو کې مهم رول درلود.

**د څېړنې میتود**

دا څېړنه په تاریخي، تحلیلي او توصیفي میتود سره بشپړه شوې ده.

**د څېړنې اهمیت**

دا څېړنه له دې کبله د ارزښت وړ ده چې د غزنوي دورې یو مهم اړخ تقریباً په مناسبه توګه راسپړي. سربېره پر دې هغه مهال مو د غلامانو له شخصي ژوند څخه نیولې بیا په دولت کې د هغوی تر ونډې او رول او همدارنګه په اداره او پوځ کې د هغوی د کارنامو او ارزښت په اړه پوهوي.

**د څېړنې اړتیا**

د دې موضوع څېړنه له دې کبله اړینه ده چې د غزنوي دولتونو په ټینګښت، پیاوړتیا، فتوحاتو او پرمختګ کې غلامانو ځانګړې ونډه ادا کړې ده، په دې معنا چې همدا غلامان د غزنوي دولت په اداري جوړښت سربېره د نظامي ځواک غوښنه او مهمه برخه وه او د جګړو پر مهال د نورو پوځونو ترڅنګ اوړه په اوړه د غزنوي دولت په ملاتړ او ګټه جنګېدل.

**لومړی: د غزنوي دولت بنسټ ایښودنه**

غزنوي دولت د افغانستان په تاریخ کې له خورا پیاوړو دولتونو څخه شمېرل کېږي او یوه ځلانده دوره ده. د غزنوي دولت بنسټ د الپتګین له خوا کېښودل شو. الپتګین په ساماني دربار کې د ترک غلام په توګه د شاهي ګارد غړی او د خپل مهارت او پوهې له کبله ډېر ژر په شاهي ګارد کې د افسر په توګه او وروسته حاجب الحجاب رتبې ته پورته شو. په پای کې د ساماني

دورې ډېرې لوړې پوړۍ یعنې د پوځ سپه‌سالارۍ ته ورسېد او هم د افغانستان د شمالي برخو د والي په توګه وګمارل شو. په بخارا کې د عبدالمالک ساماني له مړینې وروسته د خپلمنځي مخالفتونو له امله له نوي ټاکل شوي پاچا امیر منصور سره وجنګېد، د هغه لښکر ته یې په خُلم کې ماته ورکړه او په خپله غزني ته راغی. په غزني کې ابوبکر لاویک حاکم و، غزني یې له لاویک څخه د جګړې په ترڅ کې ونیو او همدلته یې په ۹۶۲ م. کال کې د یو خپلواک سیمه‌ییز دولت بنسټ کېښود. له الپتګین سره ژوند ډېره ملګرتیا ونه کړه او په ۹۶۴ م. کال کې مړ شو (غبار، ۲۰۱۴، ۱۱۷ ــ ۱۱۸ مخونه).

له الپتګین څخه وروسته د ده زوی ابو اسحق ابراهیم چې د پاچاهۍ لپاره وړ شخص نه و، واک ته ورسېد، مګر ډېر دوام یې ونه کړ او په ۳۵۵ هـ.ق. کې مړ شو. دا چې د الپتګین کورنۍ د واک ترلاسه کولو لپاره بل وارث نه درلود، نو څکه د الپتګین غلام او د هغه د ساتونکو قومندان بلکاتګین واکمنۍ ته ورسېد. نوموړي لس کاله په عدالت او انصاف سره پاچاهي وکړه، بالاخره په ۳۶۴ هـ.ق. کال په داسې حال کې مړ شو چې ګردېز یې محاصره کړی و. تر بلکاتګین وروسته د غزني خلکو د الپتګین یو بل غلام چې پري تګین نومېده او د سپرو پوځونو قومندان هم و، د پاچا په توګه وټاکه. نوموړی ډېر ظالم او بې رحمه انسان و، هماغه و چې خلکو نوموړی بېرته په ۳٦٦ هـ.ق. کال له قدرت څخه وغورځاوه او پر ځای یې سبکتګین د خپل پاچا په توګه وټاکه (خلیلی، ۱۳۳۳، ۳ ــ ۵ مخونه). د یادونې وړ ده چې سبکتګین د الپتګین زوم، غلام او افسر و چې تازه په تازه مسلمان شوی و. په اصل کې همدی د غزني د دولت بنسټ ایښودونکی بلل کېږي. سبکتګین د غزني د واک او پولو د پراختیا او د اسلام دین له خپرولو وروسته په ۹۹۷ م. کال وفات شو (غبار، ۲۰۱۴، ۱۱۷ ــ ۱۱۸ مخونه).

فروزاني د سبکتگین په اړه لیکلي: سبکتگین د ترکستان له برسخان قبیلې څخه و او د ژوند په لومړیو وختونو کې یې کوم ځانګړی ټولنیز موقف نه درلود. د سبکتگین د ژوند پر مهال ترکانو رواج درلود چې یوې قبیلې به پر بلې قبیلې حمله کوله او هغه به یې تر خپل واک لاندې راوسته. سبکتگین هم په همداسې یوه حمله کې ونیول شو. نوموړی له نیول کېدو څلور کاله وروسته د څو کسانو له لوري د پلور په نیت ماوراءالنهر ته یووړل شو، سبکتگین او له ده سره نور لس غلامان د نصر چاچي په نوم یو مسلمان تجار واخیستل او بالاخره په بخارا کې په الپتگین باندې وپلورل شو. سبکتگین همدلته په نظامي برخه کې له ځان څخه د وړتیا په ښودلو سره خپل ځان ثابت کړ او لوړو پوړیو ته ورسېد (فروزانی، ۱۳۸٦، ۷۷ مخ).

سبکتگین پر غزني او شاوخوا سیمو باندې په اخلاص او عدالت سره واکمني وکړه، د هېواد د یووالي او له پردیو څخه د خلاصون په موخه یې هرې خوا ته لښکرې بوتلې، سوبې یې وکړې او له دښمنانو سره په زړورتیا مخامخ شو. نوموړی تر ۲۰ کاله پاچاهۍ وروسته په ۳۸۷ هـ.ق. کال مړ او په غزني کې خاورو ته وسپارل شو (خلیلی، ۱۳۳۳، ۱۸ ـ ۱۹ مخونه) پر ځای یې د هغه ۲۷ کلن زوی سلطان محمود واک ته ورسېد (غبار، ۲۰۱۴، ۱۱۸ مخ).

**دوهم: د غزنوي دولت ټولنیز طبقاتي جوړښت:** په غزنوي دوره کې په ټولنیز لحاظ درې طبقې موجودې وې.

۱ ـ ممتازه یا لوړه طبقه: په دې طبقه کې امیران او نجیبان شامل وو. دوی د وزارتونو، مهمو ریاستونو او پوځونو د مشرتابه منصبونه درلودل او له ښه ژوند څخه برخمن وو.

۲ ـ متوسطه یا منځنۍ طبقه: په دې طبقه کې ځمکه‌وال، تجاران، کسبکاران، هنرمندان، طبیبان او ښوالان شامل وو چې تر یو حده یې ارام ژوند درلود، خو د خپل مال او ځان د ساتنې په خاطر اړ وو چې لوړه مالیه ورکړي.

۳ ـ بزګران او غلامان: دا طبقه د ټولنې تر ټولو خواره او ځپل شوې طبقه وه. دوی له هر ډول ټولنیزو او انساني امتیازاتو څخه بې برخې وو (مجاهد، ۱۳۸۸، ۱۴۰ مخ).

**درېيم: په غزنوي دوره کې د غلامانو ډولونه**

**۱ ـ ترک غلامان:** هغو غلامانو ته يې ويل چې له ترک نژاد څخه وو.

**۲ ـ خاصه غلامان:** د هغو غلامانو ډله وه چې د پاچاهانو شا ته به درېدل.

**۳ ـ خانه زاد غلامان:** هغه غلامان يا خدمتګاران وو چې په دربار کې د پاچا د خدمت لپاره روزل کېدل.

**۴ ـ خواجه سرا غلامان:** د ښايسته مخو غلامانو يوه ډله وه، دوی خصي شوي وو او د پاچا تر شا به درېدل.

**۵ ـ ساده غلامان:** هغه غلامان وو چې خصي شوي نه وو، دوی هغه ساده غلامان وو چې په داوطلب ډول به يې د سلطان خدمت کاوه يا به خاص د سلطان د خدمت لپاره روزل کېدل.

**٦ ـ غلام سرا يا کورنی غلامان:** هغه غلامان وو چې د پاچا حرم سرای ته دننه ورتلی شوای او ظاهراً هماغه خواجه سرا غلامان دي.

**۷ ـ کشميري غلامان:** هغه غلامان وو چې له کشمير څخه به وو.

**۸ ـ کشيک خانه غلامان:** هغه غلامان وو چې ساتنه به يې کوله.

**۹ ـ هندو غلامان:** هغه غلامان وو چې له هند څخه وو (غلام، بې تا).

دا چې غلام سرا يې خصي شويو غلامانو ته ويل که نه؟ په دې اړه مختلف نظريات موجود دي. وايي چې (سرائی) د ماڼۍ او ځای په معنا راغلی دی. د بيهقي د روايت پر بنسټ غلامان سرائي يا غلامان سرا د سلطان ځانګړي غلامان وو چې همېشه به له هغه سره وو او د نوموړي د ساتنې دنده يې پر غاړه درلوده. يا په بل عبارت غلامان سرا د غزنوي پاچاهانو ځانګړی سلطنتي ساتونکی ګارد و چې منظم تشکيلات يې درلودل. د دې ډلې شمېر ثابت نه و او په ترتيب سره زياتېدل. لکه چې د سلطان مسعود غزنوي د حکومت په

لومړیو کې یې شمېر ۴۰۰۰ تنه، خو د سلطنت په وروستیو کې یې شمېر ٦۰۰۰ تنو ته ورسېد. د دې لپاره چې دا غلامان تل له سلطان سره نږدې وي، ترڅو خپله دنده ښه ترسره کړي، نو د اوسېدو لپاره یې یو ځانګړی ځای ته اړتیا درلوده، له همدې کبله به یې د پاچا د ماڼۍ د جوړولو پر مهال د سرای په شاوخوا کې د دوی لپاره اطاقونه جوړول. د یادونې وړ ده چې د سامانیانو له دورې څخه وروسته د غلامانو لوی مرکزونه د سلطان محمود غزنوي او سلطان مسعود غزنوي دربارونه بلل کېدل. د غلامانو لهمنځه تُرکي غلامان تر نورو نېک او غوره ګڼل کېدل. د تُرکي غلامانو ښه هنرونه دا وو چې باید زړور او متعصب وای او ښکاره دښمني یې کولی. په غلامانو کې تر نورو نژادونو تُرک نژاده غلامان ډېر وو، دوی ته په مختلفو برخو کې مختلفې چارې ورسپارل کېدې لکه: جګړه کول، ښکار، ساتنه، له مقاماتو څخه استقبال او ساقي توب (اخیانی او احمد، ۱۳۹۳، ۴ مخ).

**څلورم: په غزنوي دوره کې د غلامانو ارزښت، پېر او پلور**

دا چې نوموړو غلامانو یو درووند مسؤولیت یعنې د پاچا ساتنه پر غاړه درلوده، نو په غوره کولو کې یې له خورا دقت څخه کار اخیستل کېده، د ښکلا پر معیار سربېره چې په ټولو انتخابونو کې لومړی و، د هغوی د امنیتي مسایلو ساتنې ته هم ډېره پاملرنه کېده. له دې غلامانو څخه ځینې یې د پاچا د ځانګړې پاملرنې وړ ګرځېدل او سلطان ته ډېر نږدې کېدل چې د خاصه یا ځانګړو غلامانو په نومونو یادېدل (اخیانی او احمد، ۱۳۹۳، ۵ ـ ٦ مخونه).

په غزنوي دوره کې غلامان له لوړ ارزښت څخه برخمن وو. غلامان به د سوغاتونو په توګه د نورو سیمو پاچاهانو ته لېږل کېدل. په غزنوي دوره کې له غلامانو څخه په مختلفو برخو کې کار اخیستل کېده. لویو او شتمنو خلکو به غلامان تر ځانګړې روزنې لاندې نیول او کله به چې له غلامۍ څخه ازاد شول، نو بیا د دولت په ملکي ادارو کې هم نیول کېدل او نور به یې په پوځ کې شاملېدل (غبار، ۲۰۱۴، ۱۴۱ مخ).

د غزنوي پوځونو له لوري له فتح شويو سيمو لکه: سمرقند، خوارزم، هند او عراق څخه ډېر کسان د غلامانو په شکل د غزني ښار ته راوړل کېدل، د دې غلامانو په منځ کې به د مختلفو کسبونو کسب کاران هم وو، دوی به په مختلفو خصوصي او دولتي دندو گمارل کېدل. د دې غلامانو په راوړلو سره غلام داري ډېره وده وکړه او غزني د غلامانو د پېر او پلور په لوی مرکز بدل شوی و (مجاهد، ۱۳۸۸، ۱۱۴ مخ).

په غزنوي دوره کې د غلامانو ډېر والی، پېر او پلور له دې هم څرگندېږي: کله چې سلطان محمود غزنوي د قنوج کلا (د هند په اوتر پردېش ايالت کې واقع ده) ونيوله، نو دومره غنيمتونه يې ترلاسه کړل، چې په فکر کې يې هم نه گرځېدل. په دې سفر کې يې ډېر زيات غلامان او بنديان له ځان سره غزني ته راوړل. باسورث د دې غلامانو شمېر ۵۳۰۰۰ تنه ښودلی دی، د دې غلامانو شمېر دومره ډېر وو چې د غلامانو په پېر او پلور کې کموالی راغی او نور نو چا په اسانۍ سره غلام نه اخيست، ځکه چې شمېر يې بيخي ډېر شوی و. په دې وخت کې د هر انسان بيه چې د غلام نوم پرې پروت و، ۱۲ درهمه وه. پر هغو غلامانو سربېره چې د ډالۍ په توگه ورکول کېدل، يو شمېر نور هم په جگړو کې د نيول کېدو له لارې له نورو غلامانو سره يو ځای کېدل، خو دا غلامان ځانگړي وو او د خرڅېدو لپاره نه وو (مددی، ۱۳۸۹، ۳۲۹ مخ).

په غزنوي دوره کې غلام او غلام داري دومره عامه وه چې غلام داري يوازې په دربار پورې اړه نه درلوده، بلکې د دربار مشرانو هم په گڼ شمېر سره غلامان لرل. وايي چې کله امير يوسف د سلطان له راتگ څخه خبر شو، نو له خپل زوی او پنځوس تنه خاص غلامانو سره يې د امير مخې ته حرکت کاوه. ابوالفرج چې د سلطان محمود د باور وړ کس و او ډېر مهم کارونه يې پر غاړه اخيستل، د سلطان له خزانې څخه يې خپلو ۷۰ تنه تُرک غلامانو ته زرين ملابندونه او نور د اړتيا وړ شيان ورکول. له دې څخه معلومېږي چې هر مشر او لوړ پوړي به زيات غلامان درلودل (مددی، ۱۳۸۹، ۳۳۰ مخ).

یوازې د سلطان محمود په دربار کې ۴۰۰۰ غلامان موجود وو، دوی به په رسمي ورځو کې له ځانګړي لباس سره د امیر دواړو خواوو ته درېدل، ۲۰۰۰ غلامانو به څلور پره خولۍ پر سر کولې، له دوی سره به زرین ګرزونه هم وو او د سلطان په ښي اړخ کې به درېدل. ۲۰۰۰ نورو غلامانو چې دوه پره خولۍ به یې پر سر کولې او د سپینو زرو ګرزونه به ورسره وو، د سلطان په چپ اړخ کې درېدل (میهن ورد، ۱۳۸۸، ۱۰۹ ــ ۱۱۰ مخونه).

کله کله به یو شمېر غلامان د کاونډیو هېوادونو د امیرانو له لوري غزنوي دربار ته د ډالۍ په توګه استول کېدل او غزنوي دربار به هم هغوی له نورو غلامانو سره یو ځای کول. لکه چې قدر خان د نورو ګران بیه ډالیو ترڅنګ یو شمېر تُرک غلامان د سلطان محمود غزنوي دربار ته لېږلي وو. همدارنګه کله چې سلطان مسعود د داد غازي ځای او مالونه مصادره کړل، نو د هغه ټول غلامان یې هم ونیول، کوم غلامان چې د سلطان د خوښې وړ وو، هغه یې له خپل ځان سره وساتل او پاتې یې خپلو حاجبانو ته ورکړل. سلطان مسعود په خپل دربار کې ۶۰۰۰ غلامان درلودل (مددی، ۱۳۸۹، ۳۳۱ مخ).

**پنځم: د غزنویانو په اداري او نظامي تشکیلاتو کې د غلام سرایانو موقفونه**

**۱ ــ د غلام سرایانو سالار:** له نوم څخه یې ځرګنده ده چې نومووړي د غلامانو د قومندانۍ دنده پر غاړه درلوده. یعنې څه ډول چې په جګړو کې د نورو لښکرو سپه سالارانو د خپلو عسکرو قومانده پر غاړه درلوده، هماغه ډول د غلام سرایانو سالار هم د غلام سرایانو یا د سلطان د ځانګړي ګارد چارې پر غاړه درلودې او وروسته بیا دې دندې ډېر ارزښت پیدا کړ. دا چې هغه مهال څومره غلام سرایانو یو سرهنګ یا څو حاجبان درلودل، په اړه یې دقیق معلومات نه شته، خو په یو ځای کې وایي چې له پاچا سره پنځو حاجب سرایانو ملګرتیا کوله (اخیانی او احمد، ۱۳۹۳، ۷ مخ).

**۲ ـ د دروازې وکیل:** دې کس د سلطان د دربار نوبتي چارې لکه د حاجبانو او منشیانو نوبتي کارونه برابرول.

**۳ ـ حاجب:** په غزنوي دربار کې د غلامانو ډېره لویه رتبه وه او په اسانۍ سره نه شوای ترلاسه کېدای. غلام به له اوه کاله خدمت وروسته د خېل‌باشي مقام ته رسېده او له هغه وروسته به د حاجب پر مقام ټاکل کېده.

**۴ ـ لوی حاجب:** لوی حاجب د دربار له ځانګړو څخه بلل کېده چې د سلطان په وړاندې به یې نږدېوالی او مقام درلود. لوی حاجب به له دې امله چې د سلطان د خاص باور وړ و، په یو لوی منصب به یې ټاکه. د بېلګې په توګه کله چې د خوارزم خاوره د غزنوي دولت برخه وګرځېده، نو سلطان محمود غزنوي خپل لوی حاجب التون تاش د هغې سیمې د خوارزم شاهي لپاره واستاوه.

**۵ ـ حاجب الحجاب:** د هېواد له لوړو پوړیو څخه بلل کېده او د دربار د لویو حاجبانو په سر کې یې ځای درلود.

**٦ ـ پرده دار:** ځینو لیکوالانو په خپلو آثار کې له دې مقام څخه یادونه کړې ده او لیکلي یې دي چې په دربار کې یوه ډله خدمتګاران وو چې د پردې ساتنه به یې کوله. په دې اړه د بیهقي نقل داسې دی: ((امیر هغه خادم ته چې پرده یې ساتله، غږ وکړ چې بوسهیل حمدوي دربار ته احضار کړئ.)) .

علي قریب د محمود لوی حاجب و، وایي چې کله به لوی خواجه په خپل ځای کې نه و، نو سلطان به خپل امرونه د لوی حاجب په وسیله لوی خواجه ته رسول. نو ویلی شو چې لوی حجاب به د سلطان شفاهي امرونه وزیرانو ته رسول. همدارنګه سلطان محمود التون تاش د دربار د غلامانو په مشرۍ او لوی حاجب مقام باندې وټاکه.

**۷ ـ دوات دار:** په غزنوي دربار کې یو شخص د دوات دار په نوم په خدمت بوخت و، کله به چې سلطان کوم لیک یا فرمان لاسلیک کړ، نو نوموړی کس مؤظف و چې ځانګړی دوات (لوښی) راوړي. په دې اړه یې لیکلي: ((امیر

مسعود لیک ولوست، له هغه وروسته دوات دار ځانګړی دوات مخې ته راوړ او د لیک په پای کې یې په خپل خط په تازي او دري ژبه هغه عهدنامه چې له بغداد څخه یې راوړې وه، لاسلیک کړه.)) د یادونې وړ ده چې ځینو پورتنیو موقفونو ته لکه: حاجب، لوی حاجب او حاجب الحجاب ته یوازې غلامانو نه، بلکې نورو ازادو او وړ کسانو هم لار موندلې شوای (مددی، ۱۳۸۹، ۳۲۲ ــ ۳۲۴ مخونه).

**شپږم: په غزنوي دولتونو کې د غلامانو شمېر:** په غزنوي دوره کې د سبکتګین، سلطان محمود او سلطان مسعود د حکومتونو پر مهال د ځانګړو غلامانو یا غلام سرایانو شمېر یو شان نه و. د سبکتګین په دربار کې به ۱۰۰۰ تنه غلامان حاضر وو. د محمود په اړه یې بیا لیکلي: کله چې محمود د خوارزم له جګړې څخه راستنېده، له نورو غلامانو پرته د ځانګړو سپرو شاوخوا ۱۵۰۰ ځانګړي غلامان یې په خدمت کې وو او په دربار کې یې د ده د غلامانو شمېر ۴۰۰۰ تنه ښودلی دی. دا شمېر په وروستیو وختونو کې د ری او اصفهان د حملې پر مهال له ۷۰۰۰ څخه ډېر و. د عباسي خلیفه سفیر چې هغه مهال د سلطان محمود دربار ته راغلی و، د دربار د لوړتیا او د سلطان د قدرت په اړه داسې ویلي دي: د سربازانو د صفونو له منځ څخه د تېرېدلو پر مهال مو تُرک غلامان ولیدل، دا غلامان د کوشک په تالارونو کې په ساتندویي ګمارل شوي وو چې ټول یې وسله‌وال وو. وایي چې د دې غلامانو شمېر ۱۰۰۰۰ تنو ته رسېږي. د سلطنت پر تخت د سلطان مسعود له کښېناستلو یو کال وروسته د درباري غلامانو شمېر ۴۰۰۰ تنه و. د دې ۴۰۰۰ غلامانو له منځه د ځانګړو غلامانو یوه ډله وه چې د دربار، رسمي مراسمو او ښکار په ورځو کې به د سلطان تر خوا درېدل. د دې ځانګړو غلامانو له منځه بیا یوه بله ٥٦ کسیزه ډله اخص الخاص غلامان وو، دوی په ماڼۍ او سلطنتي سرایونو کې ځانګړی مقام او ځای درلود او په زېوراتو پسولل شوي کمربندونه یې تر ملا تړل. د سلطان مسعود له سلطنت څخه ۴ کاله وروسته هغه مهال چې سلطان

مسعود په بلخ کې و، د دې غلامانو شمېر ٦۰۰۰ تنه ته رسېده (جویا، ۱۴۰۱، ۲۲ ــ ۲۴ مخونه).

**اووم: د غزنوي پوځ په تشکیلاتو کې د غلامانو رول:** غزنوي کورنۍ په غزني کې د سلطنت له تأسیس څخه وړاندې په ماوراءالنهر کې له سامانیانو سره په اړیکه کې وو او د هغوی په دربار کې یې چوپړ کړی. له همدې کبله و چې د خپل خپلواک دولت پوځ یې هم د ساماني دولت له تجربو څخه په استفادې سره جوړ کړی و. د دې دورې ډېرې تاریخي سرچینې پر دې گواه دي چې د غلامانو موضوع د هغه ورځ د اسلامي دولتونو په منځ کې د بحث وړ موضوع وه (میهن ورد، ۱۳۸۸، ۱۰۱ مخ).

که څه هم د غزنویانو په دوره کې د غلامانو د ښوونې او روزنې په اړه کره معلومات په لاس کې نه شته، خو ویل کېږي چې د جگړې په میدان کې یې د تجربې د ترلاسه کولو په موخه عملي بڼه درلوده، یعنې د جگړې په میدان کې به روزنه ورکول کېده او عملي تمرینونه به یې کول (بوس ورث، ۱۳۸۴، ۱۰۰ مخ).

د سلطان محمود غزنوي په پوځي تشکیلاتو کې د نورو په پرتله د تُرکانو ونډه ډېره وه. د هغه وخت د اسلامي لیکوالانو په قول تُرک غلامانو ته ځکه ډېره ترجیح ورکول کېده چې له یوې خوا ډېر پیاوړي، زړور او وفادار وو او له بلې خوا په جنگي چارو کې خورا ډېر ماهر او روزل شوي وو چې له همدې کبله یې لوړ شهرت هم تر لاسه کړی و. دا چې دې غلامانو یوازې جنگي چارو ته ډېره پاملرنه کوله، پایله یې دا وه چې په نورو چارو کې یې پوهه ډېره کمه وي. د یادونې وړ ده چې د سرحدي پولو ساتنه هم د همدې تُرک غلامانو پر غاړه وه او په دې برخه کې یې ښه تجربه لرله (میهن ورد، ۱۳۸۸، ۹۷ مخ).

سلطان محمود د هند په خاوره کې له ځینو فتوحاتو او سوبو وروسته هندي غلامان هم په خپل پوځ کې شامل کړل. په دې اړه د ځینو لیکوالانو نظر دا دی چې سلطان په پوځ کې له تُرک غلامانو سره د توازن په موخه

هندي غلامان په پوځ کې شامل کړي وو او د هندي غلامانو لپاره يې په غزني کې جلا ځای جوړ کړی و (میهن ورد، ۱۳۸۸، ۱۰۳ مخ).

دیلیمي غلامان د محمود په پوځ کې د ابو علي سیمجور او محمود ترمنځ له جګړې وروسته د غزني په پوځ کې شامل شول. دیلیمي غلامانو په پیاده جګړو کې د پام وړ شهرت درلود (جویا، ۱۴۰۱، ۵ مخ).

غزنوي پوځ د هغه مهال له پیاوړو پوځونو څخه ګڼل کېده. دا ځکه چې په نوموړي پوځ کې له مختلفو نژادونو څخه سربازان موجود وو او د عسکرو دا نژادي تنوع د دې سبب کېده چې همېشه سلطنت ته وفادار وي. خو د دې عسکرو په منځ کې ډېری يې تُرک غلامان وو او دا چې همدې تُرک غلامانو په سیمه‌ییزه ټولنه کې ریښه او اړیکې نه لرلې، نو غزنوي سلطنت ته يې وفاداري لا زیاتوله. دې غلامانو ځکه دلته کومه اړیکه او ریښه نه درلوده چې له دارالکفر څخه به يې راوړل. اربابانو به د دوی ذهن وربدلاوه او په جسمي لحاظ به يې د جګړې لپاره چمتو کول. بالاخره پاچا ته به يې د وفادارۍ د ژمنې په ورکولو سره له هغه (پاچا) سره پیوستون پیدا کاوه او په ساده توګه به يې پاچا ته خپله وفاداري ښودله. دې غلامانو به د سیمه‌ییزو پوځونو برخلاف شخصي ګټې هم نه درلودې (حیدری، ۱۳۹۰، ۱۷۰ مخ).

د ځینو لیکوالانو په باور سلطان محمود غزنوي دا عادت درلود چې خپل لښکر يې له مختلفو نژادونو لکه: تُرک، افغانانو، عربو، هندیانو، دیلیمیانو، غوریانو او نورو څخه جوړاوه. په پوځ کې د دې هرې ډلې مقام او ځای معلوم و. هرې ډلې د بلې ډلې له وېرې کوښښ کاوه چې په جګړه کې ښه رول ولوبوي او هڅه به يې کوله ترڅو څوک ونه وايي چې فلانۍ ډلې په جګړه کې سستي وکړه (محمدناظم، ۱۳۸۵، ۲۰۲ مخ).

د دې نظامي ډلو نظم او اداره د اړوند ډلو د مشرانو له خوا کېده او دا ټول مشران بیا د سلطان محمود تر ځانګړي نظارت او څارنې لاندې وو. د هرې دستې مشر اړ و چې له خپلو زامنو څخه یو تن له سلطان محمود سره د

ضمانت «گروګان» په توګه پرېږدي (میهن ورد، ۱۳۸۸، ۱۰۲ مخ). بنایي په دې اړه د سلطان محمود نیت دا هم وو ترڅو پوځ سره یو لاس نه شي او د ده پر ضد پاڅون ونه کړي. همدې له مختلفو جنسونو څخه جوړ لښکر د سلطان محمود په بریاوو کې ډېر مهم رول لوبولی او له ده څخه یې ستر فاتح جوړ کړ. د مشرانو د زامنو په برمته کولو کې یې هدف دا و، ترڅو نوموړي پوځي مشران له سلطان محمود څخه د لرې والي په صورت کې سرکشي ونه کړي.

د سلطان محمود د غلامانو د شمېر په اړه وایي چې ۴۰۰۰ تُرک او ۴۰۰۰ هندي غلامان به همېشه په دربار کې اوسېدل (مددی، ۱۳۸۹، ۳۲۸ مخ).

تر سلطان محمود وروسته د ابراهیم لښکر هم له څو ملیتونو څخه ترکیب شوی و چې غلامان هم په کې شامل وو. کله چې ابراهیم اګرې ته لښکرکشي وکړه، نو هلته غلامانو جګړه کوله. په پخوا وختونو کې غلام سرایان د تُرک له احتیاطي عسکرو څخه عبارت وو، مګر داسې ګومان کېږي چې دا مهال نو د دوی یوه برخه هندي غلامانو هم جوړوله. ویل کېږي چې وروستیو غزنوي شاهانو د خپلو اسلافو په څېر تُرک غلامانو یعنې د مرکزي اسیا غلامانو ته مستقیم لاسرسی نه درلود. د سلطان مسعود نفوذ د امو سیند تر څنډو، خوارزم، چغانیان او ختلان پورې رسېده، سلطان مسعود له قره خطایي کورنۍ سره ښې اړیکې درلودې او له همدې لارې یې د منځنۍ اسیا له صحرا څخه د غزنوي پوځ لپاره تُرکي غلامان برابرول چې د غزنوي کورنۍ اخلافو لاسرسی ورته نه درلود او دا معلومه نه ده چې د سلطان ابراهیم د سلطنت پر مهال تُرکي غلامان څه ډول د دوی سیمو ته راوړل کېدل. د یادونې وړ ده چې دا مهال هم د غزنوي پوځ لویه برخه تُرکي غلامانو تشکیلوله (بوس ورث، ۱۳۶۷، ۷۹ مخ).

د سلطان محمود له مړینې څخه وروسته په قدرت کې د غلامانو لاس خلاص شو. څومره کنټرول چې سلطان محمود پر خپلو غلامانو درلود، سلطان مسعود هغومره کنټرول نه پرې درلود. همدا لامل و چې د نوموړو غلامانو

ترمنځ سخته سيالي پيل شوه، دې کار په غزنوي دولت باندې منفي اغېز پرېښود. سلطان مسعود د پلار د وخت له ګڼو غلامانو سره ډېر بد چلند وکړ، ځينې يې زندان ته واچول او ځينې نور يې ووژل. د سلطان مسعود دې عمل نه يوازې پوځ کمزوری کړ، بلکې د غلامانو د وفادارۍ په برخه کې يې هم منفي رول ولوباوه (جويا، ۱۴۰۱، ۹ مخ).

**اتم: د غلامانو روزنه**

د بارتولد په قول د غلامانو شمېر ورځ تر بلې ډېرېده او د دربار رواج داسې وو چې غلامان به يې اخيستل، همدا غلامان اړ وو چې د يو کال لپاره د پياده عسکرو په ډله کې خدمت وکړي او دا اجازه يې نه درلوده چې په ښکاره يا په پټه په آس باندې سورلي وکړي. له دې قول څخه داسې ښکاري چې اول به يې غلامانو ته پوره روزنه ورکوله او له هغه وروسته به يې مسؤوليت ورسپاره. د دې غلامانو لپاره ځانګړې طريقه په پام کې نيول شوې وه، هغه داسې چې د غلامانو ټولې ډلې به له يو بل څخه په وېره او ډار کې وې او له ډېرې وېرې څخه يې هېڅ غلط کار هم نه کاوه.(مددی، ۱۳۸۹، ۳۲۸ مخ).

**نهم: غلامان د سلطنتي ګارد په تشکيل کې**

د غزنوي شاهي دربار د داخلي او بهرني امنيت د ساتلو لپاره يو ځانګړی ګارد جوړ شوی و، د دې ګارد ټول غړي وفادار غلامان وو. همدې ګارد د سلطان او د هغه د کورنۍ د ځان او مال د ساتلو دنده پر غاړه درلوده. دا چې نوموړی مسؤوليت خورا حساس، دروند او مهم و، نو سلطان په خپله ترې څارنه کوله. آن تر دې چې د دوی د رهبري لپاره يې جلا کسان ګمارلي وو، ترڅو د دربار له خارجي نظامي او سياسي لاسوهنو څخه په امن وي. د ساتندوی ګارد د غلامانو پوځ له ځانګړو سلسله مراتبو څخه برخمن و، هغه کسان چې له ځانګړي لياقت او اعتبار څخه برخمن وو، د غلامانو د سلطنتي ګارد د قومندانانو په توګه ټاکل کېدل او يا هم د غلام سرايانو د سالار په توګه پېژندل کېدل. شاهي غلامانو د تورې او زمري په علامه مزين شوي بيرغونه

درلودل. په تشریفاتي مراسمو کې د صفونو جوړول او د سلطان د شاوخوا ټول مسؤولیت د غلامانو پر غاړه وو. د ځانګړو مراسمو پر مهال به غلامانو ته په سرو زرو ښکلي شوي لباسونه او له سرو او سپینو زرو څخه جوړې شوې او ښکلې شوې وسلې ورکول کېدې. ډېر د پام وړ غلامان به د وسله وال، چتر دار (چې د سلطان تشریفاتي چتر به يې د هغه د سر له پاسه انتقالاوه) او بیرغ وړونکي پر دندو ټاکل کېدل او هر ځانګړي غلام به د خپل ځان لپاره يو خدمتګار درلود. په مختلفو دورو کې د غلام سرايانو شمېر مختلف و، يعنې کله کله به يې شمېر تر ۴۰۰۰ او کله به بيا تر ٦۰۰۰ تنو پورې رسېده (حیدری، ۱۳۹۰،١٦۰ ـ ١٦١ مخونه).

شاهي غلامان د جګړې پر مهال له نورو لښکرو یا پوځیانو څخه جلا جنګېدل، اکثره وخت به دوی د لښکر په زړه کې جګړه کوله او پر دښمن به يې مخامخ په ضربتي توګه حملې کولې. دوی به د غزنوي عسکرو له بولندوی څخه قومانده نه تر لاسه کوله، بلکې د خپلو حاجبانو په امر به يې نظامي اقدامات تر سره کول. د غلامانو ترڅنګ به سلطان ته د تابع مشرانو زامن هم د برمتې په ډول په دربار کې اوسېدل. همدارنګه ځینې غزنوي عُمال به چې کله د کوم مهم کار لپاره نورو سیمو ته لېږل کېدل، نو زامن به يې خامخا په غزنوي دربار کې پرېښودل، ترڅو د سلطان له امر څخه سرغړونه او مخالفت ونه کړي، لکه د خوارزم شاه زوی التون تاش چې په غزنوي دربار کې اوسېده (حیدری، ۱۳۹۰، ١٦٢ مخ).

د سلطان خاصه یا ځانګړي غلامان به چې په رسمي مراسمو کې له اس څخه کښته کېدل، نو ځانګړې وسلې به ورسره وې لکه: نېزه، لیندۍ او ګرز. هر غلام سرا د خپل ځان لپاره شخصي خدمتګار درلود. يو خاصه غلام ته د دوو خدمتګارانو ورکول يو ځانګړی امتیاز و (جویا، ۱۴۰۱، ۹ مخ).

له غلامانو څخه ځانګړی تشکیل شوی ځواک یا ځانګړي غلامان یوازې د سلطان محمود د امر پیرو وو. همدې ډلې د غزنوي پاچاهانو په ځانګړې توګه

د سلطان محمود د نظامي ځواک د پیاوړتیا او د اوج د استعداد بیان کاوه. کله کله داسې هم کېدل چې خاصه غلامان به یې د اړتیا او د سلطان د باور له مخې له نورو عادي پوځونو سره هم جګړو ته لېږل. ځانګړي یا خاصه غلامان به تل د یو مشرف له لوري څارل کېدل، مشرف به د سلطان له لوري ټاکل کېده. نوموړي مشرف به د غلامانو ټولې خبرې او رازونه په پرلپسې توګه سلطان ته رسول (جویا، ۱۴۰۱، ٦ ــ ۷ مخونه).

**لسم: د سولې او جګړې پر مهال د غلامانو حالت**

لکه چې مخکې اشاره ورته وشوه چې د غلام سرایانو په ټاکلو کې تر ټولو مهم معیار د هغوی ښکلا وه. د سولې په وختونو کې به همدې ښکلو غلامانو د سلطان د مجلس جلال، آرایش او ښکلا جوړوله. په داسې مواردو کې به دوی په سیم او زر باندې پوښل شوې ښکلې جامې اغوستې او د مراسمو د جوړېدو د ځای په شاوخوا کې به ولاړ وو. خاصه یا ځانګړي غلامان به امیر ته نږدې درېدل. د سولې پر مهال د غلام سرایانو بله دنده له سلطان سره د ښکار په نیت ملګرتیا کول وو او له سلطان سره به ښکار کولو ته تلل. همدارنګه غلام سرایانو به د سلطان پیغامونه، په ځانګړې توګه د بري زیري وړل او د دې کار لپاره به سلطان کله کله خپله ګوتمۍ هم د نښې په توګه هغوی ته ورکوله، د سلطان دا کار د دې ښکارندویي کوي چې نوموړي پر هغوی څومره باور درلود. د غلام سرایانو ډېر ارزښت به د جګړې پر مهال څرګندېده. دوی ډېر زړور او تکړه جنګیالي وو چې د لښکر په زړه کې به یې د سلطان په خوا کې ځای نیو او د هغه تر خوا به جنګېدل. دا چې نوموړي غلامان د ځانګړي سلطنتي ګارد په توګه تر پاملرنې لاندې وو، نو ځکه خو له مادي پلوه هم په بشپړ ډول تأمین کېدل. د جګړې پر مهال به په ټول زور سره جنګېدل او ځانونه یې نه دریغول. همدې اړتیا ته په کتو په جګړو کې د هغوی موجودیت اړین او سرنوشت ټاکونکی و. غلام سرایانو به د مناسبو تأميناتو د نه شتون په صورت کې له جګړې څخه سرغړونه کوله او د بولندویانو اندېښنه به یې

راپاروله. په جګړو کې د دوی رول دومره ارزښتمن و چې ګډون به يې د بريا او نه ګډون به يې د ماتې لامل ګڼل کېده. لکه په هند کې د «هانسي کلا» په نيولو کې چې غلام سرايان د برياليتوب لامل ګڼل کېږي (اخيانی او احمد، ۱۳۹۳، ۹ ــ ۱۰ مخونه).

همدارنګه د «بهيم نګر کلا» د نيولو پر مهال هم د دوی مېړانه ثابته ده. په هغه جګړه کې چې د بهيم نګر د کلا پر سر د سلطان محمود او هندوانو ترمنځ پېښه شوه، نږدې و چې هندوان بريالي شي، خو سلطان محمود له خپلو ځانګړو غلامانو سره حمله پرې وکړه او هندوان يې تېښتې ته اړ کړل. په دې جګړه کې د محمود دوه لوی حاجبان التون تاش او اسغتګين هم شامل وو. اسغتګين د سلطان محمود له خوا د بهيم نګر په کلا کې د زرو د ساتلو په موخه پرېښودل شو. همدارنګه کله چې سلطان محمود د قنوج پر سفر تللی و، نو په يو ځای کې داسې اوبو ته ورسېد چې بلې غاړې ته يې دښمن پروت و. سلطان خپلو ځانګړو غلامانو ته امر وکړ چې له اوبو څخه تېر شي. ۸ تنه غلامانو مخکې وځغاستل، له اوبو څخه تېر په اسونو سپاره شول او ۲۷۰ پيلان يې په غنيمت ونيول. په يو بل روايت وايي چې د سلطان ٦۰ تنه ځانګړي غلامان له اوبو څخه تېر شول او د جيپال ټول لښکر ته يې ماته ورکړه (جويا، ۱۴۰۱، ۸ ــ ۹ مخونه).

د غلام سرايانو پوځونه او نور پوځونه يو له بله سره جلا وو او ځينې وختونه به يې د لښکرکشيو او جنګونو پر مهال د خوراکي توکو او حيواناتو د وښو پر سر يو له بل سره جنګونه کول چې کله کله به خبره آن تورې ته هم رسېده. غلام سرايانو د غشو په ويشتلو کې خورا زيات مهارت درلود او د دوی ځانګړې وسله هم غشي او ليندۍ وو. آن تر دې چې د سولې پر مهال به هم په سلطنتي مراسمو کې له ليندۍ او غشو سره ولاړ وو (اخيانی او احمد، ۱۳۹۳، ۱۱ مخ).

**پایله**

په انساني ټولنه کې د طبقاتي نظام رامنځ ته کېدل ډېره پخوانۍ موضوع ده. له ډېرو وختونو راپه دې انساني ټولنې له درېیو طبقو (لوړه طبقه، منځنۍ طبقه، ټیټه طبقه) څخه جوړې شوې دي. په دې منځ کې تر ټولو خواره طبقه وروستۍ یا د ټولنې ټیټه طبقه ده. دا طبقه تل د لوړې طبقې ښکار ګرځېدلې او د ژوند په مختلفو برخو کې یې د خپل شان، شوکت او راحت لپاره د هغوی له وینو او خولو څخه ګټه اخیستې ده. د ټیټې طبقې یوه برخه غلامان تشکیلوي چې موجودیت یې له پخوا وخته ثابت دی. غلامان هم په ملکي او هم په سیاسي برخو کې کارول شوي او امتیاز پرې اخیستل شوی دی.

د تاریخ په اوږدو کې حکومتونو د خپل ثبات او ټینګښت لپاره له مختلفو لارو چارو استفاده کړې ده. له دې مهمو ابزارو څخه یو یې د غلامانو نیول، روزل او له هغوی څخه د دفاع او جګړو په برخه کې کار اخیستل دي. غزنوي دولت یو له همدغو دولتونو څخه دی چې د نظام په پیاوړتیا کې یې د غلامانو رول د لمر په څېر روښانه دی. دوی په خپلو پوځونو کې ځکه غلامان ځای پر ځای کول چې له نورو پوځونو څخه ډېر اغېزمن او له خطر څخه خالي وو. په غزنوي پوځ کې پر ترک غلامانو سربېره د نورو نژادونو غلامان هم شامل وو، د دې کار ګټه دا وه چې له یوې خوا د غلامانو د هرې ډلې وفاداري زیاتېده او له بلې خوا دا ټولې ډلې یو له بل څخه په وېره کې وې او د ډېر کوچني غلط اقدام فکر یې هم نه شوای کولی.

همدا غلامان یو لامل و چې غزنویانو ته یې ډېرې بایلل شوې جګړې په سوبو بدلې کړې دي. ښې بېلګې یې د هانسي او بهیم نګر د کلاوو جګړې دي چې که ځانګړي سلطنتي غلامان نه وای، نو دواړه جګړې بایلل شوې وې. په جګړو کې د غلامانو ونډه ځکه ثابته او کارنده وه چې د زړه له اخلاصه یې جګړه کوله او ځانونه یې نه سپمول. سربېره پر دې چې غلامان د جګړو په برخه کې ډېر مهم وو، د سولې په حالت کې هم د سلطان د ساعت تېرۍ،

خوښې او ښکار لپاره کار ورڅخه اخیستل کېده. لنډه دا چې  په غزنوي دوره کې تر هغه چې غلامانو ته پوره پاملرنه او په سمه توگه یې مدیریت کېده حکومتونه هم پیاوړي وو، خو کله چې غلامانو ته پاملرنه کمه او له څارنې بهر شول، هماغه و چې گډوډۍ او کمزورۍ لاره په کې وکړه او وروستیو غزنوي حکومتونو ونه‌شول کولی چې د سلطان محمود او سلطان مسعود شان او شوکت وساتي.

**ماخذونه**


۱ ـ اخیانی، جمیله، احمد، نرگس. (۱۳۹۳). بازشناسی نقش و جایگاه غلامان سرایی در ساختار قدرت غزنویان بر اساس تاریخ بیهقی. مجله تاریخ ادبیات، شماره ۳ / ۷۵.

۲ ـ بوس ورث، کلیفورد ادموند. (۱۳۸۴). تاریخ غزنویان. ترجمه حسن انوشه. جلد اول و دوم. تهران.

۳ ـ بوس ورث، کلیفورد ادموند. (۱۳٦۷). غزنویان متأخر عروج و اضمحلال سلاله غزنوی در افغانستان و هند شمالی. مترجم عبدالوهاب فنایی. اکادمی علوم.

۴ ـ جویا، محمد جاوید. (۱۴۰۱). نقش غلامان خاصه در پیروزی های نظامی غزنویان در دوره سلطان محمود و سلطان مسعود غزنوي. فصلنامه علمی ـ تخصصی تاریخ اسلام در آیینه اندیشه ها. سال چهاردهم. شماره ۲۲.

۵ ـ حیدری، قدرت الله. (۱۳۹۰). فرهنگ و تمدن اسلامی غزنین در عهد غزنویان. وزارت اطلاعات و فرهنگ. ریاست انتشارات کتب بیهقي. کابل.

٦ ـ خلیلی. (۱۳۳۳). سلطنت غزنویان. مطبعه عمومی کابل.

۷ ـ غبار، میرغلام محمد. (۲۰۱۴). افغانستان د تاریخ په تگلوري کې. ژباړن محمد بشیر دودیال. میوند خپرندویه ټولنه. کابل.

۸ ــ فروزانی، سید ابوالقاسم. (۱۳۸٦). غزنویان از پیدایش تا فروپاشی. چاپ دوم. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاها (سمت). تهران.
۹ ــ محمد ناظم. (۱۳۸۵). غزنوي سلطان محمود. ژباړن محمد بشیر دودیال. میوند خپرندویه ټولنه.
۱۰ ــ مددی، محمد اکبر. (۱۳۸۹). وضع اجتماعی دوره غزنویان. وزارت اطلاعات و فرهنگ. ریاست انتشارات کتب بیهقي. کابل.
۱۱ ــ مجاهد، سیدامین. (۱۳۸۸). مجموعه مقالات سیمینار علمی ــ تحقیقی، غزنه و غزنویان در گسترده تاریخ. د غزنوي واکمنیو ټولنیز، ساسي نظام او اداري تشکیلات. وزارت اطلاعات و فرهنگ. ریاست انتشارات کتب بیهقي. کابل.
۱۲ ــ میهن ورد، شاه محمد. (۱۳۸۸). مجموعه مقالات سیمینار علمی ــ تحقیقی، غزنه و غزنویان. در گسترده تاریخ. تشکیلات نظامی، سپاه و سلاح غزنویان. وزارت اطلاعات و فرهنگ. ریاست انتشارات کتب بیهقي. کابل.
۱۳ ــ غلام . (بې تا). پارسی ویکی.
https://www.parsi.wiki/fa/wiki/۳۳۱۸٤٤/%D۸٪BA%D۹٪۸٤٪D۸٪A۷٪D۹٪۸٥

شیراحمد جوینده

# بررسی تأثیر واحد تفتیش داخلی بر بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی افغانستان

# An Assessment of the Impact of Internal audit Units on Improving the Financial Performance of Budetry Entities in Afghanistan

***Shir Ahmad Joyenda***

**Abstract**:
The fight against corruption, financial misconduct, and the misappropriation of public assets necessitates the establishment of effective oversight mechanisms across all government institutions. Within this framework, the Internal Audit Unit, as a fundamental pillar of control and accountability, plays a crucial role in promoting financial transparency. This study investigates the impact of internal auditing on the improvement of financial performance in Afghanistan's budgetary units. The research is applied in nature and employs a descriptive–analytical and survey-based approach. The statistical population comprised directors, heads of departments, internal auditors, and financial experts from ministries and independent budgetary organizations. Using Cochran's formula with a ٩٥٪ confidence level and a ٥٪ margin of error, a sample of ٢٠٥ respondents was

determined. Data were collected through a researcher-designed questionnaire and analyzed using SPSS version ٢٦. Content validity was confirmed by the academic supervisor, scientific consultants, and financial specialists, while reliability was verified through Cronbach’s alpha, ranging from ٠,٦١٢ to ٠,٨٤١ for the variables and ٠,٩٣٣ for the overall questionnaire, indicating excellent internal consistency.The findings, based on Spearman’s correlation test, demonstrated a positive and significant relationship between internal audit dimensions—including “unit size,” “qualified personnel,” “independence,” “support from top management,” “compliance with standards,” and “evaluation of controls”—and the improvement of financial performance. Nevertheless, the results of multiple regression analysis revealed that only three components— “independence of internal audit,” “adherence to international internal auditing standards,” and “evaluation of internal controls by auditors”—had a significant positive effect. Overall, the results highlight that internal auditing serves as a key driver in enhancing the financial performance of budgetary units.

Keywords: Internal Audit, Financial Performance, Budgetary Units, Afghanistan

**خلاصه:**

مبارزه با فساد، سوء استفاده‌های مالی و جلوگیری از حیف ومیل دارایی های عامه، مستلزم وجود نظام های نظارتی مؤثر در تمام ادارات دولتی می باشد. در این میان، واحد تفتیش داخلی به عنوان یکی از ارکان اصلی کنترول و پاسخ‌گویی، نقش مهم را در ارتقای شفافیت مالی ایفا می نماید. تحقیق هذا با هدف بررسی تأثیر تفتیش داخلی بر بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی افغانستان انجام شده است. این تحقیق از نظر هدف کاربردی و از

نظر روش توصیفی-تحلیلی و پیمایشی می باشد. جامعه آماری شامل آمرین، روئسا، مفتشین داخلی و کارشناسان مالی وزارتخانه‌ها و ادارات مستقل بودجوی کشور بوده که حجم نمونه با استفاده از فرمول کوکران و در سطح اطمینان ۹۵ درصد و خطای ۵ درصد برابر با ۲۰۵ نفر تعیین گردید. ابزار گردآوری داده‌ها، پرسشنامۀ ساختۀ محقق بوده و داده‌ها با نرم افزارSPSS نسخۀ ۲٦ تحلیل شدند. پایایی ابزار با ضریب آلفای کرونباخ بررسی شد که برای متغیرها بین ۰،٦١۲ تا ۰،۸٤١ و برای کل پرسشنامه ۰،۹۳۳ به دست آمد که پایایی عالی را نشان میدهد. یافته‌ها بر اساس آزمون همبستگی اسپیرمن نشان داد که میان مؤلفه های مختلف تفتیش داخلی شامل«اندازه واحد تفتیش»، «وجود کارکنان شایسته»، «استقلالیت»، «حمایت آمریت اعطاء»، «رعایت استندردها» و «ارزیابی کنترول‌ها» با بهبود عملکرد امور مالی رابطۀ مثبت و معنادار وجود دارد. همینطور، نتایج رگرسیون چند متغیره نشان داد که تنها سه مؤلفه «استقلالیت تفتیش داخلی» «رعایت استندردهای بین المللی تفتیش داخلی» و «ارزیابی کنترول‌های داخلی توسط مفتشین داخلی» دارای اثر مثبت و معنادار بوده اند. در کل میتوان گفت که واحد تفتیش داخلی نقش کلیدی را در بهبود عملکرد امورمالی واحدهای بودجوی ایفا می کند.

**واژه های کلیدی:** تفتیش داخلی، عملکرد امور مالی، واحدهای بودجوی، افغانستان.

### ۱. مقدمه

از قرون گذشته، با گسترش فعالیت های اقتصادی وتأسیس نهاد های دولتی و غیر دولتی، دامنۀ فعالیت های سازمان ها همسو با آنها توسعه و گسترش یافت و امکان رسیده گی به تمام امور، توسط مدیران و مالکان نهاد ها دشوار شد. درنتیجه، نیاز مبرم به یک واحد نظارتی مستقل و تخصصی احساس گردیدکه بتواند ضمن بررسی عملکرد های سازمان، از بروز اشتباهات، تقلب

وسوء استفاده های احتمالی جلوگیری کند. این نیاز منجر به شکل گیری واحد تحت عنوان تفتیش داخلی گردید که متشکل از مفتشین حرفه ای و با تجربه می باشد. روی این ملحوظ، با گذشت زمان واحد تفتیش داخلی، به سرعت درساختار تشکیلاتی شرکت ها، ادارات دولتی وحتی درسیاست گذاری دولت های مدرن جایگاه ویژه یافت. (داداشی وهمکاران، ۱۳۹٦)

تفتیش داخلی، درسال های اخیر به عنوان ابزار مهم برای نظارت وکنترول عملکرد سازمان ها، به ویژه در بخش های دولتی نقش ارزندۀ را درتحقق اهداف سازمانی ایفا نموده است. (افتخاری و پورزمانی،۱٤۰۱) با این حال، مطالعات نیز نشان میدهد که تفتیش داخلی، از دهه ۱۹٤۱ با روی کارآمدن انستیتوت مفتشین داخلی بطور رسمی آن در ایالات متحده امریکا. (انستیتیوت مفتشین داخلی،۲۰۲٤) الی اکنون، در هر مقطع زمانی نقش های جدید تری را در داخل سازمانها به عهده گرفته، و با رعایت استندرد ها و معیارهای معرفی و منتشرشده توسط این نهاد بین المللی، توانسته است به بهبود شفافیت، پاسخگویی مالی، وجلوگیری از تخلفات، مسیر حرکت سازمان ها را در چارچوب اهداف استراتژیک شان حفظ نماید.(الزابین و گویلیام، ۲۰۱٤)

در افغانستان، اگرچه تفتیش داخلی از دهه ۱۳۵۹ هـ -ش در ادارات دولتی آغاز به کارنموده. (عدلیه، ۱۳۵۹)، اما هنوز به طورگسترده و نظامند مورد توجه قرار نگرفته است. نبود معیارهای مشخص،کمبود منابع تخصصی و عدم نظارت مؤثر، ازجمله عوامل هستند که مانع تحقق کارکرد های این بخش در ادارات دولتی شده است. (جوینده،۱۳۹۹) به همین اساس بسیاری از نهاد های دولتی با مشکلاتی مانند مصارف غیرضروری، حیف میل دارایی های عامه و نبود شفافیت مواجه اند؛ مسائلی که افغانستان را در زمرۀ کشورهای دارای بالاترین نرخ فساد قرارداده است. (سازمان شفافیت بین المللی،۲۰۲٤)

به همین اساس، اهمیت تفتیش داخلی در بهبود شفافیت امورمالی، مؤثریت کنترول های داخلی وتقویت حاکمیت سازمانی در واحدهای بودجوی غیرقابل انکار است. روی همین ملحوظ، دولت افغانستان نیز با درنظرگرفتن نیازهای انکشافی، اجتماعی و اقتصادی، اقدام به ایجاد واحدهای مستقل تفتیش داخلی در هریک از ادارات بودجوی نموده است. که هدف بنیادی و اساسی از این اقدام، بررسی همه جانبۀ نحوۀ تخصیص و مصرف منابع مالی، تأمین منافع عامه و ارتقاء سطح شفافیت منابع دولتی می باشد. (فاتحی،۱۳۹۳)

با توجه به اهمیت این موضوع، پژوهش حاضر تلاش دارد تا تأثیر تفتیش داخلی را بربهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی افغانستان مورد بررسی قرار دهد. این تحقیق با استفاده از داده های واقعی و روش های آماری، به پرسش های کلیدی در این حوزه پاسخ خواهد داد. در ادامه، به پیشینۀ تحقیق، اهداف و سئولات تحقیق و مبرمیت تحقیق پرداخته شده وهمچنان نتایج تحلیل وتفسیرمیشود. بخش پایانی به نتیجه گیری اختصاص داده شده است.

## ۲. اهمیت و مبرمیت تحقیق

واحدهای بودجوی به عنوان بخش کلیدی سکتور عامه، نقش مهم را درتحقق اهداف انکشاف اقتصادی، بهبود رفاهیت عامه و ارتقاء سطح زندگی شهروندان ایفا می نمایند. تخصیص و مصرف کلان منابع مالی، در این واحدها نیازمند یک چارچوب شفاف، پاسخ‌گو و مبتنی بر اصول سالم مدیریت مالی می باشد. اعمال و اجرای شیوه های نوین حکمرانی مؤثر در بخش دولتی نه تنها موجب افزایش رفاهیت عامه می‌گردد، بلکه می‌تواند اعتماد سکتور خصوصی و شهروندان را به ظرفیت های دولت در خصوص مدیریت منابع عامه تقویت نماید. (کیفلی، ۲۰۲۳)

از اینرو، تفتیش داخلی نقش اساسی را در ارزیابی مستمر و دوامدار سیستم های کنترول داخلی، شناسایی چالش‌ها، فرصت‌ها و ارائه اطمینان به مدیران ایفا می‌نماید. این بخش می‌تواند با شناسایی و کاهش نقاط ضعف، به بهبود و استفادهٔ مؤثر منابع کمک نماید.

**۳.مرور بر پیشینهٔ تحقیق**

۱– ارشد وهمکاران (۱٤۰۲) تحقیق را تحت عنوان« رابطه میان نقش نظارتی مفتشین ادارهٔ عالی تفتیش و ارتقای سلامت نظام اداری افغانستان» با روش توصیفی-تحلیلی وپیمایشی انجام داده اند. نتایج حاصله از تحقیق مذکور نشان میدهد که بین متغیرهای نقش نظارتی مفتشین ادارهٔ عالی تفتیش (اخلاق وآئین رفتاری مفتشین حرفه ای، برنامه ریزی، نظارت بر کنترولهای داخلی وهمچنان نظارت بر مفتیشن داخلی ادارات دولتی) وسلامت نظام اداری افغانستان رابطه مثبت ومعنی دار وجود دارد.

۲ - باباجانی و همکاران (۱٤۰۲) در پژوهشی با عنوان«ارائه الگویی برای استقرار حسابرسی داخلی در دستگاه‌های دولتی بخش عمومی ایران» به طراحی یک مدل بومی برای پیاده سازی نظام تفتیش داخلی پرداختند. این تحقیق که با روش دلفی فازی و مشارکت خبرگان تفتیش انجام شده، نتایج نشان داده است که استقرار این الگو موجب ارتقای سطح پاسخ‌گویی مالی و عملیاتی مدیران، بهبود سازوکارهای نظارتی، افزایش کارایی و اثربخشی عملکرد سازمانی و تحقق صرفه‌جویی اقتصادی در بخش عمومی(دولتی) می‌شود. (باباجانی و همکاران، ۱٤۰۲)

۳ – بهبهانی‌نیا و غلام‌نژاد (۱۴۰۰) در مطالعهٔ که در وزارت اقتصاد و امور دارایی ایران انجام دادند، به بررسی نقش تفتیش داخلی بر کیفیت گزارشگری مالی پرداختند. نتایج نشان داد که تفتیش داخلی مؤثر به طور معنی‌داری کیفیت گزارشگری مالی را بهبود می‌بخشد و عواملی چون خط‌مشی‌ها و رویه‌های تفتیش داخلی، مدیریت منابع تفتیش و رعایت

استندردهای حسابداری بیشترین تأثیر را بر ارتقاء کیفیت امور مالی دارند. این یافته‌ها تأکید می‌کند که شایستگی کارکنان، استقلال واحد تفتیش داخلی و رعایت استندردها از عوامل کلیدی در بهبود عملکرد امورمالی واحدهای بودجوی به شمار می‌روند. (بهبهانی‌نیا و غلام‌نژاد، ۱۴۰۰).

٤ - گکولا و ایسانزو (۲۰۲۰) در مطالعهٔ با عنوان «تأثیر تفتیش داخلی بر عملکرد مالی سازمان‌های بخش دولتی در تانزانیا» رابطه بین تفتیش داخلی و عملکرد مالی را مورد بررسی قرار دادند. این پژوهش با استفاده از رگرسیون چندگانه نشان داده است که متغیرهایی چون صلاحیت حرفه ای مفتشین، استقلال عملکرد و رعایت استندردهای تفتیش داخلی تأثیر معناداری بر بهبود عملکرد مالی دارند. یافته‌ها تأکید می‌کند که تفتیش داخلی نقش مستقیم و قابل توجهی را در ارتقای کارایی و اثربخشی مالی در سازمان‌های بخش دولتی ایفا می‌کند. (گکولا و ایسانزو، ۲۰۲۰)

٥ - ایروانسیاه و همکاران (۲۰۲۰) در تحقیق با عنوان «نقش تفتیش داخلی در اثربخشی عملکرد سازمان‌های بخش دولتی» به بررسی میزان تأثیر تفتیش داخلی بر بهبود عملکرد سازمانی پرداختند. این مطالعه که با استفاده از پرسشنامه و تحلیل رگرسیون خطی انجام شده، نشان داده است که تفتیش داخلی تأثیر قوی و معناداری بر اثربخشی عملکرد دارد و حدود ٣٦,٣ درصد از بهبود عملکرد سازمانی ناشی از فعالیت‌های تفتیش داخلی است. با این حال، ٦٣,٧ درصد عملکرد تحت تأثیر سایر عوامل قرار دارد. این نتایج اهمیت تفتیش داخلی را در ارتقای کیفیت عملکرد سازمان‌های دولتی تأیید می‌کند. (ایروانسیاه و همکاران، ۲۰۲۰)

### ٤. هدف تحقیق

تحقیق حاضر با هدف بررسی تأثیر واحد تفتیش داخلی بر بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی افغانستان انجام شده است.

## ۵. سوال های تحقیق

مطالعۀ هذا در پی پاسخ به این پرسش اصلی است که واحد تفتیش داخلی، چه تأثیری را می‌تواند بر بهبود و ارتقای عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی داشته باشد؟ همچنین سؤال های فرعی دیگری نیز مطرح می‌شوند؛ از جمله اینکه ابعاد مختلف تفتیش داخلی مانند اندازۀ واحد تفتیش، شایستگی کارکنان، میزان استقلالیت، سطح حمایت آمریت اعطاء درجه اول اداره از فعالیت های این واحد، رعایت استندردهای حرفه ای بین‌المللی تفتیش داخلی و ارزیابی کنترول‌های داخلی توسط مفتشین داخلی چه تأثیر را می‌توانند بر بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی کشور داشته باشند؟

## ٦. فرضیه های تحقیق

### فرضیه اصلی

واحد تفتیش داخلی بر بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی افغانستان تأثیر مثبت و معنادار دارد.

### فرضیه های فرعی

مؤلفه های واحدتفتیش داخلی شامل «اندازه واحد تفتیش»، «وجود کارکنان شایسته»، «استقلالیت»، «حمایت آمریت اعطاء»، «رعایت استندردها» و «ارزیابی کنترول‌ها» بر بهبود عملکرد امور مالی رابطه مثبت و معنادار وجود دارد.

## ۷. روش تحقیق

از نظر هدف، تحقیق حاضرکاربردی است، زیرا نتایج آن می‌تواند بر بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی افغانستان مورد استفاده قرارگیرد. از نظر ماهیت و روش، این تحقیق توصیفی- تحلیلی و از نوع پیمایشی است. در روش پیمایشی، داده‌ها با استفاده از ابزارهایی مانند پرسشنامه جمع‌آوری شده و پس از آن با روش‌های آماری تحلیل می‌شوند. در این مطالعه، اطلاعات جمع‌آوری‌شده از طریق پرسشنامه، با استفاده از نرم‌افزار آماری

SPSSنسخه ۲٦ برای بررسی رابطه بین متغیرها و آزمون فرضیه‌ها استفاده شده است.

جامعه آماری تحقیق شامل مفتشین داخلی و کارکنان مالی واحدهای بودجوی سطح اول افغانستان می باشد. این افراد به دلیل نقش مستقیم در پروسه های مالی و نظارتی، بهترین منبع اطلاعاتی برای بررسی رابطه میان فعالیت‌های تفتیش داخلی و بهبود عملکرد امور مالی محسوب می‌شوند. حجم نمونه با استفاده از فرمول کوکران و در نظر گرفتن سطح اطمینان ۹۵ درصد و خطای مجاز ۵ درصد محاسبه شد و همچنین با جدول مورگان تأیید گردید. بر این اساس، تعداد نمونه‌ها ۲۰۵ نفر تعیین شد و نمونه‌گیری به روش تصادفی ساده انجام گرفت.

برای تحلیل داده‌ها از شاخص‌های توصیفی مانند توزیع فراوانی و انحراف معیار و همچنین از روش‌های تحلیلی شامل ضریب همبستگی و رگرسیون چندگانه استفاده شد تا رابطه بین متغیرها و تأثیر هر یک بر بهبود عملکرد امور مالی به دقت بررسی شود.

## ۸. مبانی نظری تحقیق

**تفتیش داخلی:** یک فعالیت مستقل، بی‌طرفانه، اطمینان بخش و مشورتی است که برای ارزش افزایی و بهبود عملکرد نهادها ایجاد شده و با اتخاذ روش های سیستماتیک به بهبود حکومتداری، مدیریت خطرات و کنترول های داخلی کمک می‌کند.(انستیتیوت مفتشین داخلی،۲۰۲٤)

### اندازۀ واحد تفتیش داخلی و عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی

اندازۀ واحد تفتیش داخلی یکی از مؤلفه های بسیار مهم در مؤثریت و اثربخشی این نهاد نظارتی، در بهبود عملکرد امور مالی سازمان‌ها، به ویژه ادارات بودجوی محسوب می شود. منظور از "اندازه"، صرفاً در برگیرندۀ تعداد کارکنان تفتیش داخلی نیست، بلکه شا مل ابعاد کمی و کیفی منابع انسانی، مالی و ساختاری، اختصاص یافته به این واحد می باشد. مطالعات

متعدد نشان داده اند که افزایش ظرفیت های انسانی و تجهیزاتی در واحد تفتیش داخلی، می‌تواند توانمندی این بخش را در زمینه های شناسایی به موقع تخلفات مالی، تحلیل خطرات و ارائه توصیه‌های مؤثر تقویت کرده، و در نتیجه، منجر به ارتقاء شاخص‌های کلیدی عملکرد امور مالی مانند شفافیت، صحت گزارش‌دهی و مدیریت مؤثر منابع به خصوص منابع مالی شود. (الزبان و گوویلیام، ۲۰۱۴)

در افغانستان، اگرچه ساختار واحدهای تفتیش داخلی در تمام وزارت‌خانه‌ها و ادارات مستقل بودجوی پایه‌گذاری شده است، اما کمبود منابع بشری متخصص و محدودیت های بودجوی، از جمله چالش‌های اساسی در مسیر ایفای نقش مؤثر این واحدها در بهبود عملکرد امور مالی به شمار می رود. (پیفا، ۲۰۱۸)

## شایستگی و توانمندی کارکنان تفتیش داخلی و عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی

یکی دیگری از عوامل اصلی تأثیرگذار در موفقیت تفتیش داخلی، وجود کارکنان شایسته، متخصص و متعهد در این بخش ها می باشد. کارکنان که از مهارت‌های فنی و دانش کافی در زمینه تفتیش، قوانین مالی و مقررات بودجوی برخوردار هستند، قادر اند که به طور دقیق نقاط ضعف و کاستی‌های عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی را شناسایی، و راهکارهای مؤثری برای رفع آن‌ها ارائه دهند. (دی گانتو،۲۰۱۹) شایستگی‌های لازم شامل توانایی‌های تحلیلی، اخلاق حرفه یی و مهارت‌های گزارش‌نویسی می‌باشد. مطالعات متعدد نشان می‌دهند که شایستگی‌های حرفه ای کارکنان تفتیش داخلی ارتباط مستقیم با بهبود شفافیت مالی، افزایش پاسخگویی و ارتقای مؤثریت نهادهای دولتی دارد.(حطیع و همکاران، ۲۰۲۴) بنابراین شایستگی کارکنان تفتیش داخلی به عنوان یکی از

پیش‌نیازهای اصلی برای بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی افغانستان شناخته می‌شود.

**استقلالیت تفتیش داخلی و عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی**

تفتیش داخلی یک فعالیت مستقل، عینی، تضمینی و مشورتی است که با هدف خلق ارزش افزوده و ارتقای عملکرد نهادها طراحی شده است. (انستیتوت مفتشین داخلی، ۲۰۲٤) در این راستا، استقلالیت را می‌توان «روح تفتیش داخلی» دانست؛ زیرا بدون آن، تحقق اهداف نظارتی، تضمین شفافیت و افزایش مؤثریت ممکن نخواهد بود. چون نبود استقلال کافی در تفتیش داخلی، به ویژه در واحدهای بودجوی که مستقیماً با منابع عامه سر و کار دارند، می‌تواند مانع جدی در مسیر تأثیرگذاری این نهاد بر بهبود عملکرد امورمالی شود. تحقق استقلال واقعی، مستلزم وجود قوانین و مقررات روشن، هماهنگ و قابل اجرا در سراسر نهادها است؛ قوانین که از مداخله بیرونی، روابط حزبی، نفوذهای سیاسی و وابستگی‌های شخصی به‌طور مؤثر جلوگیری کنند. (حظیع و همکاران، ۲۰۱٤)

در افغانستان، بر اساس مادۀ سوم مقررۀ ادارات تفتیش داخلی، این نهاد از نظر ساختاری تحت اثر مستقیم آمرین اعطای درجه اول اداره قرار دارد. با این حال، طبق مادۀ چهارم همان مقرره، اجرای بررسی‌ها نیازمند هدایت کتبی این مقام هاست. (مقررۀ ادارات تفتیش داخلی، ۱۳٦۳) چنین وابستگی اجرایی، به ویژه در ساختارهای دولتی، استقلال واقعی را محدود کرده و به‌گفته گزارش پیفا (۲۰۱۸) تأثیر منفی بر مؤثریت این نهاد گذاشته است.

**حمایت آمریت اعطاء از تفتیش داخلی و بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی**

حمایت آمریت اعطاء از تفتیش داخلی، یکی از عوامل کلیدی و تأثیرگذار در اثربخشی کنترولی و نظارتی در سازمان‌های دولتی به شما رمی‌رود. در

ساختار واحدهای بودجوی افغانستان، که با مشکلات مانند ضعف نظارت، فساد مالی و همچنان ضعف در تخصیص منابع روبه رو هستند، پشتیبانی واقعی و مداوم آمریت اعطاء از فعالیت های تفتیش داخلی می تواند نقش تعیین‌کنندهٔ در ارتقای عملکرد امور مالی ایفا کند.

زمانی‌که مدیران ارشد به استقلال، شایستگی و پیشنهادهای ارائه‌شده از سوی مفتشین داخلی توجه کرده و آن‌ها را در تصمیم‌گیری‌های کلان سهیم می‌نمایند، زمینه برای شناسایی و اصلاح به موقع خطاها و نارسایی‌های مالی فراهم می‌شود. این حمایت معمولاً به اشکال مختلف از جمله تخصیص منابع کافی به واحدهای تفتیش داخلی، حضور فعال در جلسات، ارائه گزارش‌ها و اجرای عملی توصیه‌ها و سفارشات تفتیش بروز می‌یابد. در غیرآن، تعهد و حمایت تفتیش داخلی صرفاً به یک فعالیت تشریفاتی و کم اثر در سطح سازمان بافی نخواهد ماند.

## استندردهای بین‌المللی تفتیش داخلی و بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی

تفتیش داخلی به‌عنوان یکی از ابزارهای کلیدی در ارتقای شفافیت، پاسخ‌گویی و مؤثریت امور مالی در تمامی ادارات دولتی شناخته می‌شود. از این رو، رعایت استندردهای بین‌المللی تفتیش داخلی، مانند استندردهای انستیتوت مفتشین داخلی(IIA) ، نقش اساسی را درحرفه یی سازی و بهبود مؤثریت فعالیت‌های تفتیش داخلی دارد. بر اساس چارچوب بین‌المللی شیوه‌های حرفه ای تفتیش داخلی(IPPF) ، رعایت اصولی چون استقلال، عینیت، صلاحیت و رویکرد مبتنی بر ریسک موجب افزایش اثربخشی تفتیش داخلی می‌شود. (انستیتوت مفتشین داخلی، ۲۰۲٤) در صورتیکه، واحدهای تفتیش داخلی در افغانستان طبق این استندردها عمل کنند، قادر خواهند بود نقاط ضعف نظام کنترولی را شناسایی و به موقع گزارش دهند، رهبری

اداره را در اتخاذ تصمیمات مالی صحیح کمک کرده و از هدررفت منابع جلوگیری نمایند.

مطالعات نشان می‌دهند که استندردهای بین‌المللی تفتیش داخلی، به‌ویژه چارچوب (IPPF) که توسط مؤسسهٔ مفتشین داخلی (IIA) تدوین شده، نقش اساسی را در ارتقای کیفیت و مؤثریت فعالیت‌های تفتیش داخلی دارند. این استندردها با ایجاد چارچوبی سیستماتیک، عینی و مبتنی بر شواهد، زمینه را برای انجام تفتیش حرفه ای و قابل اعتماد فراهم می‌آورند. پایبندی به این استندردها نه‌تنها به بهبود فرآیندهای کنترول و نظارت مالی کمک می‌کند، بلکه به افزایش ارزش‌افزوده تفتیش داخلی در تقویت نظام حاکمیت سازمانی نیز می‌انجامد. (دیگونتا، ۲۰۱۹)

## ارزیابی کنترول‌های داخلی و بهبود عملکرد امورمالی واحدهای بودجوی

در سازمان‌های دولتی و خصوصی، چالش‌هایی مانند فساد، تقلب و سوء استفاده های مالی همواره تهدیدی جدی برای ثبات و عملکرد مطلوب به شمار می‌آیند. یکی از مهم‌ترین روش های مقابله با این تهدیدات، استقرار یک نظام کنترول داخلی کارآمد و تقویت پروسه های شفافیت و پاسخ‌گویی در سازمانها می باشد. چنین نظام زمینه لازم را برای کاهش تخلفات مالی و ارتقای سلامت مالی فراهم می‌سازد.

سازمان‌ها برای دستیابی به اهداف استراتژیک، استفادهٔ مؤثر از منابع و جلب اعتماد ذینفعان، نیازمند یک ساختار کنترولی منسجم هستند. ناظمی و نمازی (۱۴۰۰) تأکید می‌کنند که نبود چنین ساختاری، دستیابی به اهداف کلان سازمانی را با مخاطره مواجه می‌سازد. در این راستا، مفتشین داخلی باید تسلط کافی بر ساختارهای کنترولی داشته باشند تا بتوانند نقاط ضعف را شناسایی و پیشنهادهای اصلاحی مناسب را ارائه دهند. (حاجی‌ها و حسین‌نژاد، ۱۳۹٤)

با توجه به گستردگی وظایف و پیچیدگی فعالیت‌های مالی، واحدهای بودجوی افغانستان بیش از سایر ادارات به سیستم‌های کنترولی دقیق نیاز دارند. از آنجای که منابع مالی این واحدها عمدتاً از مالیات عامه تأمین می‌شود، شفافیت و پاسخ‌گویی مالی در آن‌ها اهمیتی دوچندان دارد. بنابراین، ارزیابی مستمر و دقیق کنترول‌های داخلی، به ویژه در بخش مالی، یکی از مسئولیت‌های اصلی واحد تفتیش داخلی است. این فرآیند نقش مؤثری را در جلوگیری از هدر رفت منابع، افزایش مؤثریت مالی و تحقق مأموریت‌های توسعهٔ دولت دارد.

**تأثیر تفتیش داخلی و بهبود عملکرد امور مالی واحد های بودجوی**

در هر اداره، به ویژه در نهادهای دولتی، صرفاً وجود واحد تفتیش داخلی تضمینی برای تحقق اهداف مدیریتی وسازمانی نمی باشد؛ بلکه آنچه اهمیت دارد، مؤثریت و مثمریت این بخش است. برخوردار و همکاران (۱٤۰۰) بر این باورند که تفتیش داخلی زمان می‌تواند در یک اداره مفید واقع شود که از نیروهای متخصص، مجرب و متعهد برخوردار باشد و بتواند به نیازهای اطلاعاتی و نظارتی ذینفعان داخلی و بیرونی پاسخ دهد. پژوهش‌های مختلف، عوامل متعددی را در اثرگذاری تفتیش داخلی مؤثر دانشته اند. عبدالهی و آقایی (۱۳۹٦) نشان داده‌اند که وجود منشور رسمی، دسترسی کامل به اطلاعات، شایستگی کارکنان، حمایت مدیریت ارشد و رعایت استندرد های حرفه ای از جمله مهم‌ترین مؤلفه‌های ارتقاء اثربخشی این واحد به شمار می روند.

تفتیش داخلی مؤثر زمینه ساز شفافیت، پاسخ‌گویی، تقویت کنترول‌های درون‌سازمانی، کاهش خطرهای مالی، رعایت قوانین ومقررات و همچنان اعتماد سازی مردم نسبت به توانای های دولت درجهت مدیریت سالم امورمالی ومصارف عامه است. منشور تفتیش داخلی وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی (۱۳۹۸) نیز بر این نکته تأکید دارد که وجود ساختار

مناسب، استقلالیت و صلاحیت‌های حرفه ای در تفتیش داخلی، می‌تواند به بهبود مدیریت مالی، کاهش فساد، حفاظت از منابع عامه و نهادینه سازی فرهنگ پاسخ‌گویی در واحدهای بودجوی منجر شود.

**۹.یافته های تحقیق:**

جدول ۱ آمار توصیفی متغیرهای تحقیق:

| متغیر ها | تعداد(N) | حداقل | حداکثر | میانگین | انحراف معیار |
|---|---|---|---|---|---|
| اندازه واحد تفتیش داخلی | ۲۰۵ | ۱,٦۷ | ۵,۰۰ | ۳,۷۸ | ۰,۸۳۹٦ |
| کارکنان شایستهٔ تفتیش داخلی | ۲۰۵ | ۱,۳۳ | ۵,۰۰ | ۳,۵۵ | ۰,۸۹۳۹ |
| استقلالیت تفتیش داخلی | ۲۰۵ | ۱,۳۳ | ۵,۰۰ | ۳,۵۷ | ۰,۹۸۱۸ |
| حمایت آمریت اعطاء درجه اول | ۲۰۵ | ۱,۰۰ | ۵,۰۰ | ۳,٤۳ | ۰,۹۸۷۵ |
| استانداردهای بین المللی تفتیش | ۲۰۵ | ۱,۰۰ | ۵,۰۰ | ۳,۲۵ | ۱,۰۳۰۰ |
| ارزیابی کنترول های داخلی | ۲۰۵ | ۱,۰۰ | ۵,۰۰ | ۳,٦۱ | ۰,۹۵٦٦ |
| بهبود عملکرد امور مالی | ۲۰۵ | ۱,۳۳ | ۵,۰۰ | ۳,۵۷ | ۱,۰۱۸۱ |

قسمیکه در جدول شماره (۱) مشاهده میگردد. میانگین‌ها در محدوده ۳,۲۵ تا ۳,۷۸ قرار دارند و نشان‌دهنده تمایل نسبی پاسخ‌دهندگان به توافق با مؤلفه‌های مربوط به واحد تفتیش داخلی و بهبود عملکرد امور مالی است. بیشترین میانگین مربوط به «اندازه واحد تفتیش داخلی» و کمترین آن مربوط به «استندردهای بین‌المللی تفتیش» است. انحراف معیارها نشان‌دهنده پراکندگی متوسط تا نسبتاً بالا در دیدگاه‌ها بوده و بیانگر تفاوت فردی در تجربه یا درک کارکنان از عملکرد واحد تفتیش داخلی است.

جدول ۲ آزمون نرمال بودن داده‌ها (Kolmogorov-Smirnov و Shapiro-Wilk)

| متغیر | Kolmogorov-Smirnov Statistic | df | Sig. | Shapiro-Wilk Statistic | df | Sig. | نتیجه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اندازه واحد تفتیش داخلی | ۰٫۲۳۷ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | ۰٫۹۱۹ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | غیر نرمال |
| کارکنان شایستهٔ تفتیش داخلی | ۰٫۱۳٤ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | ۰٫۹۵۹ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | غیر نرمال |
| استقلالیت تفتیش داخلی | ۰٫۱۳۹ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | ۰٫۹۳۹ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | غیر نرمال |
| حمایت آمریت اعطاء درجه اول | ۰٫۱۲۲ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | ۰٫۹۵۲ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | غیر نرمال |
| استندردهای بین المللی تفتیش | ۰٫۱۳۷ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | ۰٫۹٥٤ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | غیر نرمال |
| ارزیابی کنترول های داخلی | ۰٫۱۹۸ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | ۰٫۹۰۸ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | غیر نرمال |
| بهبود عملکرد امور مالی | ۰٫۱۲٦ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | ۰٫۹٤۳ | ۲۰۵ | ۰٫۰۰۰ | غیر نرمال |

چنانچه در جدول شماره (۲) مشاهده میگردد. آزمون‌های آماری کولموگروف-اسمیرنوف و شاپیرو-ویلک نیز برای هر هفت متغیر انجام شد. سطح معناداری (Sig) برای تمامی متغیرها کمتر از ۰٫۰۵ است؛ بنابراین فرضیه نرمال بودن داده‌ها رد می‌شود. با توجه به این نتایج، استفاده از آزمون‌های پارامتریک مانند همبستگی پیرسون مناسب نیست و تحلیل روابط بین متغیرها از طریق آزمون ناپارامتریک اسپیرمن انجام میشود.

جدول ۳ تحلیل همبستگی اسپیرمن

| متغیرهای مستقل | ρ | Sig. | شدت و جهت رابطه | وضعیت فرضیه |
|---|---|---|---|---|
| اندازه واحد تفتیش داخلی | ۰,۳۳۱ | ۰,۰۰۰ | مثبت، متوسط | H۱ تایید شد |
| کارکنان شایستۀ تفتیش داخلی | ۰,٤٦۰ | ۰,۰۰۰ | مثبت، نسبتاً قوی | H۲ تایید شد |
| استقلالیت تفتیش داخلی | ۰,٦٨٩ | ۰,۰۰۰ | مثبت، قوی | H۳ تایید شد |
| حمایت آمریت اعطاء درجه اول اداره | ۰,٦٢٥ | ۰,۰۰۰ | مثبت، قوی | H٤ تایید شد |
| استانداردهای بین المللی تفتیش داخلی | ۰,٥٩٦ | ۰,۰۰۰ | مثبت، قوی | H٥ تایید شد |
| ارزیابی کنترول های داخلی توسط تفتیش داخلی | ۰,٦٩٩ | ۰,۰۰۰ | مثبت، بسیار قوی | H٦ تایید شد |

نتایج همبستگی اسپیرمن در جدول شماره (۳) نشان داد که تمام متغیرهای مستقل با بهبود عملکرد امورمالی رابطه مثبت و معنادار دارند. (Sig < ۰,۰۱)بیشترین همبستگی با کنترول‌ها (ρ = ۰,٦٩٩) و استقلالیت (ρ = ۰,٦٨٩)مشاهده شد. همچنین، اندازه، کارکنان، حمایت آمریت اعطاء و استندردها نیز با شدت متوسط تا قوی با عملکرد امورمالی مرتبط هستند.

جدول ٤ شاخص‌های میزان تطابق مدل رگرسیون چندگانه

| شاخص | R | $R^2$ | Adjusted $R^2$ | Std. Error |
|---|---|---|---|---|
| مقدار | ۰,٨٢٢ | ۰,٦٧٦ | ۰,٦٦٧ | ۰,٥٨٨ |

مدل رگرسیون چندگانه ارائه شده در جدول شماره (٤)، میزان تطابق قابل قبولی با داده‌های عملکرد امورمالی واحدهای بودجوی را دارد و توانسته بخش قابل توجهی از تغییرات این متغیر وابسته را توضیح دهد. ضریب تعیین تعدیل‌شده (Adjusted $R^2$ = ۰,٦٦٧) نشان می‌دهد که تقریباً ٦٦,٧٪ از تغییرات عملکرد امورمالی توسط متغیرهای مستقل توضیح داده می‌شود و

خطای استندرد پیش‌بینی‌ها (۰٫۵۸۸) حاکی از دقت نسبتاً بالای مدل است.

جدول ۵ مدل رگرسیون چندگانه

| منبع تغییر | df | Mean Square | F | Sig. | توضیحات مختصر |
|---|---|---|---|---|---|
| Regression | ٦ | ٢٣,٨٣٧ | ٦٨,٩٥٨ | ٠,٠٠٠ | مدل معنادارو توانسته تغییرات عملکرد مورمالی را توضیح دهد |
| Residual | ١٩٨ | ٠,٣٤٦ | | | تغییراتی که مدل نتوانسته توضیح دهد (خطا) |
| Total | ٢٠٤ | ٢١١,٤٦١ | | | کل تغییرات موجود در داده‌ها |

طبق جدول شماره (۵) آزمون ANOVA نشان می‌دهد که مدل رگرسیون چندگانه معنادار است ($F = ٦٨٫٩٥٨, p < ٠٫٠٠١$) و متغیرهای مستقل توانسته‌اند بخش قابل توجهی از تغییرات عملکرد امور مالی را توضیح دهند.

جدول ٦ نتایج رگرسیون چندگانه (B,Beta,t) و سایر شاخصه ها

| متغیرها | B | Beta | t | Sig. | VIF | وضعیت فرضیه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ثابت(Constant) | ۰,٤۰۲ | – | ۱,۹۲۰ | ۰,۰٥٦ | – | – |
| اندازه واحد تفتیش داخلی | -۰,۲۲۷ | -۰,۱۸۷ | -۳,۱٥۲ | ۰,۰۰۲ | ۲,۱٥٦ | H۱ رد شد |
| کارکنان شایستهٔ تفتیش داخلی | ۰,۰۰۸ | ۰,۰۰۷ | ۰,۱۱٦ | ۰,۹۰۸ | ۲,۳۷۳ | H۲ رد شد |
| استقلالیت تفتیش داخلی | ۰,٤۳٦ | ۰,٤۲۰ | ٦,۸٥۳ | ۰,۰۰۰ | ۲,۳۰۱ | H۳ تایید شد |
| حمایت آمریت اعطاء درجه اول | ۰,۰۱٥ | ۰,۰۱٤ | ۰,۲۱۹ | ۰,۸۲۷ | ۲,٥٤۸ | H٤ رد شد |
| استانداردهای بین المللی تفتیش داخلی | ۰,۲۷٥ | ۰,۲۷۸ | ٥,۲۲٥ | ۰,۰۰۰ | ۱,۷۳۲ | H٥ تایید شد |
| ارزیابی کنترول های داخلی | ۰,٤۱٥ | ۰,۳۹۰ | ٦,۸۲۰ | ۰,۰۰۰ | ۱,۹۹۸ | H٦ تایید شد |

طبق جدول شماره (٦) تمام متغیرها به جز استقلالیت، استندردها و کنترول‌ها تأثیر معنادار بر عملکرد امور مالی نداشتند؛ بنابراینH۳ ، H٥و H٦تایید وH۱ ، H۲و H٤ رد شدند. ضریب رگرسیون، آزمون t و شاخص VIFنشان‌دهنده اثر و معناداری هر متغیر و عدم وجود مشکل هم‌خطی است. این نتایج بیانگر آن است که کنترول‌های مؤثر و استقلالیت واحد تفتیش، مهم‌ترین عوامل مؤثر بر بهبود عملکرد مالی هستند.

جدول ۷ نتایج تشخیص هم‌خطی (Collinearity Diagnostics)

| بعد (Dimension) | Eigenvalue (مقدار ویژه) | Condition Index(شاخص شرایط) | درصد واریانس بالا(٪۵۰<) | توضیحات مختصر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ٦,٨٠٥ | ١,٠٠٠ | – | بدون مشکل هم‌خطی |
| ۲ | ٠,٠٦٢ | ١٠,٤٦٣ | کارکنان(٪۴۷) | هم‌خطی متوسط، قابل قبول |
| ۳ | ٠,٠٤١ | ١٢,٨١٣ | استقلالیت(٪۱۷) | بدون مشکل جدی |
| ٤ | ٠,٠٣٠ | ١٤,٩٤٥ | کنترول‌ها(٪۲٦) | بدون مشکل جدی |
| ۵ | ٠,٠٢٥ | ١٦,٥٠٧ | کنترول‌ها(٪۵۷) | هم‌خطی متوسط، قابل قبول |
| ٦ | ٠,٠٢١ | ١٧,٨٨٦ | حمایت مدیریت ارشد(٪۷۵) | هم‌خطی متوسط، قابل قبول |
| ۷ | ٠,٠١٥ | ٢١,٥٤٣ | اندازه (۸۵%)، کارکنان(٪٦٠) | تجمع واریانس کمی، اما مشکلی ایجاد نمی‌کند |

بر اساس نتایج جدول(۷)Collinearity Diagnostics ، هیچ یک از متغیرهای مستقل دارای هم‌خطی شدید نیستند. بیشترین مقدار Condition Indexبرابر با **۲۱,۵۴۳** است که در محدوده متوسط قرار دارد و تنها متغیرهای اندازه و کارکنان درصد بالایی از واریانس را در یک بعد دارند. بنابراین، می‌توان نتیجه گرفت که هم‌خطی چندگانه در مدل رگرسیون مشکلی ایجاد نمی‌کند و نتایج تحلیل رگرسیون قابل اعتماد است.

### ۱۰.نتایج تحلیل فرضیات تحقیق

**فرضیهٔ اول:** نتایج نشان داد که بین اندازه واحد تفتیش داخلی و بهبود عملکرد امور مالی رابطه مثبت و معنادار وجود دارد، اما اثر مستقل اندازه به‌طور معنی‌داری مشاهده نشد و نشان می‌دهد که تأثیر آن بیشتر در تعامل

با سایر عوامل مؤثر بر عملکرد مالی ظاهر می‌شود. این یافته با نتایج ایروانسیاه و همکاران (۲۰۲۰) همسو است که اهمیت کلی تفتیش داخلی در ارتقای عملکرد سازمانی را تأیید کرده‌اند.

**فرضیهٔ دوم:** نتایج شایستگی کارکنان با بهبود عملکرد امور مالی رابطه مثبت و نسبتاً قوی را نشان داد، اما اثر مستقل آن معنی‌دار نبود و بیانگر آن است که شایستگی بیشتر در تعامل با سایر عوامل مؤثر ظاهر می‌شود. این نتیجه با یافته‌های بهبهانی‌نیا وغلام‌نژاد (۱٤۰۰) و گکولا و ایسانزو (۲۰۲۰) که شایستگی کارکنان را از عوامل کلیدی ارتقای عملکرد مالی می‌دانند، همسو است.

**فرضیهٔ سوم:** استقلال واحد تفتیش داخلی رابطه مثبت و قوی و اثر مستقل معناداری بر عملکرد مالی داشت، نشان‌دهنده نقش کلیدی استقلال در ارتقای عملکرد مالی است. این یافته با تحقیقات باباجانی و همکاران (۱٤۰۲) و گکولا و ایسانزو (۲۰۲۰) که استقلال واحد تفتیش را در ارتقای کارایی و پاسخ‌گویی مالی برجسته کرده‌اند، همسو است.

**فرضیهٔ چهارم:** حمایت آمریت اعطاء رابطه مثبت و قوی با عملکرد مالی نشان داد، اما اثر مستقل آن معنی‌دار نبود و بیانگر آن است که نقش این حمایت بدون تعامل با سایر عوامل محدود است. این یافته با نتایج ارشد و همکاران (۱٤۰۲) که تعامل و هماهنگی ساختاری را برای اثربخشی تفتیش داخلی ضروری دانسته‌اند، همسو است.

**فرضیهٔ پنجم:** رعایت استندردهای بین‌المللی هم رابطه مثبت و قوی و هم اثر مستقل معنادار بر عملکرد مالی داشت، که نشان‌دهنده نقش مؤثر آن بر بهبود عملکرد امور مالی است. این نتیجه با یافته‌های بهبهانی‌نیا و غلام‌نژاد (۱٤۰۰) و گکولا و ایسانزو (۲۰۲۰) که رعایت استندردها را عامل کلیدی ارتقای عملکرد مالی دانسته‌اند، همسو است.

**فرضیهٔ ششم:** ارزیابی مستمر کنترول‌های داخلی رابطه بسیار قوی و اثر مستقل معنادار بر عملکرد امورمالی داشت و نشان داد که این عامل یکی از مهم‌ترین مؤلفه‌های بهبود عملکرد امور مالی است. این یافته با مطالعات ارشد و همکاران (۱٤۰۲) همسو است، که بر اهمیت نقش نظارتی و ارزیابی مستمر مفتشین در سلامت نظام اداری تأکید دارند.

**فرضیهٔ اصلی:** نتایج تحلیل همبستگی اسپیرمن نشان داد که تمامی متغیرهای کلیدی واحد تفتیش داخلی (اندازهٔ واحد، شایستگی کارکنان، استقلال، حمایت آمریت اعطاء، رعایت استندردهای بین‌المللی و ارزیابی کنترول‌های داخلی) با بهبود عملکرد مالی رابطه مثبت و معنادار دارند. با این حال، تحلیل رگرسیون چندگانه نشان داد که تنها استقلال واحد تفتیش، رعایت استندردهای بین‌المللی و ارزیابی کنترول‌های داخلی اثر مستقل و معناداری بر عملکرد مالی دارند (Sig < ۰,۰۰۱)، در حالی که سایر متغیرها اثر مستقل معنادار نشان ندادند. ضریب تعیین تعدیل‌شده (Adjusted $R^2$ = ۰,٦٦٧) بیانگر آن است که حدود ٦٦,۷٪ از تغییرات عملکرد امورمالی توسط این عوامل توضیح داده می‌شود. بنا بر این یافته هذا با تمامی مطالعات پیشین یادشده همسو است و تأیید می‌کند که واحد تفتیش داخلی به عنوان عامل کلیدی در بهبود عملکرد امور مالی واحدهای بودجوی افغانستان عمل می‌کند.

## ۱۱. پیشنهادها :

۱. تقویت استقلال واحدهای تفتیش داخلی: ایجاد ساختار قانونی و اداری مستقل برای واحد تفتیش و تضمین حمایت آمریت اعطاء درجه اول ادارات واحد های بودجوی از این بخش، می‌تواند مانع دخالت های غیرضروری و فشارهای خارجی گردد. که این اقدام موجب افزایش اعتماد به گزارش‌های تفتیش داخلی، کاهش تخلفات مالی و بهبود شفافیت و مؤثریت مالی در واحدهای بودجوی میشود.

۲. رعایت استندردهای بین‌المللی و ارزیابی مستمر کنترول‌های داخلی: آموزش استندردهای بین المللی برای مفتشین داخلی و اجرای آن، همراه با انجام ارزیابی منظم ومستمر کنترول‌های داخلی، باعث شناسایی نقاط ضعف و ارتقاء مؤثریت امورمالی وحتی بهبود عملکرد تمام بخش های اداره می‌شود. این اقدامات، کاهش خطاها و فساد مالی را نیزافزایش داده وموجب پاسخگوی بهتر ادارات بودجوی میگردد.

۳.تدوین قانون جامع و منشور برای واحد تفتیش داخلی: ایجاد قانون مستقل برای تعریف صلاحیت ها، مسئولیت و مکلفیت های واحد تفتیش وهمچنان تعریف مکلفیت های مراجع تحت بررسی وهمینطور چگونگی اجرای تفتیش داخلی و طراحی منشور رسمی با تشکیل کمیتۀ مستقل به منظور نظارت ازاجرای مؤثر توصیه‌ها وسفارشات تفتیش داخلی، که این امر منجر به مدیریت سالم منابع مالی میشود.

۴. توانمندسازی، تشویق و آموزش کارکنان تفتیش داخلی: برگزاری دوره‌های تخصصی کوتا مدت، میان مدت و درازمدت مانند CIA ، کارگاه های عملی و آموزش مستمر همراه با استفاده اعظمی از تکنالوژی های جدید تفتیش داخلی و همچنان تشویق مادی ومعنوی کارمندان تفتیش داخلی، که این امر موجب افزایش مهارت و دانش حرفه‌ای مفتشین داخلی وبهبود عملکرد آن ها در خصوص بازرسی های منظم امور مالی خواهد شد. این امر همچنان به تصمیم‌گیری مالی بهتر و صرفه جوی در مصارف نیز کمک می‌کند.

۵. ارتقای تعامل واحد تفتیش و آمر یت اعطاء درجه اول اداره بودجوی : ایجاد کانال‌های ارتباطی شفاف و منظم بین واحد تفتیش داخلی و آمریت اعطاء، برای اجرای مؤثر توصیه‌ها وسفارشات تفتیش داخلی را تسهیل می‌کند و موجب بهبود عملکرد اداره و به ویژه عملکرد امور مالی و تصمیم‌گیری‌های به موقع می‌شود.

**مآخذ:**

۱ـ داداشی، ایمان، کردمنجیری، سجاد، و برادران، مریم. (۱۳۹٦). تأثیر ساختار حسابرسی داخلی بر احتمال تقلب در صورت های مالی شرکت‌های پذیرفته‌شده در بورس اوراق بهادار تهران .دانش حسابرسی، ۱۸(۷۰)، ۱۷۸-۱۵۹.

۲ـ ارشد، نجیب‌الله، واحدی، نوید، و حسنی، تمنا. (۱۴۰۲). رابطه میان نفش نظارتی مفتشین اداره عالی تفتیش و ارتقای سلامت نظام اداری افغانستان،فصلنامه علمی ـ تحقیقی اقتصاد و مدیریت کاتب،۲(۲)، ۳۵–۴۷.

۳ـ افتخاری، شاهرخ، و پورزمانی، زهرا.(۱۴۰۱). شناسایی و رتبه‌بندی عوامل مؤثر بر اثربخشی حسابرسی داخلی و نظارت در بخش عمومی ایران (با رویکرد تئوری زمینهٔ) .فصلنامه علمی نظارت و بازرسی، ۱٦(٦۱) ، ۱٦۷–۱۹۴.

۴ـ ادارهٔ کنترول وتفتیش. (۱۳۵۹) .تعلیمات‌نامه استندرد ادارات تفتیش داخلی .کابل: وزارت عدلیه.

۵ ـ جوینده، شیراحمد. (۱۳۹۹). بررسی نقش تفتیش داخلی در بهبود عملکرد سازمان‌های دولتی و خصوصی: مطالعه موردی وزارت مالیه و بانک AIB(پایان‌نامه لیسانس منتشرنشده). پوهنتون کابل، پوهنځی اقتصاد، دیپارتمنت منجمنت و اداره تشبثات.

٦ـ فاتحی، ذکرالله. (۱۳۹۳) .(تفتیش و کنترول [چپتر درسی]. انستیتوت اداره و حسابداری کابل، وزارت معارف افغانستان.

۷ـ جمهوری دموکراتیک افغانستان. (۱۳٦۳). مقرره ادارات تفتیش داخلی وزارت‌ها و ادارات جمهوری دموکراتیک افغانستان: مصوبه شورای وزیران. کابل: وزارت عدلیه. منتشر شده در جریده رسمی، شماره مسلسل ۵٦۰، مورخ ۳۱ جوزا ۱۳٦۳.

۸ ـ دولت جمهوری اسلامی افغانستان، وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، ریاست تفتیش داخلی .(۱۳۹۸) .منشور تفتیش داخلی. کابل، افغانستان

۹ـ بهبهانی نیا، پریسا سادات، غلام نژاد، سودابه (۱۴۰۰). «اثر حسابرسی داخلی موثر و پیاده سازی استانداردهای حسابداری بخش عمومی بر کیفیت گزارشگری مالی در بخش عمومی: مطالعه موردی وزارت اقتصاد و امور دارایی»، حسابداری و منافع اجتماعی، دوره ۱۱، شماره ۳، صفحات ۳۱– ۴۸.

۱۰- The Institute of Internal Auditors. (۲۰۲٤). Global Internal Audit Standards [PDF]. Internal Audit Foundation.

۱۱- Kifflee, S. N. F. binti, & Jusoh, M. A. (۲۰۲۲). Internal audit effectiveness: A pilot study analysis at Malaysian public sector. International Journal of Academic Research in Accounting, Finance and Management Sciences, ۱۲(۲), ۷۰۸–۷۲۷.

۱۲- Alzeban, A., & Gwilliam, D. (۲۰۱٤). Factors affecting the internal audit effectiveness: A survey of the Saudi public sector. Journal of International Accounting, Auditing and Taxation, ۲۳(۲), ۷٤–۸٦

۱۳- Transparency International. (۲۰۲٤). Corruption perceptions index ۲۰۲٤. Available at: https://www.transparency.org/en/cpi/۲۰۲٤.

۱۴- Hazaea, S. A., Al-Matari, E. M., Omer, A. M., Farhan, N. H. S., & Zhu, J. (۲۰۲٤). The impact of internal audit system on performance: Evidence from emerging markets. Humanities and Social Sciences Communications, ۱۱(۱۳۰۷).

۱۵- PEFA Secretariat. (۲۰۱۸). Afghanistan: Public Financial Management Performance Report. Washington, D.C.: The World Bank Group.

څېړندوی شجاع الله امان

# په افغانستان کې د کورني اقتصاد د ودې او پراختيا لارې چارې

# Ways to Grow and Develop the Domestic Economy in Afghanistan

***Assistant Prof: Shujaullah Aman***

**Abstract**
The potential for Afghanistan's domestic economic growth and development exists in various areas, such as the mechanization of the agricultural sector and the development of value industries; exploiting abundant mineral resources through structural investment programs; strengthening small and medium enterprises through financial and technical support; and enhancing human capital capacity through education and skills development initiatives. The study also emphasizes the important role of improving infrastructure, especially in the transport and energy sectors, which act as fundamental elements for economic growth and development. Successful economic growth and development in Afghanistan depends on strengthening security, institutional reforms, it requires a coordinated approach with anti-corruption measures and strategic investments in key economic sectors. The creation of

public-private sector partnerships and efforts for regional economic integration ensure the growth and development of the domestic economy. This research is helpful for policy makers and stakeholders who are engaged in preparing actionable strategies to make the most of Afghanistan's economic growth and development. Descriptive and analytical research methods have been used in this research, and data and information have been taken from scientific works, researches, and internet sites, As a result, the ways of growth and development of the domestic economy have been identified; that the Significant investment in important economic sectors, together with basic reforms and infrastructure development, can significantly contribute to the economic growth and development of Afghanistan.

Keywords: Afghanistan economy, economic development, agricultural mechanization, human capital, infrastructure development, institutional reforms, mineral resources, SME development

**لنډیز**

د افغانستان د کورني اقتصادي ودې او پراختيا لپاره موجود ظرفيت په بېلابېلو برخو کې وجود لري، لکه د کرنې سکټور ميکانيزه کول او د ارزښت لرونکو صنعتونو پراختيا؛ د ساختماني سکټور پانګوونې پروګرامونو له لارې د پراخو معدني سرچينو څخه ګټه پورته کول؛ د مالي او تخنيکي ملاتړ له لارې د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو پیاوړتيا؛ او د زده کړې او مهارتونو د پراختيا د نوښتونو له لارې د بشري پانګې ظرفيت لوړول. د زېربنا د ښه کولو په مهم رول هم ټينګار کوي، په ځانګړې توګه د ټرانسپورت او انرژۍ په سکټورونو کې چې د اقتصادي ودې او پراختيا لپاره د بنسټيزو عناصرو په توګه عمل کوي. په افغانستان کې بریالۍ اقتصادي وده او پراختيا د امنيت د ټينګښت، اداری

اصلاحاتو، د فساد ضد اقداماتو او په مهمو اقتصادي سکټورونو کې ستراتیژیکې پانګونې سره یوځای همغږې تګلارې ته اړتیا لري. د عامه او خصوصي سکټورونو مشارکت رامنځته کول، او د سیمه ییز اقتصادي ادغام لپاره هڅې د کورني اقتصاد وده او پرمختیا تضمینوي. دا څېړنه د پالیسي جوړونکو او ښکیلو اړخونو لپاره چې د عمل وړ ستراتیژیو په چمتو کولو بوخت دي؛ مرسته کوي چې د افغانستان د اقتصادي ودې او پراختیا لپاره ورځخه ګټه پورته کړي. په دې څېړنه کې د توصیفي او تحلیلی څېړنېز میتود څخه استفاده شوې ده او ارقام او معلومات د علمي آثارو، څېړنو او انټرنیټي سایټونو څخه اخیستل شوي دي، چې په پایله کې د کورني اقتصاد د ودي او پراختیا لارې چارې په ګوته شوي دي. په مهمو اقتصادي سکټورونو کې د پام وړ پانګونه، د بنسټیزو اصلاحاتو او د زېربناوو پراختیا سره یوځای کولی شي د افغانستان په کورنۍ اقتصادي وده او پراختیا کې د پام وړ مرسته وکړي.

کلیدي ټکي: اداري اصلاحات، اقتصادي پراختیا، بشري پانګه، د افغانستان اقتصاد، د کرنې میکانیزه کول، د کانونو زېرمې، د زېربناوو پراختیا، د منځنۍ کچې تشبثاتو پراختیا.

**سریزه**

د افغانستان اقتصادي پرمختیا په معاصر وخت کې له خورا ډېرو محدودیتونو او ننګونو سره سره یو له سترو هدفونو څخه ده. د لسیزو جګړو او سیاسي بې ثباتۍ وروسته، ملت د یو پیاوړي او پر ځان بسیا کورني اقتصاد په رامنځته کولو کې د پام وړ ننګونو سره مخ دی. د دې لپاره چې کورنۍ اقتصاد تقویه او د ځان بسیاینې په لورې ګام پورته کړي اړینه ده تر څو پر هغو لارو چارو غور او څېړنه تر سره شي چې کورني اقتصاد پراختیا لپاره مفید واقع کېږي. د نړیوال بانک (۲۰۲۲ ز) په وینا، د افغانستان ناخالص تولید په ۲۰۲۱ ز کال کې نږدې ٪۲۰٫۷ کم شوی، چې د اقتصادي بیا رغولو اغېزمنو ستراتیژیو ته بېړنۍ اړتیا په ګوته کوي. په دې څېړنه کې د کلیدي اقتصادي سکټورونو د

پیاوړتیا، د کورنیو تولیداتو د لوړولو، او د دوامدار کاري فرصتونو رامنځته کولو لپاره د عملي تګلارو پېژندلو او تحلیلولو هڅه شوې ده. د کرنې پر میکانیزه کولو او د ارزښت لرونکو صنعتونو د پراختیا پر لارو چارو باندې ړنا اچول شوې او همداراز د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو وده، د کورنیو تولیدي ظرفیتونو پیاوړتیا، د زېربناوو ښه والی، د طبیعي سرچینو څخه ګټه اخیستنه او د بشري پانګې ظرفیت لوړونه د کورني اقتصاد د ودې د عمده لاملونو په توګه تر څېړنې لاندې نیول شوي دي. په دې څېړنه کې د توصیفي او تحلیلي څېړنیز میتودونوڅخه کار اخیستل شوی، چې د ضرورت وړ معلومات یې د کتابونو، څېړنیزو مقالو او انټرنیټي سایټونو څخه ترلاسه شوي دي او د څېړنې د اهمیت تر څنګ د څېړنې پوښتني او فرضیه هم په ګوته شوي دي.

دا څېړنه د افغانستان په ځانګړي ټولنیز- اقتصادي شرایطو کې د دوامدار اقتصادي ودې د هڅولو لپاره ګټورې ستراتیژۍ او میتودونه څېړي. د افغانستان اقتصاد، چې تر ډېره په نړیوالو مرستو او غیر رسمي سکټورونو تکیه لري، د ځان بسیاینې او ثبات د ترلاسه کولو لپاره سیستماتیک بدلون ته اړتیا لري.

**د څېړنې اهمیت**

د څېړنې اهمیت په دې کې دی تر څو د کورني اقتصاد د ودې لپاره هغه سکټورونه چې مطلق یا نسبي مزیت لري په ګوته شي او دې سره به د پالیسي جوړونکو لپاره د پایلو پر بنسټ د اقتصادي ودي او پرمختیا لپاره د موثره تصمیم نیوني فرصت برابر شي.

**دڅېړنې پوښتنې**

د څېړنې اصلي پوښتنه: د اوسني ټولنیز- اقتصادي شرایطو او شته سرچینو په پام کې نیولو سره د افغانستان د کورني اقتصاد د ودې لپاره ترټولو اغېزمنې او پایښت لرونکي لارې چارې کومې دي؟

**د څېړنې فرعي پوښتنې:**

۱. افغانستان څنګه کولی شي کورني اقتصادي وده ترلاسه او پر بهرنیو مرستو خپله تکیه کمه کړي او پر ځان بسیا اقتصاد ته وده ورکړي؟

۲. کوم اقتصادي سکټورونه په افغانستان کې د ودې او کار پیدا کولو لپاره خورا زیات ظرفیت لري؟

۳. د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو پراختیا د کورني اقتصاد په پیاوړتیا کې څه رول لوبولی شي؟

۴. د افغانستان له طبیعي زېرمو څخه څنګه د دوامدارې اقتصادي ودې لپاره په اغېزمنه توګه ګټه اخیستل کېدای شي؟

۵. د ماهرو بشري پانګې د پراختیا لپاره کومې ستراتیژۍ پلي کېدای شي؟

**د څېړنې فرضیه**

۱. د لمړني سکټور(زراعت) ودې او د طبیعي زېرمو څخه موثره استفادې سره به د افغانستان کورنی اقتصاد چټک پرمختګ وکړي او په افغانستان کې به د فقر کچه راټیټه شي.

۲. د تعلیم او حرفوي زده کړو د پروګرامونو وده به د کار موندنې کچه ښه کړي او منځني تشبثاتو د پراختیا زمینه به مساعده کړي او د افغانستان کورني اقتصادي وده کې به مرسته وکړي.

**د څېړنې موخه**

په افغانستان کې د پایداره کورني اقتصادي ودې لپاره د اغېزمنو لارو چارو پېژندل او تحلیل کول، د افغانستان د کورني اقتصاد د اوسني وضعیت ارزونه او د ودې او پراختیا لپاره د لوړ ظرفیت لرونکي کلیدي سکټورونو پېژندل.

**د څېړنې میتودولوژي:**

په دې څېړنه کې د څېړنې توصیفي او تحلیلي میتودونه څخه کار اخیستل شوی، او د اړتیا وړ معلومات یې د څېړنیزو کتابونو، د نړیوال بانک، د پیسو

نړیوال سازمان، د آسیا پراختیایي بانک اقتصادي راپورونو او انټرنیټي سایټونو ځخه ترلاسه شوي دي.

**موندنې**

په یو هېواد کې د اقتصادي پرمختیا لپاره بېلابېل لاملونه او اسباب شتون لري چې د هر هېواد د جغرافیوي موقعیت طبیعي سرچینو او ټولنیزو شرایطو په پام کې نیولو سره، له هغو ځخه د ملک په اقتصادي پرمختیا کې ګټه پورته کېږي، افغانستان هم د نورې نړۍ د هېوادونو په څېر خپلې ځانګړنې لري، چې د دې هېواد د اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره د ښو فرصتونو لامل ګرځي، نړۍ کې د اقتصادي ودې او پرمختیا تجربو ته په کتو ډېرى هېوادونو چې کله د خپل اقتصادي پرمختګ لپاره قدم اخیستی اکثرو یې په لمړي قدم کې لمړني سکټور (زراعت) ته وده او پرمختیا ورکړې او بیا یې د صنعت سکټور وده کړې او په دریم قدم کې یې د خدماتو سکټور پرمختیا په لوړ سوق شوې ده. دا چې افغانستان هم د پراخه طبیعي زېرمو په لرلو او د زراعتي محصولاتو په تولید کې ښه فرصت لري نو لازمه ده چې په لمړي قدم کې دغه سکټور ته وده او پرمختګ ورکړل شي او دا به د افغانستان د کورني اقتصاد په دوامداره وده او پرمختیا کې خورا ګټور ثابت شي. زموږ ګران هېواد د خپلو طبیعي پراخه سرچینو په لرلو سره هغه که سیندونه دي یا نور معدني مواد، د نړۍ د پرمختګ له دې تجربې ځخه ښه استفاده کولی شي چې لمړی دغه لمړني سکټور( زراعت او معدنیات) ته وده او پرمختیا ورکړي، چې دې سره به په اسانۍ سره د صنعت او خدماتو سکټور ودې او پرمختیا ته زمینه برابره شي. د کورني اقتصاد د ودې او پرمختیا د لاروچارو په برخه کې دا لمړنی سکټور د یو ستر عامل په توګه باید پرمختیا ومومي او دا لارې چارې په لاندې ډول توضیح شوي دي.

## الف ـ د طبیعي سرچینو پرمختیا

افغانستان د مسو، سرو زرو، اوسپنې او قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو په ګډون د مختلفو منرالونو څخه بډای هېواد دی، د بېلګې په توګه د ننګرهار ختیځ ولایت د کرومایټ او نیفرایټ د زېرمو لپاره پېژندل شوی چې بهرنۍ پانګونه راجلبوي. په افغانستان کې د کانونو د سکټور ښه کول د هېواد د پراخو کاني زېرمو د استخراج لپاره خورا مهم دي، چې ارزښت یې له ۱ ټریلیون ډالرو څخه تر ۳ ټریلیون ډالرو پورې اټکل شوی دی[1]. په دې برخه کې اغېزمن اصلاحات راوستل به د پام وړ اقتصادي ودې، د کار په پیدا کولو او د زېربناو د ښه کېدو او پراختیا لامل شي. په افغانستان کې د کانونو د سکټور د اصلاح او ښه کولو لپاره بېلابېلې لارې چارې وجود لري چې د بحث وړ دي.

د کانونو د سکټور اوسنی حالت او پخواني حالت د پرتله کولو وړ دی، د ۱۴۰۰ ل کال څخه د مخه د افغانستان د کانونو سکټور کې د پراخ فساد له امله دغه سکټور نه یوازې چې د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې مرسته و نه کړه بلکې د خود سرانه کیندنو له امله ډېری معدنونو زیان ولید او له دې مدرکه عواید به د څو محدودو اشخاصو جیبونو ته لوېدل[2].

د ۱۴۰۰ ل کال تر سیاسي تحول او د اسلامي امارت تر بیا واکمنېدو وروسته د کانونو په برخه کې چټک پرمختګونه رامنځته شول، د کانونو په قراردادونو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی، چې د ۲۰۲۴ ز کال په لومړیو کې له

---

[1] Julia Horowitz, CNN Business,۲۰۲۱, Available at: https://edition.cnn.com/۲۰۲۱/۰۸/۱۸/business/afghanistan-lithium-rare-earths-mining/index.html , access date: ۲۵/۱۱/۲۰۲٤

[2] کاکړ، امان الله.(۲۰۱۹ ز)، مرکزمطالعات ستراتیژیک و منطقوی، لاسرسی : https://csrsaf.org/%D۹٪۸۱٪D۸٪B۳٪D۸٪A۷٪D۸٪AF ، مراجعه : ۲۰۲۴/۱۱/۲۴

۱۵۰ ځخه زياتو شرکتونو ته له ۲۰۵ ځخه زيات قراردادونه صادر شوي دي[۳].
دغه چټکه پرمختيا د کانونو په برخه کې د نوې واکمنۍ تمرکز په ګوته کوي.

د کانونو په سکټور کې په تېرو واکمنيو کې د فساد او د روڼتيا نشتوالی له امله دغه سکټور د فساد له امله ځپل شوی و، د راپورونو له مخې دغه برخه کې ډېری شرکتونه اکثراً د اړتيا وړ مالياتو او امتيازاتو له ورکولو پرته فعاليت درلود چې دا نه يوازې د دولت لپاره د پام وړ عوايدو د ضايع کېدو لامل شوی وه، بلکې په دې کلونو کې په سلګونو ميليونه ډالر يې له دې مدرکه له لاس ورکړي دي. سياسي اړيکې د کانونو د قراردادونو په ورکولو کې خورا ډېر تاثير کوي،[٤] ډېری وختونه د هغو شرکتونو سره مرسته کوي چې د کان کيندنې پخوانۍ تجربه نلري. دا عادلانه رقابت کمزوری کوي او دې برخه کې د موثرې پانګونې مخه ډب کوي.

د دې لپاره چې د کانونو برخه کې د فساد سره مبارزه او د اصلاح لپاره دغه سکټور کې لازم اقدامات ترسره شي، د څارنې او ارزونې برخې دې پياوړې شي تر څو د کانونو په برخه کې د قرارداد له پيله تر پايه په منظم ډول څارنه تر سره شي او د قراردادونو په دواطلبي کې روڼتيا پلې او د ذينفع خلکو مالکيت دې افشا او د قرارداد د مواد د تاکل شويو شرايطو سره د نه تطبيق په صورت کې ذيدخله خلکو او نهادونو ته مجازات ورکول به د کانونو د استخراج او پروسس قرادادونه شفاف کړي.

د کانونو په برخه کې د اړوند کارکونکو ظرفيت او تخصص لوړول خورا اړين دي، د کان کيندنې په عملياتو او مديريت کې مهارتونه د روزنيزو پروګرامونو او

[۳] Afghan Witness. (۲۰۲۳). *Afghanistan's mining sector under the Taliban*, available at: info-res.org. https://www.info-res.org/afghan-witness/reports/afghanistans-mining-sector-under-the-taliban/: ۲۰۲۴/۱۱/۲۴

[٤]آريانانيوز.(۱۴۰۱ ل)، په افغانستان کې د کانونود پراختيا په اړه د امريکا پروګرام د پراخ فساد له کبله ناکام شو –سيګار، لاسرسی: https://www.ariananews.af/ps/%D٩٪BE%D٩٪٨٧- ، مراجعه: ۲۰۲۴/۱۱/۲۴

د کان کیندنې نړیوالو شرکتونو سره د ملګرتیا له لارې ترلاسه کېدای شي چې تخنیکي مرستې چمتو کولی شي.

**ب ـ کرنیز بدلون**

په افغانستان کې کرنیز انقلاب د هېواد د اقتصادي پرمختګ یو مهم اړخ دی، دا چې کرنه د دې هېواد د اقتصاد د اصلي ریښې په توګه و پېژندل کېږي او د اقتصادي ودې لپاره هغه کړنې چې د کرنې سکټور په میکانیزه کولو کې لازمې دي باید د یو جامع پروګرام له لارې تر سره شي. لکه څرنګه چې د پوهانو او لیکوالو له خوا تل دا ویل کېږي چې د افغانستان ۷۰ څخه تر ۸۰ سلنې خلک په کرنې کې بوخت دي او دا یو کرنیز هېواد دی، خو د دې خبرې علمي ثبوت نشته دا ځکه چې د افغانستان کرنیز سکټور لا په پښو نه دی ولاړ او په کور د ننه د کرنیزو محصولاتو تقاضا ته ځواب نشته، او ډېری محصولات له بهر څخه را واردېږي، که د ارقامو له مخې شاو خوا ۸۰ سلنه خلک هم په کرنې سکټور کې مصروف وي، د دې ستر لامل به پټه بېکاري وي، او ډېری کورنې په ډلیز ډول په عنعنوي توګه په زراعت کې مصروف دي چې د نهایي تولید ارزښت یې منفي دي. که چېرې د زراعت سکټور میکانیزه شي نو له یوې خوا به کارګره قوه د صنعت سکټور لپاره مهیا شي او له بلې خوا به له پټې بېکارۍ څخه دغه سکټور کې مخنیوی شوی وي.

کرنه د افغانستان د ناخالصو تولیداتو نږدې نیمایي برخه جوړوي او د نفوس یوه مهمه برخه په کار ګماري، چې شاوخوا ٪۸۵ افغانان د خپل معیشت لپاره په کرنه تکیه کوي[٥]

په افغانستان کې د کرنې سکټور په عمده توګه په عنعنوي کرنې تمرکز کوي، چې غنم یې تر ټولو مهم فصل دی. په هرصورت، په میوو، سبزیجاتو او

---

[٥] Britannica, ٢٠٢٤, ((Agriculture and forestry inAfghanistan inEconomy)), Avaiable at: https://www.britannica.com/place/Afghanistan/Agriculture-and-forestry , access: ٢٤/١١/٢٠٢٤

ځارویو کې د تنوع احتمال شتون لري، کوم چې کولی شي د کروندګرو لپاره د خوړو خوندیتوب او عاید لوړ کړي.

**ننګونې**: د کرنې سکټور له ګڼو ننګونو سره مخ دی، د کروندګرو محدود لاسرسی بازارونو ته، زېربناو ستونزې، او د اقلیم د بدلون اغېزې او دې ته ورته نورې ننګونې لکه ډېرې بزګران د دودیزو فصلونو په پرتله د لوړې ګټې له لپاره د کوکنارو کښت ته لیواله وي چې اوس مهال د حکومت لخوا د کوکنارو په کښت باندې بندیز لګولی شوی دی.[٦] نو د دې ننګوونو د حل لپاره لازم او جدي اقداماتو ته اړتیا ده، چې دې سره به نه یوازې دغه ننګونې له منځه لاړې شي بلکې لا ډېر نوی فرصتونه به رامنځته کړي.

## د کرنې د پراختیا لپاره فرصتونه

**١. د کرنې میکانیزه کول**: د تولید د زیاتوالي لپاره د کرنې عصري تخنیکونو او کړنو ته اړتیا ده. په دې کې د اوبولګولو غوره میتودونه، د فصل ځرخول، او د لوړ کیفیت تخمونو کارول شامل دي[٧]. د ننني عصر د ټکنالوژۍ په چټک پرمختګ سره په نړۍ کې داسې غوره کرنیز سیستمونه رامنځته شوي دي چې له یوې خوا یې د کرنۍ محصولاتو تنوع او د فصلونو په تغیر کې یې مرسته کړې بلکې له بلې خوا د تولید او کیفیت کچه یې لوړه کړې ده چې کروندګرو ته د لوړ عاید تر لاسه کولو فرصت برابروي او په ټوله کې داخلي تقاضا ته مناسبه عرضه برابروي او حتي د صادراتو په زیاتوالي کې مرسته کوي.

**٢. د باغدارۍ پراختیا**: د بنوالۍ ملي پروژو په څېر پروګرامونه بزګران د باغدارۍ نوې تخنیکونه معرفي کوي. دا چې په ډېرو ولایاتو کې زراعتي ځمکې چې اوبه لري د مساحت له اړخه کمې دي او حبوباتو د حاصل پر

[٦] Same to above reference

[٧] World bank.(٢٠١٨),Unlocking the Potential of Agriculture for Afghanistan's Growth, available at: https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/publication/unlocking-potential-of-agriculture-for-afghanistan-growth , access date: ٢٨/١١٢٠٢٤

وړاندې د میوجاتو حاصل هم زیاد دی او هم بازار لري چې کروندګرو سره د عاید په زیاتوالی کې مرسته کولی شي د بېلګې په توګه، کروندګر له دودیزو فصلونو لکه غنم او جوار د کښت ځخه د لوړ ارزښت لرونکو میوو باغونو کښت او جوړولو ته تشویقېږي، چې کولی شي د عاید په لوړوالي د پام وړ تغیرات رامنځته کړي.

**۳. متنوع اقلیم**: د افغانستان متنوع اقلیم د میوو، مغز لرونکو او مصالحو په ګډون د پراخو فصلونو کښت ته اجازه ورکوي چې د صادراتو قوي ظرفیت لري، لکه زعفران، انار، بادام او انګور په ځانګړې توګه د نړیوالو بازارونو لپاره مناسب دي. په افغانستان کې د صادراتي محصولاتو پراختیا د اقتصادي ودې، تنوع او د بهرنیو اسعارو د زیاتوالي لپاره د پام وړ فرصت وړاندې کوي. د هېواد بډایه کرنیز ظرفیت او متنوع اقلیم ته په پام سره، د صادراتو لپاره د لوړ ارزښت لرونکو فصلونو باندې تمرکز، کولی شي د معیشت په ښه کولو او د اقتصاد په ثبات کې مرسته وکړي.

**۴. په زېربناوو کې پانګه اچونه**: د زېربناوو وده، لکه سړکونه، چک ډېمونه، ویالې او نهرونه، سړې خونې او د ذخیره کولو اسانتیاوې، بازار ته د لاسرسي د ښه کولو او د حاصلاتو ځخه وروسته د زیانونو د کمولو لپاره اړین دي. دا به بزګرانو ته دا توان ورکړي چې خپل محصولات په اغېزمنه توګه وپلوري او خپل عاید زیات کړي[۸].

**۵. د ځوانانو ملاتړ**: د روزنې او سرچینو ته د لاسرسي له لارې د کرنې په برخه کې د ځوانانو پیاوړتیا کولی شي د لا پراخې ودې لامل شي. هغه پروګرامونه چې په کرنه کې د مهارتونو پراختیا او متشبثینو باندې تمرکز کوي، کولی شي د کار پیدا کولو او د معیشت په ښه کولو کې مرسته وکړي او د

[۸] Agriculture and Economic Growth | Afghanistan | U.S. Agency for International Development

هېواد د نفوسو ډېرې برخه چې ځوانان دی د خپل واړه کاروبارونه پرانیزي او په بېلابېلو برخو کې برځان بسیا شي او ټولنې ته یې هم ګټه ورسېږي.

**٦. عامه-خصوصي مشارکت**: د دولتي، نادولتي موسسو او خصوصي سکټور ترمنځ همکاري کولی شي په کرنیزو پروژو کې پانګونه اسانه کړي، د ودې د پرمخ بیولو لپاره اړینې سرچینې او تخصص چمتو کړي.

**٧. د کرنیزو کوپراتیفونو او کرنیز بانک ایجاد**: په افغانستان کې د کرنیز بانک چې پخوا موجود وه او د داخلي شخړو په دوران کې له منځه لاړ، اوس مهال د کرنیز بانک اړتیا محسوسېږي، ځکه چې په افغانستان کې د کروندګرو لپاره د قرضې برابرول او د دوي په زراعتي محصولاتو باندې پانګونه کول خورا ضروري دي، همدارزار د کرنیزو کوپراتیفونو جوړول هم د کرنې سکټور د دهاقینو غوښتنه ده او کرنیزو محصولاتو د امراضو مخنیوی لپاره لازمې اسانیتاوې او درمل، کیمیاوي سرې، اصلاح شوي تخمونه او بوټو توزیع د کوپراتیفونو له لارې نه یوازې کروندګرو سره مرسته کوي، بلکې د حاصلاتو په برخه کې د زیاتوالی سبب ګرځي.

**٨. د سړو خونو جوړول**: د افغانستان د کرنې په برخه کې هر کال شاوخوا ٣٠ سلنه محصولات د معیاري سړو خونو او همدارنګه د معیاری ترانسپورت یا د لارو د بندېدو له امله خرابېږي[٩]. نو د سړو خونو د جوړولو په برخه کې د پانګوالو لپاره ستر فرصت وجود لري او اوسمهال د ا.ا د اقتصادي کمیسیون له لوري د سړو خونو د جوړولو په برخه کې پینځه کلن مالیاتي معافیت هم ورکول شوي دی[١٠] چې دا یو ښه اقدام دی او دې سره به پانګوال دېته تشویق شي چې په دې برخه کې پانګونه ترسره کړي. د سړو خونو په جوړولو سره به نه یوازې محصولاتو د خرابېدو مخه ونیول شي بلکې د کرنیزو محصولاتو عرضه

---

[٩] سیدانور.(١۴٠۴)، بي بي سی،  افغانستان کې د سړو خونو نشتوالي له کبله نژدې ٣٠ سلنه میوې او سابه خرابېږي، لاسرسی: https://www.bbc.com/pashto/articles/cz٦٠l٣j٤ejgo ،مراجعه: ٢٠٢۴/١٢/٢٠

[١٠] ملی. (٢٠٢٥ ز)، د سړو خونوجوړولو پانګوالو ته پینځه کن مالیاتي معافیت ورکلو کېږي، لاسرسی: /https://rta.af/article١٠٩١٦ ، مراجعه: ٢٠٢٥/١٠/١٥

به په مناسب وخت کې ترسره او له دې مدرکه به کروندګر او سوداګر مناسبه ګټه ترلاسه کړي او د کرنیزو محصولاتو ونډه به په اقتصادي وده کې زیاته شي.

په افغانستان کې کرنیز انقلاب د اقتصاد د بدلون او د خلکو د ژوند د ښه کولو لپاره د پام وړ ظرفیت لري. د شته ننګونو په حلولو او د پرمختګ له فرصتونو څخه په ګټې اخیستنې سره، افغانستان کولی شي خپل کرنیز محصولات لوړ کړي او د خوراکي توکو ډېر خوندیتوب ترلاسه کړي.

**ج ـ د بشري پانګې ظرفیت لوړونه:** په بشري ځواک باندې پانګونه د افغانستان د اوږدمهاله پرمختګ لپاره، په ځانګړې توګه د کرنې په سکتور او نورو برخو کې خورا مهمه ده. بشري پانګه هغه مهارتونه، پوهه او تجربې ته اشاره کوي چې د افرادو په کړنو باندې موثره اغېزه لري، کوم چې کولی شي د پام وړ تولید او اقتصادي ودې سره مرسته کوي. پر بشري ځواک باندې پانګونه د افغانستان کورني اقتصادي ودې لپاره اړینه ده. په ښوونه او روزنه، د مهارتونو پراختیا، روغتیا او متشبثینو ته په پام سره، افغانستان کولی شي یو ډېر وړ کاري ځواک رامنځته او د خپلو اتباعو د ژوند کیفیت ښه کړي. دا ډول پانګونه به نه یوازې د کرنې په برخه کې د تولیداتو کچه لوړه کړي بلکې په هېواد کې به د کار د بازار موجوده تقاضا پوره کړي او اقتصادي ودې سره به مرسته وکړي.

په افغانستان کې د بشري ځواک د پانګونې مهم اړخونه په لاندې ډول توضیح شوې دي.

**د مهارتونو وده**: کاري ځواک ته د روزنې او زده کړې چمتو کول د تولید د ښه والي لپاره اړین دي. د کرنې په برخه کې د کرونګرو مهارت لوړول خورا ضروري دي چې په دې کې پر عصري تخنیکونه پوهاوی، د آفتونو مدیریت د امراضو پر وړاندې لازم تدابیر نیول او دیته ورته مهارتونه شامل دي. مهارت

لرونکي کارګران کولی شي حاصلات زیات کړي او د کرنیزو محصولاتو کیفیت ښه کړي.

**تعلیم او سواد**: باکیفیته زده کړو ته د لاسرسی لوړول د پوهې ور کاري ځواک د جوړولو لپاره بنسټیزه چاره ده. د سواد د کچې لوړول کولی شي د غوره کاري فرصتونو په رامنځته کولو او په اقتصادي فعالیتونو کې د ګډون لامل شي.

**حرفوي زده کړې**: د نننۍ بازار د تقاضا له مخې د ماهرو کارګرانو روزلو لپاره د حرفوي زده کړو د پروګرامونو جوړول کولی شي دغه تقاضا ته ځواب ووایي. د حرفې زده کول نه یوازې د بازار د تقاضا لپاره اړینه ده بلکې د بېکارۍ په لمنځه وړلو او د کار فرصتونو په رامنځته کولو کې ستر رول رولوي، کوم ځوانان چې حرفه زده کړي پر ځان بسیا کېږي او کولي شي چې خپل کاروبار رامنځته کړي چې په ټوله کې دغه چاره د بېکارۍ له منځه وړلو کې مرسته کوي او د کورنیو د عاید د لوړېدو سبب ګرځي چې دا په خپل وار سره د ټولنیزې ودې او اقتصادي ودې لپاره لار پرانیزي.

**د تشبث ملاتړ**: د هېواد په کچه په بېلابېلو برخو کې خصوصي تشبثات موجود دی چې د دولت او خیریه نهادونو ملاتړ ته اړتیا لري ډېری متشبثین د خپل کاروبار د ودې لپاره لازمه پوه او مهارت نه لري او نه شي کولی چې خپل کاروبار ته وده ورکړي نو د روزنې له لارې د متشبثینو هڅول، مالي سرچینو مهایا کول، د سوداګرۍ مهارتونه او لازمې لارښوونې چمتو کول کولی شي چې دغو واړه کاروبارونو ته وده ورکړي.

**عامه او خصوصي مشارکت**: د حکومت، نادولتي مؤسسو او خصوصي سکټور ترمنځ همکاري کولی شي د بشري پانګې اچونې اغېزمنتوب ته وده ورکړي. دا شراکت کولی شي د روزنې او زده کړې پروګرامونو لپاره تمویل، تخصص، او سرچینې چمتو کړي.

**نړیوالې مرستې او همکارۍ**: د نړیوالو سازمانونو او بسپنه ورکوونکو هېوادونو سره ښکیلتیا کولی شي د بشري پانګې پراختیا او نوښتونو ملاتړ لپاره اضافي سرچینې او تخصص راوړي. هغه پروګرامونه چې د نړیوالو مرستو له لارې تمویلېږي، کولی شي په تعلیم، حرفوي زده کړو، او روغتیایي خدماتو تمرکز وکړي.

**د ـ د منځنیو تشبثاتو پراختیا(SME):** منځني یا کوچني تشبثات هغه خپلواکه کاروبارونه دي چې د لویو شرکتونو په پرتله په وړو برخو کې پانګونه ترسره کوي، او دغه کاروباریان د اقتصادی ودې په برخه کې ستر رول لوبوي ځکه چې دوی د بازار د تقاضا سره اجناس او خدمات عرضه کوي. د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو پراختیا د افغانستان د کورني اقتصاد د پیاوړتیا لپاره حیاتي لارې چارې برابروي. د کار پیدا کولو، په GDP کې د ونډې اخیستنې، د متشبثینو په وده، د محلي تولیداتو په وده، د کلیو پراختیا، او بازار ته د لاسرسي ښه کولو سره، کوچني او منځنیو تشبثات کولی شي د هېواد په اقتصاد کې رغنده رول ولوبوي. او هغه لارې چارې چې منځني متشبثین په کې فعاله ونډه لري او د هېواد په اقتصاد کې مرسته کوي په لاندې ډول تر بحث لاندې نیول شوي دي.

**د کار پیدا کول:** کوچني او منځني تشبثات په افغانستان کې د کارموندنې په برخه کې د پام وړ ونډه اخیستونکي دي، چې د کار ځواک ٪۷۵ شخه ډېر کاري فرصتونه چمتو کوي. دا په ځانګړې ډول په هغه هېواد کې مهم دی چې د بېکارۍ لوړه کچه لري، ځکه چې کوچني او منځني تشبثات کولی شي لوی شمېر کارګران جذب کړي او د فقر کچه راټیټه کړي.[۱۱]

[۱۱] Mussawy Sayed Nasratullah, The Role of Small Medium-Sized Enterprises in Economic growth of Afghanistan Challenges and opportunities, Available at: https://asa.gov.af/sites/default/files/۲۰۲۱-۱۲/Small٪۲۰Medium-Sized٪۲۰Enterprises٪۲۰In٪۲۰Afghanistan.pdf

**اقتصادي ونډه:** کوچني او منځني تشبثات د افغانستان د ناخالصو توليداتو ۵۰٪ شخه ډېره برخه جوړوي. د دې تصديو د ودې او پرمختيا سره، هېواد کولی شي خپل اقتصادي توليد ته وده ورکړي او يو ډېر انعطاف لرونکی اقتصاد رامنځته کړي چې په بهرنيو مرستو او وارداتو لږ تکيه کوي.[۱۲]

**د نوي کاروبار هڅول:** د کوچني او منځني تشبثاتو پراختيا نوي کاروبارونو ته وده ورکوي، کوم چې د اقتصادي تنوع لپاره حياتي دي. د افرادو هڅول چې خپل کاروبار پيل کړي نوښت او په بازار کې د نويو محصولاتو او خدماتو معرفي کولو لامل کېږي، سيالی او اقتصادي وده هڅوي.

**د محلي توليداتو لوړول**

کوچني او منځني تشبثات کولی شي د محلي توليد په زياتولو سره په وارداتي توکو باندې د تکيه کمولو کې مرسته وکړي. دا نه يوازې کورنی اقتصاد پياوړی کوي بلکې د بهرنيو اسعارو د وتلو په کمولو سره د سوداګرۍ توازن هم ښه کوي[۱۳].

**د کليو د پراختيا ملاتړ:** ډېرى کوچني او منځني تشبثات په کليوالو سيمو کې فعاليت کوي چې سيمه ييز اقتصاد ورسره وده کوي او په دې سيمو کې د زېربناوو او خدماتو پراختيا کې مرسته کوي. کله چې په لرې پرتو سيمو کې زېربنا ورغول شي دې سره د خصوصي سکټور پانګونه لا ډېرېږي او په خپل وار سره کولی شي د خلکو د ژوند کيفيت ښه او ښاري مهاجرت کم کړي ځکه چې په کليوالي ټولنو کې نوي فرصتونه رامنځته کېږي.

**بازارونو ته لاسرسی:** کوچني او منځني تشبثات کولی شي د ځايی توليد کونکو لپاره بازار ته لاسرسی پياوړی کړي، په ځانګړي توګه په کرني او لاسي صنايعو کې. له پراخو بازارونو سره د بزګرانو او هنرمندانو په نښلولو سره،

---

[۱۲] Same to above reference

[۱۳] CREDIT CARES .Small and Medium Enterprises: Importance, Challenges and More, available at: https://creditcares.in/small-and-medium-enterprises-importance-challenges-and-more/ , access Date: ۱۵/۱۲/۲۰۲٤

کوچني او منځني تشبثات کولی شي د عاید په زیاتولو او د دوامدارو کړنو په وده کې مرسته وکړي.

**پایله**

د افغانستان د کورني اقتصاد د ودې په مسیر کې ځو اړخیزه او دوامدارې تګلارې ته اړتیا ده چې سمدستي ننګونې او د اوږدمهاله اقتصادي ودې موخې په نښه کړي. د دې تحلیل له لارې دا په ډاګه کېږي چې په افغانستان کې د اقتصادي پرمختیا د پیاوړتیا لپاره څو بستېزه ستراتیژیانې مهمې دي.

د افغانستان د کرنې د سکټور پرمختګ، چې د نفوس یوه مهمه برخه په کار ګوماري، د اقتصادي ودې لپاره بنسټیز لاره ده. د کرنې د تخنیکونو عصري کول، د اوبولګولو سیسټمونو ته وده ورکول، او د کرنیزو محصولاتو د عرضه کول، دغه سکټور له عنعنوي حالت څخه راوباسي او په یو تولیدي او سوداګریز سکټور یې تبدیل کړي. برسېره پر دې، د ارزښت اضافه کوونې پروسس کې پانګه اچونه کولی شي د کار نوي فرصتونه رامنځته کړي او د صادراتو ظرفیت لوړ کړي.

د زېربناوو پراختیا، په ځانګړې توګه د ټرانسپورټ او انرژۍ په سکټورونو کې، د اقتصادي ودې لپاره د یو مهم بنسټ په توګه کار کوي. د باور وړ سړکونو شبکې، د بریښنا تولید تاسیساتو جوړول به نه یوازې لرې پرتې سیمې له بازارونو سره وصل کړي بلکې په ټول هیواد کې به د سوداګرۍ اسانتیاوې هم برابرې کړي. د ښوونې او روزنې او حرفوي زده کړو د پروګرامونو له لارې د پانګې پراختیا د یو ماهر کاري ځواک د رامنځته کولو لپاره اړینه ده چې د اقتصادي ودې پرمخ وړلو وړتیا ولري. په تخنیکي زده کړو، د متشبثینو روزنې، او د ښځو اقتصادي پیاوړتیا باندې ټینګار کولی شي یو متنوع او مقاومت لرونکی اقتصاد رامنځته کړي.

د غیر رسمي اقتصاد رسمي کول، د فساد ضد اقداماتو او ښه حکومتوالۍ سره یوځای کولی شي د کورنیو او بهرنیو پانګونو لپاره اعتبار لوړ کړي او

هغوي نويو پانګونو ته و هڅوي. د مالي بنسټونو پیاوړتیا او د کوچنیو او منځنیو شرکتونو لپاره کریډیټ ته د لاسرسي ښه والی به د سوداګرۍ وده او نوښت ملاتړ وکړي.

په راتلونکي کې، په داسې حال کې چې ننګونې د پام وړ پاتې دي، د افغانستان اقتصادي ظرفیت د دې پراختیایي ستراتیژیو، قوي اداري چوکاټونو، او نړیوالې همکارۍ سره د دوامداره ژمنتیا له لارې ترلاسه کېدای شي. بریا به د دواړو کورنیو شریکانو او نړیوالو شریکانو اوږدمهاله وقف ته اړتیا ولري، چې د یو سوکاله او پر ځان بسیا اقتصاد د جوړولو لپاره په ګډه کار کوي.

**وړاندیزونه**

د افغانستان کورني اقتصاد د ودې او پایداره پرمختیا لپاره لازمه ده چې سکټوري وزارتونه لاندې سپارښتنو ته پاملرنه وکړي.

۱. د کرنې وزارت باید په خپل کاري پلانونو کې د پایلې په بنسټ لاندې چارې ترسره کړي.

- د اوبولګولو پرمختللي سیسټمونه پلي کول.
- د وچکالۍ په وړاندې مقاومت لرونکي نباتاتو ډولونه معرفي کول.
- د خوړو د پروسس صنعتونو ته وده ورکول.
- د کرنیزو کوپراتیفونو جوړول.
- د کرنیز بانک احیا او پراختیا.
- د سړو خونو تاسیسات جوړول.
- د زراعتي صادراتو د پروګرامونو جوړول.

۲. د ټولګټو وزارت، د ترانسپورت وزارت باید لاندې چارې په خپله برخه کې ترسره کړي.

- د زېربنا پراختیا
- د ترانسپورت شبکې پراخول (سړکونه، ریل پټلۍ..)

**۳.** د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته لاندې سپارښتنې متوجې دي.

- صنعتي پارکونه جوړول
- د سیمې هېوادونو سره د زراعتي محصولاتو ګډ بازارونو او نندارتونونو جوړول.

**۴.** د لوړو زده کړو وزارت، تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره او د معارف وزارت باید لاندې برخو کې خپل مسولیتونه ادا کړي.

- د بشري پانګې پراختیا.
- د بازار د تقاضا سره سم د بشري قوې روزل.
- د حرفوي زده کړو د پروګرامونو پیاوړتیا.
- د تعلیمي ادارو وده.
- د متشبثینو روزنې چمتو کول.
- د تخنیکي مهارتونو پروګرامونو ته وده ورکول.

**ماخذونه**


۱- Julia Horowitz, CNN Business, ۲۰۲۱, Available at: https://edition.cnn.com/۲۰۲۱/۰۸/۱۸/business/afghanistan-lithium-rare-earths-mining/index.html , access date: ۲۵/۱۱/۲۰۲٤

۲ـ کاکړ، امان الله.(۲۰۱۹ ز)، مرکزمطالعات ستراتیژیک و منطقوی، لاسرسی : https://csrsaf.org/%D۹٪۸۱٪D۸٪B۳٪D۸٪A۷٪D۸٪AF، مراجعه : ۲۰۲۴/۱۱/۲۴

۳- Afghan Witness. (۲۰۲۳). *Afghanistan's mining sector under the Taliban*, available at: info-res.org. https://www.info-res.org/afghan-witness/reports/afghanistans-mining-sector-under-the-taliban/: ۲۰۲۴/۱۱/۲۴

٤ـ آریانانیوز.(۱۴۰۱ ل)، په افغانستان کې د کانونود پراختیا په اړه د امریکا پروګرام د پراخ فساد له کبله ناکام شو –سیګار، لاسرسی: https://www.ariananews.af/ps/%D۹٪BE%D۹٪۸۷- ، مراجعه: ۲۰۲۴/۱۱/۲۴

۵- Britannica, ۲۰۲٤, ((Agriculture and forestry inAfghanistan inEconomy)), Avaiable at: https://www.britannica.com/place/Afghanistan/Agriculture-and-forestry , access: ۲٤/۱۱/۲۰۲٤

۶- World Bank. (۲۰۱۸), Unlocking the Potential of Agriculture for Afghanistan's Growth, available at: https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/publication/unlocking-potential-of-agriculture-for-afghanistan-growth , access date: ۲۸/۱۱۲۰۲٤

۷- Agriculture and Economic Growth | Afghanistan | U.S. Agency for International Development

۸ ـ سیدانور.(۱۴۰۴)، بي بي سی، افغانستان کې د سرو خونو نشتوالي له کبله نژدې ۳۰ سلنه میوې او سابه خرابېږي، لاسرسی: https://www.bbc.com/pashto/articles/cz٦٠l٣j٤ejgo، مراجعه: ۲۰۲۴/۱۲/۲۰

۹ـ ملی. (۲۰۲۵ ز)، د سرو خونوجوړولو پانګوالو ته پینځه کن مالیاتي معافیت ورکلو کېږي، لاسرسی: /https://rta.af/article١٠٩١٦ ، مراجعه: ۲۰۲۵/۱۰/۱۵

۱۰- Mussawy Sayed Nasratullah, The Role of Small Medium-Sized Enterprises in Economic growth of Afghanistan Challenges and opportunities, Available at: https://asa.gov.af/sites/default/files/۲۰۲۱-۱۲/Small٪۲۰Medium-Sized٪۲۰Enterprises٪۲۰In٪۲۰Afghanistan.pdf, access date: ۱۸/۱۱/۲۰۲٤

۱۱ـ Access through FAO Country Profiles → Afghanistan Main portal: https://www.fao.org/documents

۱۲- Auturupane, H., Gunatilake, R., Shojo, M., & Ebenezer, R. (۲۰۱۳). Educational attainment in Afghanistan: an economic analysis, available at: https://doi.org/۱۰,۱۳۱٤۰/RG.۲,۲,۱۸۸۳۹,٦۸۰۰۳.

۱۳- International Labour Organization (ILO). (۲۰۱۸). World Employment and Social Outlook: Trends ۲۰۱۸.

۱۴- International Mining and Minerals Association (IMMA). (۲۰۲۰), The Mining Association's Role in Sustainable Development.

١٥- Julia Horowitz, CNN Business, ٢٠٢١, Available at:https://edition.cnn.com/٢٠٢١/٠٨/١٨/business/afghanistan-lithium-rare-earths-mining/index.html , access date: ٢٥/١١/٢٠٢٤
١۶- Mashal Mujib, ٢٠١٤, Small and Medium Enterprises Development and Regional Trade in Afghanistan, Available at: https://papers.ssrn.com/sol٣/papers.cfm?abstract_id=٢٩٤٣٨٩٥, access date: ٢٥/١١/٢٠٢٤
١٧- Shroder, J. (٢٠١٥). Progress with Afghanistan extractive industries: Will the country know resource success or failure evermore? The Extractive Industries and Society, ٢, ٢٦٤-٢٧٥, Available at: https://doi.org/١٠,١٠١٦/J.EXIS.٢٠١٥,٠١,٠٠١ .access date: ٢٠/١١/٢٠٢٥
١٨- World Bank Group. (٢٠١٩). Mining and Poverty Reduction: Transforming Rhetoric into Reality
١٩- World Bank, ٢٠١٨, Unlocking the Potential of Agriculture for Afghanistan's Growth, Avialable:https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/publication/unlocking-, access date: ٢١/١١/٢٠٢٤
٢٠- Worldbank, ٢٠٢٤, Modern Agriculture is changing the Lives of Afghan Farmers, available at: https://www.worldbank.org/en/news/feature/٢٠١٨/٠٤/٢٤/modern-methods-in-horticulture-give-afghan-farmers-viable-livelihood-alternative , access date: ٢٥/١١/٢٠٢٤
٢١- CREDIT CARES. Small and Medium Enterprises: Importance, Challenges and More, available at: https://creditcares.in/small-and-medium-enterprises-importance-challenges-and-more/ , access Date: ١٥/١٢/٢٠٢٤

پوهنیار یحیی یعقوبي

# د شایعاتو په مخنیوي کې اطلاعاتو ته د لاسرسي نقش ارزونه

# Assessment of the Role of Access to Information in Preventing Rumors

***Assistant Professor Yahya Yaqubi***

**Abstract**

In the contemporary digital era—marked by rapidly advancing media technologies that facilitate the swift and extensive flow of information—the accelerated spread of rumors has become a major social, psychological, and political challenge for societies. This study evaluates the role of accurate, reliable, transparent, and timely access to information in preventing the spread of rumors, and demonstrates that information gaps serve as a fundamental driver behind the emergence and circulation of rumors. Employing a library and descriptive method, the research examines various dimensions of the issue through extensive review of credible scholarly sources.

Findings indicate that rumors typically spread rapidly when an issue holds public importance while official information is either unavailable or delayed. The ambiguity surrounding an issue and its public relevance

constitute two primary factors contributing to the generation and dissemination of rumors. The study further reveals that timely access to credible sources not only mitigates the spread of rumors but also strengthens public trust, enhances psychological stability, and improves individuals' ability to make informed decisions.

Moreover, improving media literacy, implementing mechanisms for refutation and warning, launching public awareness campaigns, adhering to principles of accurate and impartial journalism, and ensuring active coordination between media and governmental communication channels are identified as effective strategies for reducing the impact of rumors. The study also highlights the significant role of artificial intelligence technologies, social media regulation frameworks, and information policy enforcement in detecting and controlling rumor propagation.

Ultimately, the research concludes that the dissemination of timely, transparent, and factual information is fundamental to preventing rumors. Effective and strategic information management is essential for maintaining social stability and strengthening public confidence.

**Key words:**
Rumors, Information Access, Audience, Media, Impacts

**لنډیز**

په معاصر ډیجیټلي عصر کې، چې رسنیزې ټکنالوژۍ د اطلاعاتو د شریکولو بهیر چټک او پراخ کړی، د شایعاتو یا اوازو چټک خپرېدل د ټولنو لپاره یوه ستره ټولنیزه، رواني او سیاسي ننګونه ګرځېدلې ده. دغه څېړنه د شایعاتو په مخنیوي کې د دقیقو، باوري، شفافو او پر وخت اطلاعاتو د لاسرسي نقش

ارزوي او څرګندوي چې اطلاعاتي خلا/تشه د شایعاتو د رامنځته کېدو او پراخېدو اساسي محرک دی. څېړنه د کتابتوني او تشریحي–توصیفي میتود په کارولو سره ترسره شوې او د ډېرو معتبرو علمي سرچینو په مرسته د موضوع مختلف ابعاد څېړي.

پایلې ښیي چې شایعات معمولاً په هغو شرایطو کې په چټکتیا سره خپرېږي چې موضوع د خلکو لپاره مهمه وي، خو رسمي معلومات یا خو نه وي، یا په خپرولو کې ځنډ موجود وي. د موضوع ابهام او د هغې عامه اهمیت د اوازې د ټوکېدو دوه بنسټیز فکتورونه ګڼل کېږي. څېړنه څرګندوي چې معتبرو سرچینو ته د خلکو پر وخت لاسرسی نه یوازې د شایعاتو د خپرېدو مخه نیسي، بلکې د ټولنې عمومي باور، د خلکو رواني ثبات او د سم تصمیم نیولو وړتیا هم لوړوي.

همدارنګه، د رسنیز سواد لوړول، د ناسمو ادعاوو د رد او خبرداري میکانیزمونه، د عامه پوهاوي کمپاینونه، د رسنیو د دقیقې او بې‌طرفه خبرلیکنې اصول، او د رسنیزو او دولتي سرچینو فعاله همغږي د شایعاتو د کمولو مؤثرې لارې ګڼل کېږي. څېړنه څرګندوي چې د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوژۍ، ټولنیزو شبکو د مدیریت تګلارې، او د معلوماتي پالیسۍ پلي کول هم د شایعاتو په تشخیص او کنټرول کې اغېزناک رول لري.

په پایله کې، څېړنه څرګندوي چې د پر وخت، شفافو او دقیقو معلوماتو خپرېدل د شایعاتو د مخنیوي بنسټیز اصل دی، او د اطلاعاتو سم او مدبرانه مدیریت د ټولنیز ثبات او عامه باور د لوړولو لپاره حیاتي ارزښت لري.

**کلیدي کلمې**

شایعات، اطلاعاتو ته لاسرسی، مخاطبان، رسنۍ، اغېزې

**سریزه**

د ټولیزو اړیکو وسایل (Media of Mass Communication) لکه د ورځپاڼو، راډیو، ټلویزون او انلاین رسنیو ایجاد او پراختیا د انساني اړیکو په جوړولو او د

هغوی ترمنځ د افکارو، اندونو او اطلاعاتو تبادلې په برخه کې د پام وړ بدلون راوست. که څه هم دغه هره وسیله د خپل ایجاد او پرمختګ ځانګړې تدریجي بهیر لري، خو د ۲۰مې او په ځانګړي ډول ۲۱مې پېړۍ پر مهال د دې رسنیو د پوښښ له داېرې هیڅ کس او ټولنه بهر نه ګڼل کېږي. د اوسني عصر انسان له خپل چاپېریال او ټولنې څخه نیولې د نړۍ د ډېرو لرو سیمو او هېوادونو له انسانانو سره د ژوند په یوه نه یوه برخه کې لکه: مذهبي، نژادي، ژبني، کولتوري او داسې نورو اړیکو لرلو احساس کوي او د همدې احساس له مخې، د خپلې ورځنۍ بوختیا یو څو شیبې د رسنیو تعقیبولو ته بېلوي.

که له یوې خوا، د بشر د دې اطلاعاتي اړتیا د پوره کېدو لپاره د ارتباطاتو په اوسني عصر کې د پرمختللو اړیکتیایي وسایلو په مټ د اطلاعاتو شریکولو او تکثیرولو پروسه چټکه شوې، خو ورسره د شایعاتو/اوازو خپرولو ستونزه هم پر یوې جدي ننګونې بدله شوې ده. د ورځنیو مسایلو او پېښو په اړه ډېرې داسې اوازې خپرېږي، چې د کره اطلاعاتو تر رسېدلو پورې په ټولنه کې سردرګمي زېږولې وي او عمومي افکار یې مغشوش کړي وي؛ دا چاره بیا تر ډېره په هغو ټولنو کې ډېره محسوسېږي چې د اطلاع رسونې بهیر پکې سست او اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسی محدود وي.

شایعات چې معمولا  د ناسمو، نیمګړو معلوماتو او مبهمو سرچینو پر بنسټ رامنځته کېږي، پر عامه افکارو او د وګړو پر رواني خوندیتوب ناوړه اغېزې لرلی شي. له همدې امله، د دې ننګونې د کنټرول او مخنیوي لپاره د دقیق، کره او پر وخت اطلاعاتو خپرول او سمو اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسی یوه مهمه تګلاره ده. د شایعاتو کلمه اصلا عربي ریښه لري، چې د خپرېدو په معنا ده او په پښتو کې یې «اوازه یا ګونګوسې» هم بولي؛ یعنې هغه اطلاعات چې د نامعلومې او ناموثقې سرچینې لخوا له یوه کس څخه بل ته او یا د غېر رسمي شبکو له لارې انتقال او پراخېږي. یا شایعه عبارت له هغه خبر څخه دی چې

صحت او کره والی یې معلوم نه وي. له همدې امله ابهام، شک او د سرچینې نه څرګندتیا د شایعاتو مهمې ځانګړنې بللی شو (متولي، ۱۳۸۴).

شایعه چې د افواهاتو او سرچوک اوازو په نومونو هم یاد شوي، د سمعي (اورېدونکي) تبلیغ یوه مهمه وسیله ده چې هره ورځ له کوم لګښت پرته د اشخاصو، سازمانونو او سیاسي ګوندونو لخوا پر خپلو مخالفانو د برید، د واقعیتونو او حقایقو پټولو، تېر ایستلو او عامه افکارو ګمراه کولو په موخه کارول کېږي (هاله، ۱۳۷۱).

**د څېړنې اهمیت**

په اوسني عصر کې د ډیجیټلي رسنیزو پلټفارمونو پراختیا که له یوې خوا د اطلاع رسونې بهیر چټک او اغېزناک کړی، نو بلخوا د شایعاتو او جعلي خبرونو د تکثیر او پراخېدو زمینه هم برابره کړې ده. په فیسبوک، ټویټر، انسټاګرام، وټساپ او نورو خواله رسنیو کې د اشخاصو، ډلو ټپلو یا حتی نهادونو لخوا د مختلفو سیاسي، ټولنیز، کولتوري او نورو مسایلو او پېښو په اړه وخت ناوخته ګڼې داسې اوازې/شایعات خپرېږي، چې د ټولنې پر روان، سلوک او فکر ژور اغېز کوي. ډېری دا اوازې د ځانګړو سیاسي، تجارتي او ټولنیزو اهدافو لپاره هم وي، چې یو لوری په نښه کوي؛ دغه لوری ښایي یو شخص، ټولنه، نهاد او حتی حکومت وي. له همدې امله، د شایعاتو د دغه ژور او چټک اغېز په مخنیوي کې د دقیق او سمو اطلاعاتو شریکولو پر نقش پوهېدل او خبرېدل مهمه موضوع ده، ترڅو اړوند دولتي او نادولتي نهادونه له خلکو سره پر وخت او ژر اطلاعاتو شریکولو اهمیت ته متوجه شي.

**د څېړنې موخې**

د دې څېړنې اساسي موخه د شایعاتو په مخنیوي کې دقیقو اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسي نقش او اهمیت بیانول دي؛ ترڅو له یوې خوا خلک د مسایلو او پېښو اړوند د سمو اطلاعاتو په ترلاسه کولو سره، له شایعاتو اغېزمن نه شي او له بلې خوا، اطلاعاتي سرچینې (افراد، ټولنې، سازمانونه، حکومتي نهادونه

او داسې نور) په ټولنه کې د شایعاتو له خپرېدو مخکې، اطلاعاتي خلا/تشه ډکه کړي. دغه راز، په دې څېړنه کې ځینې فرعي موخې هم مشخص شوې دي:

ـ د عامه اعتماد په زیاتولو کې د اطلاع رسونې رسمي سرچینو نقش ارزول،

ـ د شایعاتو د چټک خپرېدو د لاملونو روښانول

ـ پر ټولنې د شایعاتو د منفي اغېزو کمولو په موخه د دقیق او پر وخت اطلاعاتو شریکولو برخه کې د مسؤولو نهادونو مسؤولیتونه په ګوته کول

## د څېړنې پوښتنې

ـ اطلاعاتو ته لاسرسی د شایعاتو په مخنیوي او کنټرول کې څه نقش لري؟

ـ د دقیق او پر وخت اطلاعاتو شریکولو برخه کې مسؤول نهادونه څه مسؤولیت لري؟

ـ شایعات په کومو حالتونو کې په چټکتیا سره خپرېږي؟

ـ د شایعاتو د مخنیوي او کنټرول عملي لارې چارې څه دي؟

## د څېړنې تګلاره

د دې مقالې د لیکلو لپاره له کتابتوني میتود څخه کار اخیستل شوی او تشریحي-توصیفي بڼه لري. مقاله د بېلابېلو پرلیکه (انلاین) او چاپ شویو معتبرو څېړنیزو مقالو او علمي اثارو د دقیقې مطالعې او ارزونې پر بنسټ لیکل شوې ده. د څېړنې په دغه میتود کې د موضوع اړوند معلومات/ډېټا په هراړخیز او دقیق ډول مطالعه او ارزول کېږي او هغه اړخونه یې چې د څېړنیزې موضوع او فرضیې د باوري کولو او پیاوړتیا لپاره مهم وي، د نقل قول په ډول راوړل کېږي، چې دلته هم ځای ځای د کارول شویو منابعو حوالې ورکړل شوې دي. په پیل کې ځینې کلیدي مفاهیم لکه شایعات، اطلاعات او اطلاع رسونه تعریف شوي او بیا تېرو ادبیاتو ته د کتنې په مرسته موندنې تحلیل او ترتیب شوې دي.

## تېرو لیکنو ته کتنه

تېرو څېړنو د شایعاتو، ناسمو اطلاعاتو او د دوی د ټولنیزو اغېزو په اړه پراخ بحث کړی دی. د Allort & Postman (۱۹٤۷) کلاسیک اثر د شایعاتو د رامنځته کېدو رواني لاملونه تشریح کوي او څرګندوي چې ابهام او اهمیت د شایعاتو د پیدا کېدو بنسټیز شرایط دي. دغه تیوریک چوکاټ وروسته ګڼو څېړونکو پیاوړی کړی دی. د کیپفري (۲۰۱۷) څېړنې شایعات د ټولنیزو اړیکو یوه پخوانۍ بڼه معرفي کوي او روښانه کوي چې شایعات ډېری وخت سیاسي او ټولنیزو موخو ته خدمت کوي.

په عصري رسنیز چاپېریال کې، Qazvinian et al. (۲۰۱۱)او Zhou et al. (۲۰۲۰) د ټولنیزو شبکو د ودې له امله د جعلي او ناتایید شویو معلوماتو د چټک خپرېدو د ستونزې اړخونه څېړلي او د شایعاتو د پېژندنې لپاره تخنیکي ماډلونه وړاندې کوي. همدارنګه، ځینې څېړنې لکه Akhtar et al. (۲۰۱۸)او Zubiaga et al. (۲۰۱٦) په ټویټر او نورو ټولنیزو پلیټفارمونو کې د شایعاتو د خپرېدو تعاملات تحلیل کړي او د کاروونکو د چلند مهم ابعاد په ګوته کړي دي.

دغه څېړنې یو لړ نیمګړتیاوې لري، لکه: د شایعاتو د مخنیوي په برخه کې د دقیقو، پر وخت او شفافو اطلاعاتو د لاسرسي د نقش په هراړخیز تحلیل کې کمزوري. همداراز، ډېری پخواني آثار د شایعاتو د پېژندنې، ډولونو یا د کاروونکو د چلند تحلیل ته تمرکز کوي، خو دا نه دي څېړل شوي چې د معتبرو اطلاعاتو فعال او سم مدیریت څنګه کولی شي د شایعاتو د ټوکېدو مخه د رامنځته کېدو له لومړیو پړاوونو څخه مخکې ونیسي.

همدارنګه، ځینې څېړنې یوازې تخنیکي حل لارې لکه د مصنوعي ځېرکتیا په وسیله تشخیصول یا (AI-based detection ) مطرح کوي، خو د رسمي سرچینو د مسؤولیت، د رسنیز سواد د کچې اغېزو، یا د عامه پوهاوي د رول په اړه هراړخیز بحث نه وړاندې کوي. د DiFonzo او Bordia (۲۰۰۷)،

څېړنه که څه هم د شايعاتو په سازماني چاپېريال کې د باور اهميت څرګندوي، خو د دولتي او ټولنيزو اطلاعاتي سيستمونو د پر وخت او شفاف اطلاع‌رسونې ميکانيزمونه بشپړ نه دي شنلي.

همدارنګه معاصرې څېړنې لکه: Wang et al (۲۰۲۱). ښيي چې باوري اطلاعات د جعلي خبرونو مخه نيسي، خو د دې پروسې د عملي ميکانيزمونو، پاليسيو او د عامه رسنيو د نقش په برخه کې لا هم څېړنيزه تشه موجوده ده.

له همدې امله، د تېرو ليکنو ناسم توازن -چې تر ډېره د شايعاتو د تشخيص پر تخنيکي يا رواني اړخ متمرکز دی- د دې اړتيا لا پياوړې کوي چې د شايعاتو په مخنيوي کې د دقيقو، باوري او پر وخت اطلاعاتو رېښتينی نقش په علمي ډول وڅېړل شي، څو دا څېړنيزه خلا ډکه او موضوع په هراړخيز ډول وشنل شي.

**د څېړنې ځانګړنې او نوښت**

په دې څېړنه کې د شايعاتو د مخنيوي په برخه کې د دقيقو، شفافو او پر وخت اطلاعاتو د لاسرسي رول په معاصر ډيجيټلي او ټولنيز رسنيز چاپېريال کې ارزول شوی دی. نوښت يې په دې کې دی چې د شايعاتو د خپرېدو رواني، ټولنيز او سياسي اغېزې د اطلاعاتو د موجوديت او د لاسرسي د کمښت له اړخه څېړي، چې په تېرو څېړنو کې په هراړخيزه توګه نه دي تحليل شوي. مقاله د کتابتوني او تشريحي–توصيفي ميتود په کارولو سره د علمي سرچينو پراخ تحليل وړاندې کوي او اطلاعاتي خلا او ابهام د شايعاتو د خپرېدو اصلي محرکات په ګوته کوي.

دې څېړنې د رسنيز سواد، عامه پوهاوي کمپاينونو، د رسنيو د دقيق خبرليکنې اصولو او د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوژۍ په کارولو سره د شايعاتو د کمولو عملي لارې چارې هم څرګندې کړې دي. نوښت په دې کې دی چې يوازې د شايعاتو تشخيص نه کوي، بلکې د ټولنې، رسنيو او حکومتي سرچينو

د مسؤولیتونو او همغږۍ له نظره د شایعاتو د مخنیوي جامع چوکاټ وړاندې کوي.

**موندنې**

دغه څېړنه د بېلابېلو چاپ شویو او انلاین علمي او څېړنیزو مقالو، اثارو او لیکنو د محتویاتو د مطالعې او تحلیل پر بنسټ ترسره شوې، او ثابتوي چې د رسنیزې ټکنالوژۍ او په ځانګړې توګه د خواله رسنیو په پراختیا سره د شایعاتو خپرول هم اسانه شوي دي. شایعات هغه ناسم یا تحریف شویو اطلاعاتو ته ویل کېږي چې د نامعلومو سرچینو لخوا د غېر رسمي چینلونو (له یوه شخص څخه بل ته او یا بې باوره ټولنیزو شبکو) له لارې خپرېږي او په چټکۍ سره پراخېږي.

شایعات کوم ځانګړی څه نه بیانوي، بلکې داسې موضوع یا مسله د خلکو پر ژبه راوړي چې عموم خلک ورباندې باور کولو ته حاضر وي.... په اکثر مواردو کې لیدل شوي چې شایعه د هغو پېښو په اړه پراخېږي چې ثابته شوې نه وي، خو له یوه کس نه بل ته انتقالېږي او د داسې موضوع په اړه وي چې خلکو ته جالبه او مهمه وي (لازار، ۱۳۸۰).

«شایعه» د پېښو اړوند شرحې، وړاندوینې او توصیف ته ویل کېږي چې اکثرا د ژورنالېستانو په ګډون، د ځینو مسوولو سرچینو لخوا په نارسمي او ناتایید شوي چوکاټ/قالب کې خپرېږي او د ډېرو خلکو لخوا په جدي توګه د منلو وړ ګرځي. د شایعې په مطالعه کې له دوه ډوله تصور سره مخ کېږو: لومړی دا چې، ځینې خلک یې فقط یو پیغام ګڼي چې له یوه شخص څخه بل ته انتقالېږي، په داسې بڼه چې لومړنی کس د موضوع یا پېښې عیني شاهد وي چې راپور/ګزارش یې له حقیقت سره مطابق وي، خو د لېږد په پروسه کې تحریف کېږي. دویم تصور دا چې، شایعه د ساختګي خبر ترویجول دي او هیڅ واقعیت نه لري. د اوازې/شایعاتو خپرولو موخه پر عامه

افکارو تاثیر غورځول او یا د سیاسي، نظامي، اقتصادي او ټولنیزو موخو ترلاسه کول دي (فولادي، ۱۳۸۷، پاڼه ۹۷).

ژودیت لازار پخپل اثر کې چې ایراني لیکوال مرتضی کتبي فارسي ژبې ته ژباړلی (کتبي، ۱۳۸۹)، شایعه له «واورینې کتلې» سره تشبیه کړې او وایي، هماغه راز چې د واورې کتلې د غره له پاسنۍ برخې څخه کښته خواته د حرکت په جریان کې غټېږي، نو دغه راز یوه شایعه هم کله چې له یوه شخص څخه بل ته انتقالېږي، په اړه یې دلایل او جدیت زیاتېږي.

شایعات معمولاً داسې یوه خبره تعریف کېږي چې د هغې ریښتینی ارزښت تایید کیدلای نه شي. اوازې کولای شي په خلکو کې ناسم معلومات (misinformation) یا هدفمن ناسم معلومات (disinformation) خپاره کړي (Qazvinian et al., ۲۰۱۱). شایعات یا اوازې، د ډلهییزو اړیکو یوه پخوانۍ بڼه ده، چې د عصري رسنیو له منځته راتګ سره سره دوام لري، او پر عامه افکارو د اغېز له لارې د مختلفو ټولنیزو موخو لپاره کارول کېږي؛ حتی هغه مهال چې ورځپاڼې، راډیو او ټلویزون لا نه وو ایجاد شوي، نو شایعات به په شفاهي ډول خوله په خوله خپرېدل او د شخصیت وژنې، بلواګانو او جګړو په موخه کارول کېدل (Kapferer, ۲۰۱۷). په اوس وخت کې، پرمختللي ارتباطي وسایل او ټولنیزې شبکې د اطلاعاتو په چټک خپراوي کې د پام وړ رول لوبوي؛ خو دا اسانتیا د شایعاتو خپرولو ستونزه هم رامنځته کړې ده. شایعات کولی شي چې د ټولنې پر روان او فردي او ټولنیز تصمیم نیولو او حتی ټولنیز امنیت ژور منفي تاثیرات ولري (Allport & Postman, ۱۹٤۷).

په اوسني عصر کې چې مختلف ډول انلاین پلټفارمونه یا ډیجټلي رسنۍ مخ په پراخېدو دي، او هر شخص کولی شي چې د اطلاعاتو او معلوماتو په رسولو کې ترې کار واخلي، نو په هره ټولنه کې د شایعاتو خپرېدو او پراخېدو ننګونه لا جدي شوې ده. د ټولنیزو رسنیو لخوا خپرېدونکې اوازې چې ممکن وروسته ناسمې هم ثابتې شي، وګړو او ان ټولې ټولنې ته زیان رسوونکې

پایلې ولري (Akhtar et al., ۲۰۱۸). په انلاین ټولنیزو رسنیو کې د ګنګوسو پېژندل خورا مهم دي، ځکه چې د دغه شبکو له لارې ګڼ معلومات په اسانۍ سره د ناموثقو سرچینو لخوا خپرېږي (Qazvinian et al., ۲۰۱۱).

شایعات په نسبي ډول د ژوند په ټولو برخو کې جریان لري، یوازې سیاست او اقتصاد پورې منحصر نه وي، بلکې ان کورني محفلونه، دوستانه مېلمستیاوې او داسې نور اړخونه هم رانغاړي.... ځکه چې نه یوازې د سیاسي فضا خړوالی او د اطلاع رسونې بهیر انسداد، بلکې فردي عقدې او کرکجن تمایلات هم د شایعاتو ټوکېدو او پراخېدو مهم عوامل ګڼل کېږي (متولی، ۱۳۸۴).

دقیق او کره اطلاعات، د یوه مهم او کلیدي ابزار په توګه د شایعاتو په کنټرول او مخنیوي کې مهم رول لوبوي. څېړنې ښیي چې، معتبرو اطلاعاتي سرچینو ته لاسرسی او د موضوعاتو روښوالی د شایعاتو له امله ټوکېدونکو اندېښنو ته ځواب وایي او حتی د ناسمو اطلاعاتو د تکثیر مخه ډپ کوي (DiFonzo & Bordia, ۲۰۰۷). سربېره پر دې، د خلکو ترمنځ د رسنیز سواد کچې لوړېدل او د کره او ناکره اطلاعاتو ترمنځ د توپیر پوهاوی هم، له شایعاتو سره د مقابلې لپاره اغېزناکه لاره ده (Metzger et al., ۲۰۱۰).

شایعات ممکن د بېلابېلو سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي، او حتی فردي موخو لپاره خپرېږي، خو که پر وخت یې مخنیوی ونشي، د هر ډول ټولنیزې بې ثباتۍ لامل ګرځېدلی شي. د دې څېړنې پر اساس ثابتېږي چې د شایعاتو د مخنیوي یو موثر او بنسټیز روش/طریقه د موثقو سرچینو لخوا د باوري رسنیو له لارې له خلکو سره د اطلاعاتو شریکول دي.

(Adhikary, ۲۰۰٦) د اطلاعاتو د اهمیت په اړه وایي، «اطلاعات قدرت/ځواک دی Information is power. کله چې خلک له ورځنیو مسایلو، پېښو او جریانونو څخه سم او دقیق اطلاعات ولري، د خپل ورځني ژوند او

فعالیتونو په اړه درست او معقول تصمیم نیولی شي، ښه قضاوت کولی شي، پوهه ترلاسه کولی شي او د ښه او بد، سم او ناسم ترمنځ توپیر کولی شي».

د رسنیو یوه اساسي دنده مخاطبانو ته د مختلفو سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، علمي، هنري... مسایلو په اړه پر وخت د کره او دقیق اطلاعاتو رسول دي، چې باید له باوري (رسمي او نارسمي) سرچینو څخه یې ترلاسه کړي او د اطلاعاتي ژانرونو په چوکاټ کې په درست، عام فهمه او بې پرې ډول له خلکو سره شریک کړي.

په اوسني عصر کې د ټولنیزو شبکو په پراختیا او د خلکو اسان لاسرسي، د کره اطلاعاتو پر ځای د شایعاتو خپرېدو اندېښنه ډېره کړې ده (Zhou, Zafarani, & Liu, ۲۰۲۰). ډېر کله لیدل کېږي چې د ځینو مسایلو یا پېښو اړوند د پر وخت اطلاعاتو نه رسېدو له امله ناسم اطلاعات او شایعات خپرېږي، چې په ټولنه کې د ګڼو ټولنیزو، سیاسي... ګډوډیو او د عامه افکارو مغشوشېدو لامل ګرځي؛ فردي او ټولنیزې ناکرارۍ او حتی کله کله لوی لوی بحرانونه رامنځته کوي.

«ټولنیزې رسنۍ هغه اوازې چې وروسته یې دروغ ثابتېږي، هم افرادو او هم ټولنې ته منفي زیانونه رسولی شي. د بېلګې په توګه، په ۲۰۱۳ کال کې یوه اوازه خپره شوه چې ویل کېده سپینه ماڼۍ باندې برید شوی او بارک اوباما ټپي شوی دی. دغه اوازه د اې پي ادارې له ټویټر حساب څخه د هیکرانو له خوا خپره شوې وه، چې په متحده ایالتونو کې د ونډو بازار کې بې ثباتي رامنځته کړه« (Zubiaga et al., ۲۰۱٦).

له همدې امله، د شایعاتو مخنیوی او د پراخېدو پر وړاندې یې اقدام د رسنیو او رسمي موثقو سرچینو مسؤولیت دی، ترڅو خلک له فکري او رواني ناکرارۍ او فردي او ټولنیزو بحرانونو او ګډوډیو څخه خوندي شي.

د څېړنو پر اساس، ثابته شوې چې د شایعاتو د خپرېدو او پراخېدو یو اساسي لامل اطلاعاتي خلا ده؛ یعنی په هر ځای کې چې خلک رسنیو ته

لاسرسی ونلري او يا رسمي او باوري سرچينې رسنيو ته د اطلاعاتو په ورکولو کې څنډ او سستي وکړي، نو ځای يې شايعات ډکوي. له همدې امله مسؤولې سرچينې بايد د سم او کره اطلاعاتو په شريکولو کې له رسنيو سره نږدې اړيکې وپالي، او هغوی وخت په وخت له اطلاعاتي پلوه تغذيه کړي.

د شايعاتو د خپرېدو امکانات معمولاً د هغو موضوعاتو په اړه ډېر وي چې خلکو ته ډېر مهم وي او په اړه يې د رسمي او موثقو سرچينو لخوا اطلاع رسونه کې څنډ رامنځته کېږي (Allport & Postman, ۱۹٤۷). له دې تحليل څخه ثرگندېږي چې د شايعاتو مخنيوي لپاره د مسؤولو بنسټونو لخوا بايد له خلکو سره پر وخت معلومات شريک شي؛ په ځانگړي ډول د هغو موضوعاتو په تړاو چې ټولنې ته ډېر اهميت لري او د هغوی پر ژوند مستقيم يا غېر مستقيم اغېز کوي.

په افغانستان کې خلک له عيني واقعيتونو او ستونزو ناخبر دي، د سيمې او نړۍ استخباراتي کړيو او ادارو له همدې تشې څخه په گټه اخيستنې تل هڅه کړې چې افغانان راوپاروي او د خپلو شومو موخو لپاره يې وکاروي.... ستونزه هغه وخت نوره هم ډېرېږي چې کله چارواکي يوه موضوع له ولس څخه پټه وساتي او هغه موضوع استخباراتي کړيو ته په لاس ورشي، هغوی يې په داسې بڼه د خلکو ذهنونو ته ورسوي چې له يوې خوا د خلکو باور پر حکومت کم شي او له بلې خوا يادې کړۍ خپله اجنډا خلکو ته تبليغ کړي، په دغه حالت کې خلک داسې لار ورکې شي چې وروسته د رښتيا او دروغو توپير نه شي کولی (کړوخېل، ۱۳۹٦، پاڼه ۱۰۹).

ژورنالېزم د عامه گټو له خونديتوب سره تړلی مسلک دی او ژورنالېست بايد د عامه گټو او اړتياوو پوره کولو لپاره فعاليت وکړي؛ له همدې امله د حقايقو بيانول د ژورنالېست لپاره يو اساسي اصل دی چې بايد ورته ژمن وي (فولادي، ۱۳۸۷).

دقت، توازن او انصاف د ننني خبرلیکنې اصول ګڼل کېږي؛ له دقت څخه موخه دا ده چې خبریال باید د کره حقایقو موندلو او اثبات لپاره د باوري سرچینو پلټنې ټولې لارې چارې وکاروي؛ د اسنادو، شمېرو او فاکټونو د صحت په اړه پوره ډاډ ترلاسه کړي، نیمګړي/ناقص خبرونه تشخیص کړي، پر یوې سرچینې تکیه ونکړي بلکې د سرچینو د شمېر زیاتوالی او جامعیت د خبر صحت زیاتوي (حیدري، ۱۳۹۰).

د رسنۍ لپاره د مخاطب باور/اعتماد ترلاسه کول یوه اساسي پانګه ده، ځکه هر څومره چې پر رسنۍ د خلکو د باور کچه لوړېږي، نو هومره ورسره د رسنۍ حیثیت او شخصیت هم ښه کېږي. سربېره پر دې، څومره چې د یوې رسنۍ ټولنیز باور زیاتېږي نو همدومره یې د مخاطبانو په شمېر کې زیاتوالی راځي او د مخاطب په ډېرېدلو سره د رسنۍ د عایداتي سرچینو او بازارموندنې برخه هم ښه کېږي.

کله چې رسنۍ ناکره، یو طرفه خبر، افواهات، تورونه او دا ډول نور غېرمسلکي راپورونه خپاره کړي، پر رسنیو د خلکو باور او اعتماد کمېږي.... په ۲۰۱۵ کال په یوې نظرپوښتنې کې معلومه شوې چې له تاریخي پلوه پر رسنیو او مطبوعاتو د امریکایانو باور او اعتماد تر بل هر وخت کم شوی، د دې لوی دلیلونه د رسنیو او مطبوعاتو له لوري د غلطو، یو طرفه معلوماتو او اطلاعاتو خپرول ښودل شوي دي (هاند، ۱۳۹٦). له همدې امله، رسنۍ له یوې خوا د خپل ټولنیز باور لوړولو او له بلې خوا ټولنیز مسوولیت ترسره کولو لپاره د اطلاعاتو راټولولو پر مهال باید له ډېر دقت څخه کار واخلي، ترڅو د ناسمو او یا اوازو پر بنسټ اطلاعات خپاره نه کړي. دا ننګونه په اوس عصر کې ټولنیزو رسنیو ته د هر چا لاسرسي او د مصنوعي ځېرکتیا ټکنالوژۍ په وسیله، په اطلاعاتو کې د تحریف او جعل امکاناتو په پراخېدو سره ډېره شوې ده.

**د شايعاتو د مخنيوي عملي لارې چارې**

د اطلاعاتو له لارې د اوازو د خپرېدو مخنيوي لپاره څو موثرې لارې چارې پېژندل شوې، چې په لاندې ډول دي:

يوه اغېزناکه طريقه د رد او خبرداري ليبلونو کارول دي. څېړنو ښودلې، خلکو ته هغه معلومات ورکول چې اوازې ردوي يا د ناتاييد شويو ادعاوو د شتون په اړه خبرداری ورکوي، کولی شي چې د اوازو خپرېدل کم کړي. د بېلګې په توګه، يوه څېړنه چې په ټولنيزو رسنيو کې د رد او خبرداري ليبلونو اغيزمنتوب ډاګيزوي، موندلې چې دغه تګلاره کولی شي د ناسمو معلوماتو په شريکولو کې د پام وړ کمښت راولي (Ozturk et al., ۲۰۱۵).

اطلاعاتي يا رسنيز سواد، چې د معلوماتو او اطلاعاتو د انتقادي ارزونې او کارولو وړتيا ته اشاره کوي، د اوازو د خپريدو په مخنيوي کې بل مهم روش دی. څېړنو ښودلې، هغه کسان چې په لوړه کچه اطلاعاتي يا رسنيز سواد لري، ناسم اطلاعات او ادعاوې په ښه ډول درک کولی او پېژندلی شي. د بېلګې په توګه، په اندونيزيا کې ترسره شوې څېړنې وموندله، د ټولنيزو رسنيو هغه کاروونکي چې لوړ رسنيز سواد لري، د هغوی لخوا د جعلي خبرونو او شايعاتو شريکولو احتمال لږ وو (Kurniasih et al., ۲۰۲٤).

د حقيقي اطلاعاتو خپرول د ناسمو د خپرېدو د مخنيوي لپاره بله اغېزناکه ستراتيژي ښودل شوې ده. يوه څېړنه چې د COVID-۱۹ وبا په وخت کې، د حقيقي او ناسمو معلوماتو د خپرېدو ترمنځ اړيکې تحليلوي، ښيي چې د حقيقي معلوماتو خپرېدل د وخت په تېرېدو سره د غلط معلوماتو د کمښت لامل شوی (Wang et al., ۲۰۲۱).

د رسنيز سواد زده کړه -چې موخه يې د خلکو لخوا د باوري سرچينو پېژندل او د رسنيزې منځپانګې انتقادي ارزونې وړتيا لوړول دي- هم د اوازو خپرېدو په مخنيوي کې اغېزناک ثابته شوې. د رسنيز سواد زده کړې په سيستماتيکه بياکتنه کې وموندل شوه چې، دا پروګرامونه کولی شي د افرادو

د ناسمو معلوماتو پېژندلو وړتيا لوړه کړي او د ناسمو معلوماتو شريکولو لپاره د دوی اراده کمه کړي (Kiyak et al., ۲۰۲٤).

په مختلفو پليټ فارمونو او رسنيو کې دوامداره پيغام رسونه د اوازو د خپرېدو مخنيوي لپاره بله مؤثره ستراتيژي ده. يوه څېړنه چې د ناسمو معلوماتو پر خپرېدو باندې د متضادو پيغامونو اغېزې څرګندوي، موندلې چې دوامداره پيغام رسونه کولی شي مغشوشيت کم کړي او د معلوماتو اعتبار لوړ کړي (Tasnim et al., ۲۰۲۰).

د عامه پوهاوي کمپاينونه د اوازو د خپرېدو په مخنيوي کې يوه اغېزناکه تګلاره پېژندل شوې ده. يوه څېړنه چې د ناسمو معلوماتو پر خپرېدو باندې د عامه پوهاوي کمپاينونو اغېزې معلوموي، موندلې چې دغه ډول کمپاينونه کولی شي، له ناسمو معلوماتو سره تړلو خطرونو په اړه د خلکو پوهاوی لوړ کړي او د سمو معلوماتو مسؤوليت شريکولو ته يې وهڅوي (Tasnim et al., ۲۰۲۰).

د اطلاعاتو له لارې د اوازو د خپرېدو مخنيوي لپاره د ټولنې ښکېلتيا يو بل مهم اړخ دی. يوه څېړنه چې د ناسمو معلوماتو په مديريت کې د ټولنې د ښکېلتيا رول څرګندوي، موندلې چې د حقيقي معلوماتو په پراختيا او خپرولو کې د ځايي ټولنو ښکېلتيا کولی شي، د غلت معلوماتو مخنيوي هڅو اغېزمنتوب لوړ کړي (Ziapour et al., ۲۰۲٤).

حقوقي يا قانوني اقدامات، لکه له ناسمو معلوماتو او اطلاعاتو سره د مبارزې لپاره د قوانينو او پاليسيو پلي کول، د اوازو د خپرېدو مخنيوي لپاره د اغېزناکو ستراتيژيو په توګه وړانديز شوي دي. يوه څېړنه چې د ناسمو معلوماتو پر خپرېدو باندې د قانوني اصولو اغېزې ښيي، موندلې چې دا اقدامات کولی شي د ناسمو اطلاعاتو په خپرولو کې د رسنيزو پليټ فارمونو او اشخاصو مسؤوليت لوړ کړي(Chaudhuri et al., ۲۰۲٤) .

د معلوماتو له لارې د اوازو د خپرېدو مخنیوي لپاره نړیواله همکاري هم اړینه ده. د ناسمو معلوماتو مدیریت کې د نړیوالې همکارۍ رول ارزولو یوې څېړنې وموندله چې د هېوادونو او سازمانونو ترمنځ همکاري کولی شي د شایعاتو مخنیوي هڅو اغېزمنتوب لوړ کړي(Ziapour et al., ۲۰۲٤).

دغه راز، د اطلاعاتو خپراوي لپاره د رسنیو او اطلاعاتي سرچینو (رسمي او نارسمي بنسټونو) ترمنځ د ګډ پلټفارمونو ایجادول او همغږي، د باوري او کره اطلاعاتو په رسولو کې مهم رول لري (Tasnim et all. ۲۰۲۰). همداراز، انټرنېټ په واقعیت کې دوه ګونی رول لري، که له یوې خوا د اوازو په خپرولو کې اسانتیا برابروي، له بلې خوا داسې ابزار/اپلیکشنونه هم لري چې د شایعاتو او کره اطلاعاتو په تشخیص او نشرولو کې هم کارنده نقش لوبوي (Jiyuan, ۲۰۲۰).

مطالعات ښيي چې پر وخت مداخلې کولی شي د اوازو خپرولو موده او اغېز د پام وړ کم کړي (Liu et al., ۲۰۲۳). که څه هم یادې تګلارې د اوازو په مخنیوي کې د اطلاعاتو اهمیت په ډاګه کوي، خو باید وپوهېږو چې د اوازو خپرول هرکله تصادفي او غېر عمدي نه وي، بلکې ډېری وخت په قصدي او هدفمند ډول د حقیقي یا حقوقي شخصیتونو لخوا د ځانګړو اهدافو په نیت خپرېږي. له همدې امله، له دې ننګونې سره د مقابلې لپاره خلکو ته پر وخت اطلاع رسونه، د رسنیز سواد کچې لوړول او انتقادي فکر روزل ځانګړی اهمیت لري.

که څه هم د شایعاتو یا اوازو خپرول کومه نوې ټولنیزه ستونزه نه ده، بلکې د عصري رسنیزې او ارتباطي ټکنالوژۍ له پرمختګ او پراختیا وړاندې هم ځینو افرادو او نهادونو د خپلو ځانګړو سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، مذهبي... موخو لپاره په خلکو کې د ویرې اچولو، تحریکولو او ترویج په موخه له دې روش څخه کار اخیسته، خو په ۲۱مه پېړۍ کې د رسنیزې ټکنالوژۍ په چټک پرمختګ او ډیجیټلي عصر په رامنځته کېدا سره دا چاره لا اسانه او عامه شوه.

له همدې امله، په اوس وخت کې د شایعاتو مخنیوی او دفع کول هم تر بل هر وخته مهم ګڼل کېږي. په دې برخه کې د معتبرو نهادونو او اشخاصو لخوا خلکو ته پر وخت او کره اطلاعاتو رسول یوه کارنده تګلاره ده چې باید اهمیت یې روښانه شي. له شایعاتو/اوازو سره د مقابلې په دې بهیر کې رسنۍ هم ځانګړی رول لري، ترڅو د خپل ټولنیز مسوولیت له مخې، له یوې خوا مخاطبان له ټولنیزې ګډوډۍ او ذهني او رواني ناکرارۍ څخه وژغوري او له بلې خوا، په ټولنه کې د خپل اعتبار ګراف لوړ کړي.

**پایله**

د علمي مطالعاتو او معتبرو خبرونو پر بنسټ، دقیق، شفاف او پر وخت اطلاع رسونه او اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسی د شایعاتو په مخنیوي کې کلیدي نقش لري. څېړنې ښیي چې د معتبرو منابعو لخوا له خلکو سره په وخت د اطلاعاتو شریکول، کولی شي چې د ناسمو او ناتایید شویو اطلاعاتو د خپرېدو مخه ونیسي او د عامه پوهاوي او باور لامل وګرځي(Wang et al., ۲۰۲۱).

دغه راز، په ټولنه کې د رسنیز سواد او انتقادي تفکر مهارتونو پیاوړتیا، له شایعاتو سره د مقابلې او مخنیوي اغېزناکه تګلاره ده، چې له خلکو سره د باوري او موثقو خبري سرچینو په پېژندنه کې مرسته کوي، ترڅو د ناسمو اطلاعاتو او شایعاتو له اغېزو څخه ځان خوندي وساتي (OECD, ۲۰۲۳).

څېړنو ښودلې چې د شایعاتو په مخنیوي او پر خلکو د اغېزو خوندیتوب بهیر کې خبریالان او رسنۍ د پام وړ نقش لري؛ هغوی باید د هر خبر تر خپرولو مخکې د سرچینو صحت او باوري والی په خورا دقت سره وارزوي، څو د ناسمو اطلاعاتو د خپرېدو مخه ونیول شي. د ناسمو اطلاعاتو چټک او دقیق سمول، په داسې وخت کې چې یو ځل خپاره شوي وي، کولی شي چې د شایعاتو د لا پراخېدو مخنیوی وکړي (RTDNA, ۲۰۲۰). سربېره پر دې، مصنوعي ځېرکتیا هم د جعلي خبرونو او شایعاتو په پېژندنه او کنټرول کې

کارنده وسیله ده؛ خو دغه ټکنالوژي له عامه پوهاوي او مدون سیاستونو پرته، کافي نه دي (Brookings Institution, ۲۰۲۲).

بالاخره، داسې نتیجه ترلاسه کولی شو چې، د رسنیز سواد کچې لوړولو ترڅنګ د اطلاعاتو فعالانه او هوشمندانه مدیریت، د شایعاتو د نه پراختیا او مخنیوي او ټولنیز ثبات ساتلو اساسي لارې چارې دي، او له دې پرته شایعات په چټکتیا سره پراخېدلی او ګڼ منفي عواقب لرلی شي.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې د موندنو پر اساس، مسوول حکومتي او غېر حکومتي نهادونه دې له مختلفو رسنیزو شبکو څخه په استفادې سره، د خپلو اړوندو مسایلو په اړه پر وخت اطلاع رسونه وکړي؛ ترڅو له معتبرو سرچینو څخه د دقیقې اطلاع رسونې له لارې د اوازو مخه ونیول شي.

همداراز، رسنۍ دې په ټولنه کې د ځانګړي باور په لرلو سره هڅه وکړي چې د یوې موضوع اړوند شایعاتو او ناسمو معلوماتو تر خپرېدو مخکې، خلکو ته دقیق اطلاعات وړاندې کړي.

**مآخذونه**

۱ـ حیدري، ذبیح الله. (۱۳۹۰)، کاربرد ژانرهای اطلاعی در رادیو. کابل: انتشارات عازم

۲ـ متولی، کاظم. (۱۳۸۴)، افکار عمومی و شیوه های اقناع. تهران: چاپخانه گلشن.

۳ـ لازار، ژودیت. (۱۳۸۰)، افکار عمومی. مترجم: مرتضی، کتبی. تهران: نشر نی

۴ـ کړوخېل، دانش. (۱۳۹٦)، اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې. کابل: افغانستان ټایمز مطبعه

۵ ـ فولادي، محمد. (۱۳۸۷). اخلاق روزنامه نگاری. تهران: انتشارات موسسه اموزشی و پژوهشی امام خمینی

٦ـ هاله، حبیب الرحمن. (۱۳۷۱)، افکار عامه و تبلیغات. کابل: تاپ پرنترز.

۷ـ هاند، محمد جعفر. (۱۳۹٦). زېړ ژورنالېزم د افغانستان په رسنیو کې. جلالکوټ، ختیځ خپرندویه ټولنه

٨ـ Akhtar, M. S., Ekbal, A., Narayan, S., & Singh, V. (٢٠١٨). No, that never happened!! Investigating rumors on Twitter. IEEE Intelligent Systems, ٣٣(٥), ٨–١٥. https://doi.org/١٠,١١٠٩/MIS.٢٠١٨,٢٨٧٧٢٧٩

٩ ـ Allport, G. W., & Postman, L. (١٩٤٧). The psychology of rumor. Henry Holt and Company. https://archive.org/details/psychology_of_rumor

١٠ ـ Chaudhuri, N., Gupta, G., Bagherzadeh, M., Daim, T., & Yalcin, H. (٢٠٢٤). Misinformation on social platforms: A review and research agenda. Technological Forecasting and Social Change, ١٨٩, Article ١٢٢٢٣٥. https://doi.org/١٠,١٠١٦/j.techfore.٢٠٢٤,١٢٢٢٣٥

١١ ـ DiFonzo, N., & Bordia, P. (٢٠٠٧). Rumor psychology: Social and organizational approaches. American Psychological Association

١٢ـ Jiyuan, H. (٢٠٢٠). Analyzing the causes of rumors in the context of public emergencies: A literature review. In Proceedings of the ٢٠٢٠ ٤th International Seminar on Education, Management and Social Sciences (ISEMSS ٢٠٢٠) (pp. ٩٨–١٠١). Atlantis Press. https://doi.org/١٠,٢٩٩١/assehr.k.٢٠٠٨٢٦,٠٢٠

١٣ ـ Kapferer, J.-N. (٢٠١٧). Rumors: Uses, interpretations and images (١st ed.). Routledge

١۴ ـ Kurniasih, E., Damayani, N. A., & Zubair, F. (٢٠٢٤). Media literacy, information literacy, and novice voters combating online political misinformation. Journal of Komunikasi dan Pendidikan. Advance online publication. https://jurnal.unpad.ac.id/jkip/article/view/٥٣٨٤٥

١۵ ـ Kiyak, S., Mertens, S., De Coninck, D., & d'Haenens, L. (٢٠٢٤). Polarization and networked framing on social media: The Syrian and Ukrainian refugee crises on X/Twitter. Weizenbaum Institute. https://www.weizenbaum-institut.de/news/detail/polarization-and-networked-framing-on-social-media

١٦ ـ Liu, B. F., & Zhang, X. (٢٠٢١). Social media dependency and rumor credibility: The moderating role of information-seeking behavior. Computers in Human Behavior, ١١٥, ١٠٦٦١٥. https://doi.org/١٠,١٠١٦/j.chb.٢٠٢٠,١٠٦٦١٥

١٧ ـ Metzger, M. J., Flanagin, A. J., & Medders, R. B. (٢٠١٠). Social and heuristic approaches to credibility evaluation online. Journal of Communication, ٦٠(٣), ٤١٣–٤٣٩. https://doi.org/١٠,١١١١/j.١٤٦٠-٢٤٦٦,٢٠١٠,٠١٤٨٨.x

١٨ ـ OECD. (٢٠٢٣). Disinformation and misinformation. Organisation for Economic Co-operation and Development. https://www.oecd.org/en/topics/disinformation-and-misinformation.html

١٩ـ Ozturk, P., Li, H., & Sakamoto, Y. (٢٠١٥). Combating rumor spread on social media: The effectiveness of refutation and

warning. SSRN. https://papers.ssrn.com/sol٣/papers.cfm?abstract_id=٢٥٦٤٢٤٩

٢٠ ـ Qazvinian, V., Rosengren, E., Radev, D. R., & Mei, Q. (٢٠١١). Rumor has it: Identifying misinformation in microblogs. In Proceedings of the ٢٠١١ Conference on Empirical Methods in Natural Language Processing (pp. ١٥٨٩–١٥٩٩). Association for Computational Linguistics. https://aclanthology.org/D١١-١١٤٧

٢١ ـ RTDNA. (٢٠٢٠). Preventing the spread of misinformation & disinformation. Radio Television Digital News Association. https://www.rtdna.org/preventing-the-spread-of-misinformation-and-disinformation

٢٢ ـ Sanchez, G. R., & Middlemass, K. (٢٠٢٢, July ٢٦). Misinformation is eroding the public's confidence in democracy. Brookings. https://www.brookings.edu/articles/misinformation-is-eroding-the-publics-confidence-in-democracy/

٢٣ ـ Tasnim, S., Hossain, M. M., & Mazumder, H. (٢٠٢٠). Impact of rumors and misinformation on COVID-١٩ in social media. Journal of Preventive Medicine and Public Health, ٥٣(٣), ١٧١–١٧٤. https://doi.org/١٠,٣٩٦١/jpmph.٢٠,٠٩٤

٢۴ ـ Wang, Y., Gao, S., & Gao, W. (٢٠٢١). Can predominant credible information suppress misinformation in crises? Empirical studies of tweets related to prevention measures during COVID-١٩. Journal of Urban Planning and Development. Advance online publication. https://doi.org/١٠,١٠٦١/(ASCE)UP.١٩٤٣-٥٤٤٤,٠٠٠٠٧١٠

٢٥ ـ Ziapour, A., Malekzadeh, R., Darabi, F., Yıldırım, M., Montazeri, N., Kianipour, N., & Nejhaddadgar, N. (٢٠٢٤). The role of social media literacy in infodemic management: A systematic review. Frontiers in Digital Health, ٦, Article ١٢٧٧٤٩٩. https://doi.org/١٠,٣٣٨٩/fdgth.٢٠٢٤,١٢٧٧٤٩٩

٢٦ ـ Zhou, X., Zafarani, R., & Liu, H. (٢٠٢٠). A survey of fake news: Fundamental theories, detection methods, and opportunities. ACM Computing Surveys, ٥٣(٥), Article ١٠٣. https://doi.org/١٠,١١٤٥/٣٣٩٥٠٤٦

٢٧ ـ Zubiaga, A., Liakata, M., Procter, R., Wong Sak Hoi, G., & Tolmie, P. (٢٠١٦). Analysing how people orient to and spread rumours in social media by looking at conversational threads. PLoS ONE, ١١(٣), e٠١٥٠٩٨٩. https://doi.org/١٠,١٣٧١/journal.pone.٠١٥٠٩٨٩

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Abdul Baqi Shahab

**AS. Editor:** Abdul Baqi Shahab

**Editorial board:**

Senior research fellow Shir Ali Tazri

Senior research fellow Abdul Jabbar Abid

Researcher Fellow Muhammad Dawood Nazim

Associate professor Gholam Nabi Hanafi

Assistant professor Shirhasan Kamalzai

**Composed & Designed By:**

Abdul Baqi Shahab

**Annual Subscription:**

Price of each issue in Kabul: ۳۲۰ AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: ۷۰ AF.
- For the disciples and students of schools: ٤۰ AF.
- For other Departments and Offices: ۸۰ AF.